افغانستان

ټولو ته یو

# درس او ازموینت

لیکونکی اعظم

افغانستان

# ټولو ته یو

# درس او ازمویښت

لیکونکی: اعظم

حق د طبع مؤلف ته محفوظ دی

د چاپ شمېر - - - ۱۰۰۰ ټوکه

نیټه - - - - مارچ ۱۹۸۲

بسم الله الرحمن الرحیم

# سوابق

افغانستان د تاریخ په اوږدوکی به یو وخت ټخپله ددي منطقی یولوي طاقت ووچی د شا وخوا پرڅیرو پرا خوځکو به ئی حکم چلاوه خوبل وخت به بیا دومره کمزوري وچی دلو یو قوتونو تر سختو حملو لاندي به ئي ساه په تکلیف ایستله . ځینی وختونه به نورو قومو دده تر مستقیمی اداري لاندي او یاد نفوذ په ساحه کی ژواند کاوه او ځینی وختونه به افغانستان پخپله د نورو د نفوذ په ساحه کی لاس و پښی وهلی . په هر صورت افغانستان د خپل جغرافیاوي او سترا تژیکی موقعیت له کبله همیش د لری د مختلفو طاقتونو د توجه وړ ځای پاته شویدی .

## افغانستان د نورو تر تسلط لاندی

سیروس یا کو روش د هخا منشی کورنی لوي پا چا د فارس څخه پر افغانستان بالدي په ۵٤۰ ق م کی حمله وکړه. افغانان شپږ کاله مسلسل ور سره وجنگیدل خو مغلوب شول. څه وخت وروسته بیا ورته را پورته شول او سخت جنگونه ئی ور سره وکړل څو با الاخره په ۵۲۹ ق م کی کو روش په یوه سخت جنگ کی د افغانانو له لاسه مړ شو .

یونانی سکندر غوښتل چی هندوستان و نیسی د ده د تیریدو لوازینی لار افغانستان وو نو موږي په ۳۳۱ ق م کی پر افغانستان حمله وکړه . دي پدي ملک کی دوه نیم کاله په جنگ کی مصروف پاته شو او د دومره مقاومت سره مخا مخ شو چی تصور ئی هم پخوا چیري نه کاوه . مور ئی ده ته ولیکل چی پدا سی واړه هیواد کی دده د پاتی کیدو دلیل څه دي . سکندر خپلی مورته ولیکل چی د یوه داسی جنګی او دلاوره قوم سره مخامخ یم چی چیري پخوا می داسی قوم او جنگ نه وولیدلی . روایت دي چی ده څو افغانان خپلی مور ته وا ستول چی دا پخپله هغوي و وینی او و پوهیږي چی دده ددي دومره ځنډ علت په افغانستان کی څه وو . یونانی مؤرخین نوشته کوي چی افغانان قوي ، تیز جنګه او د چټکو اسانو سوار کاره دي . که څه هم سکندر افغانستان و نیو او هند ته و رسید خو په افغانستان کی ئی خپله لار د همیش اپاره خلاصه و نه ساتلی شواي . بالاخره نا امیده سو . ددي موضوع پر سر دده او د جنرا لانو تر منځ بی اتفاق او خفګان را ولاړ شو نو مجبور شو بیر ته یونان ته و ګرځی او د غرب خوا ته متوجه سی خو په لار کی نا جوړه او په بابل کی مړشو .

سا سانیا نو په ۲۲۶ ق م کی په فارس کی د ارد شیر با بکان پواسطه یو قوي سلطنت منځ ته را وړ. سا سانیا نو په افغانستان بانلدي حمله وکړه او څه ځایونه ئی ځنی و نیول خوکیداریانو (کوچنی کوشانیانو) دوهم سا سانی شاهپور ته سخته ما ته ورکړه او افغانستان ئی بیر ته ازا د کړ .

عربوهم په افغانستان کي سختي ورځي لیدلی دي . د حضرت

عثمان (رض) په وخت کی عبدالله بن عامر د خراسان والی وو . هغه په ۲۹ھ (۶۵۱م) کی د مجاشع بن مسعود سلمی په مشري يولښکر سيستان ته واستاوه خوسا ته ئی و خوړه ، حضرت عثمان (رض) چی د مسلمانانو له ماتی څخه خبر شو نو ربيع بن زياد حارثی ئی د يو لښکر په مشري د افغانستان د نيو لو لپاره را واليږه . سخت جنګ و نښت چی په نتيجه کی ، يستان د عربو لخو و نيول شو . د وه نيم کاله عرب هملته په سيستان کسی پاته سول او نور پر مختګ ئی و نکړ . تر تياري نيو لو ورو سته ربيع پر بست حمله وکړه . د بست خلکو مقاو مت وکړ او ربيع ئی شاته و تمباوه . حضرت عثمان (رض) دا وار عبد الرحمن بن سمره د يو منظم لښکر سره افغانستان ته را و استاوه . نوموړي غربی افغانستان تر دا ور (او سنی زمينداور) پوري و نيوبيا د کابل پر خوائی حرکت وکړ او هغه ئی هم فتح کړ . وروسته ئی د کابل او ملتان ترمنځ تولی سيمی و نيولی خو د افغانستان ځينی سيمی تر تقريباً ۲۵۰ھ پوری د عربوله کنترول څخه د باندی پا ته سوی .

تموچن چی په چنګيز خان سره مشهور ؤ پر افغانستان په ۱۲۲۰ م کی حمله وکړه او دا ملک ئی و نيو . تا تار تيمورچی په ګوډ تيمور سره معروف ؤ غوښتل هندوستان و نيسی . دي مجبور ؤ چی د افغانستان له لاري هغه ته ځان ور سوي نو ځکه ئی په ۱۳۹۸م کی پر افغانستان حمله وکړه . دي په افغانستان کی د دومره مقاومت سره مخامخ شو چی په خپله لو يه امپرا طوري کی چی د پيکنګ څخه تر ترکيی او د ماسکو څخه تر دهلی پوري وه چيري هم د داسی مقاومت سره نه و ومخا مخ شوي . ده د افغانانو سره په يوه سخت جنګ کی

چې د هلمند په سیمه کې پیښې شو خپله پښه له لاسه ورکړه او له دغه ځایه په گوډ تیمور مشهور شو . تیمور د خپل ژوند په اخر کې خپلې کورنۍ ته نصیحت وکړ چې په افغانستان کې خپل مرکزیت و ساتی او تر څو چې د افغانانو حمایت و لري حکم به ئې پایدار وي . د تیمور همدا نصیحت ووچې دده زوي (شاهرخ مرزا) او لمسیانوئې د هرات ښار د خپلې لویې امپرا طورې مرکز و ټاکی او دري ژ به ئې د دربار ژ به وگر ځوله .

با بر پا چا د فرغانې څخه د هندوستان پر لاره ١٥٢٤ م کې پر افغانستان حمله وکړه او وروسته له هغه چې د افغانانو سره ئې سختې جګړې وکړې یوقوي دولت تشکیل کړ . په خپل کتاب (تزک بابري) کې بابر د افغانانو د دلاوري او طرز معیشت په باره کې پوره بحث کړیدې . دې دومره دافغانانو د شهامت تر تأثیر لاندې راغلی ووچې نصیحت ئې وکړ چې پس له مرگه په کابل کې ښخ شي . دده قبر اوس د کابل په ښار کې د بابر په باغ کې دي .

نادر افشار په افغانستان باندې په ١٧٣٨م کې حمله وکړه . ده د کندهار ښار پس له یو کال سخت جنګ او محاصري څخه فتح کړ . نادر افشار په لومړي مرحله کې د افغانانو لوی دښمن ؤ خو پس له هغه چې افغانان ئې ولیدل د دوي د شجاعت تر تأثیر لاندې دومره ولاړ چې خپل نظامی لوړ منصبونه ئې افغانانو ته ور کړل حتی خپل مذهب ئې تغیر کړ او سنی شو (افغانان اکثراً سنیان دي) . ده خپلې لوڼې هم افغانانو ته ورکړې .

انګریزانو کوشش کا وه چې په هندوستان کې د خپلو منافعو د

ساتلو د پاره افغانستان و نیسي . د دغه مطلب لپاره ئی د افغانانو سره سخت جنګونه وکړل په هر جنګ کی ئی په زرو زرو کسان له لاسه ورکړل خو کامیاب نشول چه افغانستان وساتی .

روسانو هم همیش هندوستان او د بحر هند تو دو او بوته د رسید و په لارکی پر افغانستان سختی حملی کړیدي تر څو دا ملک و نیسی او هندوستان ته خپله لاره هموار کړي مګر مشکله وه .

**د افغانانو تساط پر نورو بالدی**

یما پا چا په ۱۵۰۰ ق م کی د بلخ په شا وخوا کی لوي سلطنت در لود چی مرکزي ایشیا ئی هم تر تسلط لاندي وه . دده کورنی تر ډیره وخته په افغانستان کی حکومت وکړ .

کوشا نیانو په لومړی میلادي قرن کی په افغانستان کی حکومت کا وه کانیشکا ددي کورنی مشهور با چا و وچی پر هند ، تبت او چینی ترکستان ئی هم حکم چلاوه . د سلطنت حدود ئی د هند له بنارس څخه تر خراسان او د چین تر مکیانګ پوري وه . د ژ می پایتخت ئی پېښور او د دوبی مرکزئی کاپیسا (کابل ته نږدي د پروان علاقه ده) وو .

په ٤٢٥ م کی یفتلیان په افغانستان کی قدرت ته و رسیدل کله چی ساسانی باچا (فیروز) پر افغ نستان حمله وکړه د یفتلی . پا چا (اخنشور) لخوائی په ٤٨٠ م کی سخته ماته و خوړه . فیروز څوکاله وروسته د یوزیات شمیر فوج سره بیا پر افغانستان حمله وکړه خو په جنګ کی ووژل شو (٤٨٤ م) . تر هغه وروسته د فارس ساسانی دولت د افغانستان یفتلی دولت ته باج تحویلا وه . په ٥٦٦ م کی د

ماوراء النهر تر کانو د فارس د ساسانیا نوسره لاس یوکړ پر افغانستان ئې یوه لویه حمله وکړه چې په نتیجه کې ئې د یفتلیا نو حکومت ختم کړ .

په دوهم هجري قرن کې (۱۳۷-۷۵٤ م) ابو مسلم خراساني چې یو قبر د کابل په جنوب د لوګر په منطقه کې ده ته منسوب دي لوړي سړي ووچې د عربو څخه ئې د افغانستان استقلال اعلان کړ .

د هرات پو شنجی طاهر په ۲۱۳-۸۲۸ کې د افغانستان خپلواکی د عباسی خلیفه (مامون الرشید) په مقابل کې اعلان کړه او د طاهریانو د کورنی د سلطنت بنسټ ئې کیښو د . ددي کورنی مشهور پاچاهان طاهر ، طلحه ، علی ، طاهر ، عبدالله او محمد دي . دي کورنی تر ۲۵۹-۸۷۲ م پوري حکومت وکړ . د اوسنی ایران یوه بر خه هم ددوي په لاس کې وه .

یعقوب لیث صفار په ۲۵۹-۸۷۲ م کې د صفاري کورنی د سلطنت اساس په سیستان کې کیښود . د ده کلی او منطقه اوس هم د صفار په نامه یادیږي چې په کښته هلمند کې د درویشان د کانال په پای کې واقع دی . د اوسنی ایران ختیځه بر خه د دی کورنی تر کنترول لاندې وه . د دی کورنی اقتدار تر ۲۹۹-۹۱۱ م پوري دوام وکړ چې مشهور پا چاهان ئې یعقوب لیث و عمر لیث وه .

په ۲۹۹-۹۱۱ م کې په بلخ کې یوه کورنی قدرت ته ورسید له چې د سا مانیانو (آل سامان) په نامه یا دیده . دي کورنی پر ماوراء النهر هم حکومت کا وه . مشهور پاچاهان ئې امیر اسمعیل ، امیر نصر ، امیر نوح ، عبدالملک او امیر منصور وه . په ۳۸۷-۹۹۹ م کې دي کورنی سقوط وکړ .

په ۳۰٦-۹٦٦ م د غزنوي دولت اساس کيښو دل . شو ددي کورنی مشهور پا چاهان سلطان محمود غزنوی اوسلطان مسعود غزنوي وه . په هندوستان کی اسلام د همدی کورنی د سلطنت په وخت کی خپور شو . پر هندوستان ماوراء النهر او ایران ئی حکومت کا وه . پدی د وره کی دعلومو په مختلفو سا حوکی (اجتماعات اوسیاینس) ډ يرکار وشو .
د دی کورنی سلسله د سلطان علاء الدين حسين غوري په واسطه ختمه شوه (۵۹۸-۱۲۰۱ م) .

غوریان په ۵٤۳-۱۱٤۸ کی په افغانستان کی منځ ته را غلل او په ۵۹۸-۱۲۰۱ کی ئی د غزنویا نو اخری پا چا له مینځه یووړ . دی کورنی علاوه پر افغانستان پر هندوستان ډير وقت حکومت وکړ . که څه هم ددی کورنی څخه په افغانستان کی حکومت له لاسه ولاړ خو په هندوستان کی مستقل اسلامی حکومت تر ډ يره وخته د همدي غوري پښتنو په لاس کی پاته شو . ددی کورنی مشهور خلک سلطان علاؤالدين حسين غوری ـ سلطان سيف الدين غوری ـ سلطان غياث الدين غوری او سلطان شهاب الدين غوری دی . سوری شيرشاه ـ لوديان او ـ قطب الدين ایبک هغه کسان دی چی کورنی ئی د غوريانو سره هندوستان ته تللی دی . دا کورنی په ٦۱۱-۱۲۱٤ م کی د خوارزم شاهانو له لاسه له منځه ولاړه .

خوارزم شاهان د افغانستان د ميمنی او سيدونکی وه چی په ٦۱۱-۱۲۱٤ م کی قدرت ته و رسيدل خو پس له شپږ کاله حکومت څخه ئی د چنگيز له لاسه شکست وخوړ . سلطان محمد خوارزم شاه ددی کورنی مشر او لومړي پا چا وو .

میر ویس بابا په ۱۱۱۹-۱۷۳۱ م کی په کندهار کی د یو قوی دولت د تشکیل اساس کیښود . د ده زوی (شاه محمود) د ایران صفوی شاه حسین ته ماته ورکړه او ایران ئی د افغانستان جزء و گرځاوه . تر شاه محمود وروسته شاه اشرف د اوسنی عراق ـ ترکي او روسیی ځینی برخی و نیولی . ده د روس پطر کبیر ته په اذر بایجان کی دیوه خوانړی جنګ په نتیجه‌کی سخته ماته ورکړه . دا کورنی بالاخره په۱۷٦۲م کی د نادر افشار له لاسه ختمه شوه .

احمد شاه بابا په ۱۷۷۲م کی د یو مستقل او قوی افغانستان اساس کیښود . ده بخارا او هندوستان و نیول او دخپل نفوذ په ساحه کی ئی وسا تل چی قرنونه قرنونه ئی دوام وکړ . دده کورنی په ۱۸٤۲م کی د محمد زیانو (امیر دوست محمد خان) له لاسه له قدرته ولویدله.

په هند کی د انګریزانو پر مختګ او په مرکزی ایشیا کی د روسانو وړاندی تلل د احمد شاه بابا د کورنی (سدوزی) او محمد زیانو د ضعف او بی کفایتی نتیجه وه چی نور ئی په هند او بخارا کی اسلامی حکومتونه د خارجی حملو په مقابل کی حمایه کولای نسوای .

# د افغانستان او روس مناسبات د مخه تر ۱۹۱۷م

سکندر پتر کبیر (Alexander Peter the Great) د اتلسمی پیړی په سر کی په روسیه کی یو قوی دولت تشکیل کړ چی تر او سه همغسی قوی پا ته دی . پتر او دهغه جانشینانو د خپل خارجی سیاست په متعلق دوه مهم اهداف همیش په خپلو مغزو کی در او دل چی یو ئی د هندوستان نیول او دوهم تودو او بو ته ځان رسول وو . د هندوستان نیول دوی ته لومړی هدف وو . دا ځکه د هندوستان پراخه ځمکه ، ډیری طبیعی زیر می ، ښه او به او هوا او په تودو اوبو کی ډیر بند رونه درلودل چی د روس لپاره ئی ډیر ارزښت درلود . هندوستان ته دنه رسیدلو په صورت کی ئی بیا خوښه وه چی د ایران او یا ترکیي له لاری تو دو او بوته ورسیږی .

په اتلسمه پیړی کسی د کښتیو چلو لو او بحری سیاحت صنعت په اروپا کی ډیرپرمخ ولاړ ـ د لوید یځی اروپا وا ړه قومونو لکه انګلیسان ـ فرانسویان ـ هسپانویان ـ پرتګالیان ـ ـ ـ او نورو د ایشیا او افریقا پر اخی ځمکی و نیولی . امریکا ـ استرالیا ـ نیوزلیند او ډ یری نوری ځمکی ئی پیدا او تر کنترول لاندی را وستلی . د دغه نوو ځمکو ډیره برخه و هندوستان ته د رسید و په امید پیدا شویده . د غربی اروپا

دغو هیوا دو د خپلو مستعمرا توڅخه بیحده ثروت تر لاسه کاوه. تجارت ډیره پراختیا وکړه او صنعت هم په بیلو بیلو رشتوکی پرمخ ولاړ.

که څه هم روسانو د خپل شا و خوا مځکی تر یوحده و نیولی خو په تودو اوبو کی د لار د نه درلودلو په وجه ښه پر مخ نه ولاړ. د ده تول بندرونه په یخه منطقه کی وه چی د کښتی چلولو لپاره مساعد نه وه. د دغه ښه او ازاد تجارت د نه درلودلو په وجه ئی تجارت، د کښتی چلولو او نور صنایع ډیر انکشاف و نه کړ. روسانو دا تول حال په سترگو لیدی چی نور اروپائی ملکو نه چیری ولاړل، څه ئی راوړل او څه کوی.

د دی لپاره چی هندوستان ته ور سیږی روسانو فکر کاوه چی ډیره لنډه لار د ایران چی هغه وخت د افغانستان تر اداری لاندی وو ده او باید ددی هیواد په نیولو سره دا خنډ له منځ څخه ولاړ سی. افغانان دده په دغه مطلب پوهیدل. نو دغه سبب ووچی د پتر کبیر او افغانانو تر منځ سخت جنگ و نښت. میدال خان ناصری چی د شاه اشرف له خوا د افغانانو د لښکر مشر وو پتر کبیر ته ئی په در بند کی چی اذر بایجان ته نزدی د داغستان یوښار دی سخته ماته ورکړه او هغه ئی شا ته و تمباوه (ایران اذر بایجان او د قفقاز و ترکیی ځینی سیمی هغه وخت د افغانانو په لاس کی وی). تر څو چی افغانستان قوی وو روس هم بیاد حملی جرأت و نکړ. پخپلو مینځو کی د افغانستان د مشرانو بی اتفاق او کورنی جنگونه ملک ورځ په ورځ کمزوری کاوه. روس دا حالات په دقت، صبر او تامل سره کتل او فکر ئی کاوه چی څنگه حالات پخپله گټه استعمالولای سی.

د افغانستان کمزوری د نولسم قرن د نیمائی څخه پیل سوه چی دوه علته ئی در لوده یو داخلی علت او بل خارجی علت . داخلی علت ئی چی ډیر مهم وو پخپله په افغانستان کی د رهبرانو په منځ کی د قدرت پر سر جنګ چی هر یوه خپل قوت د بل په ضعف او تخریب کی لیدی . د مشرانو تر منځ اختلاف او جنګونو مملکت دومره ضعیف او داسی حال ته ورساوه چی خارجی تهدید او دفاع ته څوک متوجه نه وه . خارجی علت ئی په دغه منطقه کی د بین المللی د وو لویو طاقتو (روس او انګلیس) تر منځ رقابت وو .

انګریزانو د افغانستان د دغه ضعف او کورنی اختلافاتو څخه استفاده وکړه او نه یوازی ئی په هند کی د مسلمانانو حکومت او اقتدار ته چی همیش د افغانانو د حمایت مرهون وو خاتمه ورکړه بلکه پخپله د افغانستان پر حدود و ئی هم حمله وکړه . انګلیسانو پر افغانستان باندی د خپلو حملو څخه دوه مهم اهداف درلودل یو دا چی افغانستان و نیسی او یائی د خپلو متواترو حملو په نتیجه کی دومره کمزوری کړی چی بیاد هندوستان د مسلمانو د حمایت فکر له سره و باسی او د هند مسلمانان چی هیش ازادی غوښتونکی وه هم په دی و پوهوی چی هیڅ مرسته د مقاومت او جنګ په صوت کی د افغانستان له خوا نسی ورته رسیدلای او فقط یوه لار لری اوهغهٔ د انګلیس حکومت منل او بس . او دوهم دا چی د افغانستان په نیولو سره انګریزان په هندوستان کی د روس په مقابل کی د خپلو ګټو حفاظت وکړی او په دی ډول پر هندوستان باندی د روسیانو د حملی مخ و نیسی ، یا حد اقل افغانستان د یو عایق او سپر په ډول د روس په مقابل کی وساتی .

دغه ووچی انګریزان د (۱۸٤۰ م) د لسیزی په لومړیو وختو کی د سیند تر رود را و اوښتل او پر افغانستان باندی ئی سختی حملی پیل کړی .

کله چی روسان و پوهیدل چی افغانان له یوی خوا په خپلو منځو کی د جنګو او بی اتفاقیو په وجه کمزوره شویدی او د بلی خوا د انګلیسانو سره په جنګ اخته دی نوئی موقع غنیمت وګڼل او د مرکزی اسیا خوا ته ئی حرکت وکړ . انګریزانو چی ولیدل چی افغانان په شمال کی د روس سره په جنګ اخته دی نو په جنوب او شرق کی ئی خپل پر مختګ ته دوام ورکړ او په ۱۸٤۸ و ۱۸٤۹ م کی ئی د افغانستان څخه ډیر ځایونه یو په بل پسی ونیول . افغانستان په دغه وخت کی د خپل تاریخ ډیری سختی مرحلی تیرولی خو مشران ئی بیاهم په اتفاق نه وه او د قدرت پر سر ئی همیش جنګ وو . البته د روس او انګلیس لا سونه په دی بی اتفاقیو کی ډیر وه . د افغانستان خلکو په همداسی سختو حالاتوکی د دوو لویو طاقتو سره همزمان جنګ کا وه چی اسانه کارنه وو . نه د کوم ځای مسمانان ئی مدد او مرستی ته را غلل او نه بخت یاری ورسره کوله چی یوددی دوو طاقتو څخه حتی موقتاً د صحنی او میدان څخه لیری سی انګریزانو پیښور په ۱۸٤۹م کی ونیو ، او روسانو بخارا ونیول او مرو ته ئی ځان ورساوه . افغانستان د روسانو سره په سخت جنګ اخته ووچی انګریزانو پر جلال اباد حمله وکړه او د جلال اباد تر نیولو روسته ئی د کابل پر خوا حرکت وکړ او هغه ئی هم وینو . امیر محمد یعقوب خان چی په دغه وخت کی د افغانستان پا چا ووهم د دوی په لاس کی بندی کښووت .

روسانو په دغه وخت کی مرو ونیول او د پنجده پر خوائی پر مختگ ته ادامه ورکړه . امیر محمد یعقوب خان دا فکر وکړ چی افغانستان باید د نقشی پر مخ پاته سی فرق نلری چی حدود او سیاسی موقف ئی څنگه دی . ده خپلو مشاورینو ته وویل چی دوی باید د تاریخ په دی حساسه مرحله کی د افغانستان موجودیت په هر صورت و ساتی . خدای به دا سختی ورځی او توری شپی تیری کړی . په هره شپه پسی سبا سته . ده وویل چی موږ باید د انگریزانو سره دوستی و کړو څود هغه بل دښمن (روس) دښمنی ته خلاص سو . په دی ډول ده و انگریزانو ته د دوستی لاس اوږد کړ . انگریزان له یوی خوا په دی ښه پوهیدل چی پر افغانستان باندی د دوی حکومت او اداره ډیر مشکل کار دی دا ځکه چی افغانان د نورو حکومت هیڅکله پر ځان نه منی . له بلی خوا انگریزان و یریدل چی د افغانستان په نیولو او ساتلو سره به د روسانو سره مخامخ ټکر وکړی چی هیڅ ئی نه غوښتل . نو ئی د امیر محمد یعقوب خان د سولی پیشنهاد ته مثبت ځواب ورکړ . په دی ډول امیر محمد یعقوب خان په (۲۶-۱۸۷۹ مارچ) کی د انگریزانو سره د دوستی معاهده په گندمک کی امضا کړه چی تر اوسه افغانان هغه ته د نفرت په نظر گوری . د دغه معاهدی په اساس امیر محمد یعقوب خان د انگریزانو له خوا د افغانستان په پاچاهی و منل سو خو په مقابل کی ئی د افغانستان د سرحد سیمی او خارجی ازادی له لاسه ور کړل . افغانان یعقوب خان ته پورته سول او هغه ئی خائن وباله چی د خپل تاج و تخت لپاره ئی د هیواد یوه برخه خاوره او خلک د مملکت د سیاسی استقلال سره یو ځای پر انگریزانو خرڅ کړل . امیر محمد یعقوب خان هر څه کوښښ وکړ چی افغان ولس

قانع کړی خو کامیاب نسو . دده او دده د مخالفینو تر منځ سختې خونړی جګړی وسوی . انګریزانو د امیر محمد یعقوب خان مرسته کوله مګر ژر پوه سول چی د امیر محمد یعقوب د حمایت د دوام په صورت کی به افغانان د انګریزانو سره په جنګ پیل وکړی نوئی د امیر محمد یعقوب خان څخه لاس واخیست . په نتیجه کی محمد افضل خان او د ده زوی عبدالرحمن خان بریالی سول او قدرت ئی په لاس کی وینو .

کله چی روسانو ولیدل چی افغانان ضعیف او په خپلو منځو کی ئی د قدرت پر سر جنګ دی نو ئی د آمو رود و خوا ته مخ و نیو او وړاندی تګ ئی شروع کړ او په (١٨٨١ م) کی د افغانستان او روسیی اوسنی سرحد ته را ورسیدل . کله چی انګریزانو ولیدل چی روس د جنوب پر خوا را روان دی د ١٨٧٩ م معاهده ئی تر پښو لاندی کړه او په افغانستان کی ئی مداخله وکړه . انګریزانو نه یوازی خپله په افغانستان کی فوجی عملیات پیل کړه بلکه ایران ئی هم وهڅاوه چی پر غربی افغانستان حمله وکړی (ایران په هغه وخت کی د انګریزانو د نفوذ په ساحه کی وو) په دغه وخت کی روسانو د موقع څخه استفاده وکړه او پر پنجده ئی حمله وکړه (١٣٠٣-١٨٨٥ م) . که څه هم افغانان د غوث الدین خان په مشری سخت ورسره و جنګیدل خود مرستی د نه رسیدو په وجه ئی ماته و خوړه او پنجده د روسانو په لاس کی واویده . په دی ډول افغانستان بیا له هری خوا تر فشار لاندی راغلی او مځکه ئی له هر طرفه قیچی سوه .

امیر عبدالرحمن خان مجبور سو چی د روس او انګلیس اداره او

کنترول پر ټولو هغه ځایو وسنی کوم چی د افغانسان څخه ئی بیل کړی وه . ده د افغانستان د تجزيي د مخنیوی لپاره همدا غوره گڼل چی د دواړو طاقتو سره سوله او دوستی وکړی (هغوی پر اوسنی سرحداتو بند وساتی او نور مخ ته را نشی) . هغه وو چی په جولائی ۱۸۸۷ م کی په پتسبرگ (Petsburg) کی د امیر عبدالرحمن خان او روسانو ترمنځ معاهده امضا سوه چی د هغه په اساس پنجده د افغانستان څخه جلا او روسانو ته تسلیم سوه او روسانو بالمقابل تعهد وکړ چی د افغانستان پر سرحدا تو به تعرض او په داخلی چارو کی به ئی مداخله نکوی . انگریزانو چی د افغانستان او روس تر منځ د عدم تعرض او مداخلی معاهده ولیدل نا آرامه سول خو امیر عبدالرحمن خان هغوی ته هم د عدم تعرض او مداخلی دیو معاهدی د امضا درخوست وکړ انگریزانو په ستمبر ۱۸۹۳ م کی مرتیمر دیورند (Sir M. Durand) افغانستان ته را وستاوه چی د افغانستان او برتانوی هندوستان تر منځ سرحدات تعین او موافقه امضا کړی . په نوسبر ۱۸۹۳ م کی موافقت نامه تکمیل او امضا سوه . دی معاهدی هم لکه د گندمک معاهده (حتی تر هغه خرابه) سرحدی سیمی د افغانستان څخه جلا او خارجی ازادی ئی ور سلبه کړه . امیر عبدالرحمن خان د دیورند خط دافغانستان او برتانوی هند تر منځ په رسمیت و پیژاند او انگریزانو په عوض کی د امیر عبدالرحمن خان پاچاهی ، د افغانستان کامله داخلی ازادی او د امیر سره د کاله څه نقده مالی مرسته پر ځان و منل . انگریزانو دا تعهد هم وکړ چی که چیری روسان پر افغانستان حمله کوی انگلیس به د افغانانو حمایه کوی .

امیر عبدالرحمن خان په دی ښه پوهیدی چی کومه معاهده چی

ده د انگریزانو سره امضا کړیده ترهغې معاهدې چې امیر محمد یعقوب خان د انګریزانو سره امضا کړیوه ډیره خرابه ده او دا به مشکل وی چې افغانان ئې و منی . نو ده په ډیر مهارت دغه معاهده د عام ولس څخه پټه کړه څو هغه حالات پرده را نسی کوم چې پر یعقوب خان دده د معاهدې د امضا په وجه راغلی وه . عام ولس هم بیسواده وو او په دې نه پوهیدل چې باېا څه کوی څکه چې پارلمان وجود نه در لود او نه د ملت د نمایندګی کوم بل شکل موجود وو .

امیر عبدالرحمن خان همیش کوښښ کاوه چې انګریزان د روس په مقابل کی تل څپله طرفداری آماده وساتی . ده د انګریزانو مرسته د روسانو په مقابل کی نسبت د روسانو مرستی ته د انګریزانو په مقابل کی خوښول . علت ئې زما په فکر د اوو چې امیر د روسانو څخه تر انګریزانو ډیر ویریدی . ممکن ده دا فکر کاوه چې انګریزان په زرو میله لیری د یوبل وطن څخه دلته راغلی خلک دی هر وخت چې وی ددی ځایه به وزی خو روس چې ددی منطقی یو هیواد دی هر څومره چې نوره محکه نیسی هغو مره به قوی کیږی ، نیول سوی محکه به د همیش لپاره د خان سره ساتی او د نورو محکو د نیولو توان به ورځ په ورځ پیدا کوی .

امیر عبدالرحمن خان د انګریزانو د زیات فشار باوجود و هغو ته اجازه ورنکړه چې رسمی نمایندګی دی د افغانستان په داخل کی ولری . فقط د انګریزانو یو نماینده ته ئې په دی شرط په کابل کی د او سیدو اجازه ورکړه چې دغه نماینده باید هندوستانی مسلمان وی او په خلکو کی سیاسی فعالیت و نکړی . سر بیره پر دغو شروطو بیا هم

نوموړی نماینده بههمیش د امیر د جاسوسانو له خوا تر تعقیب لاندی وو . د دغه نماینده د کور پر مخامخ د امیر خفیه جاسوسانو یو سما وار را ایستلی ووچی هر څوک د نوموړی نماینده کور ته تلی او یا مشکوک وو تعقیب کیدی . امیر عبدالرحمن خان حتی هغه کسان هم تعقیبول او تر فشار لاندی نیول د کومو چی انګلیسی ژبه زده وه .

امیر عبدالرحمن خان په ۱۹۰۱ م کی مړسو او پر ځای ئی زوی حبیب الله خان پاچا سو . دی یو حلیم او عیاش پاچا وو . که څه هم امیر حبیب الله د خپل پلار هغه معاهدات چی د ګاونډیانو سره ئی کړی وو محترم شمیرل خو په عین حال کی هوښیاروو چی څنګه خارجی سیاست عیار کړی . روس او انګلیس دواړو افغانستان ته د اور کاډی د پټلیو د راغځولو پیشنهاد وکړ خو امیر حبیب الله خان خپل د فکر استقلال وساتی او دغه پیشنهادونه ئی رد کړل .

د امیر حبیب الله خــان د پاچا کیدو سره همزمان ځینی مهم تغیرات او واقعات په بین المللی ساحه کی منځ ته راغلل چی افغانستان ته ئی د یو څه تنفس موقع ورکړه . روسانو په ۱۹۰۵ م کی د جاپان له لاسه سخته ماته و خوړه او لور ئی نسوای کولای چی د افغانستان پر خوا جنګی تحریکات وکړی . د دغه جنګ په نتیجه کی روس او انګلیس دواړه (د نړی لوی طاقتونه او یو د بل تاریخی دښمنان چی د افغانستان سره پر پو لو پرانه وه) یو د بله د مشترکو منافعو پر اساس تفاهم (دیتانت) ته ورسیدل او نور ئی خپل تاریخی دښمنی په ۱۹۰۷ کی د پیتسبرګ (St. Petersburg) د معاهدی په امضا سره هیری کړی او د منطقی هیوا دونه ئی پخپلو منځوکی دخپل نفوذ پر ساحو باندی وویشل .

افغانستان په دغه ویش کی انګلیسانو ته ورسیدی او د هغو د نفوذ په ساحه کی حساب سو . په مقابل کی انګریزانو د روس حاکمیت پر مرکزی اسیا په رسمیت و پیژاند . دا لومړی د پتانت وو چی د شلمی پیړی په سر کی د دوو لویو نړیوال طاقتو تر منځ صورت ونیو . دوی نور هیوا دونه په خپلو منځو کی سره ویشل پیله دی چی د هغو هیوادو خلک په هغه کی و پوښتل سی او یائی په ځانو خبر کړی . .

روسانو د جاپان څخه د خپلی ماتی تاوانونه لا پوره نه وه جبران کړی او پر پښو نه وو در یدلی چی لومړی جهانی جنګ ونښت . روس په دغه جګړه کی شامل وو خو افغانستان په ډیر مهارت بی طرف پاته سو . لومړی نړیواله جګړه لاپوره نه وه خلاصه سوی چی کمونستان په روسیه کی د غربی دنیا په مرسته پورته سول او په (۱۹۱۷ع) کی ئی د تزار حکومت نسکور کړ . دا ټول واقعات داسی یو په بل پسی راغلل چی روس ته ئی بیادا فرصت ورنکړ چی پر افغانستان حمله وکړی . کمولستانو هم نسوای کولای سمدستی پر افغانستان حمله وکړی . دوی ته وخت په کار وو څو لومړی د جنګ تاوانونه او د انقلاب ورانی بیرته پوره او سمی کړی او بیا پر افغانستان ایران او ترکیه باندی د تهاجمی پلان د عملی کیدو لپاره تیاری ونیسی . روسانو دا وارهم لا پوره ځان نه وو اماده کړی چی دوهمه نړیواله جګړه باندی راغله . په دی ټول افغانستان د یوڅه وخت لپاره د روس له شره بیغمه وو .

امیر حبیب الله خان ولیدل چی روس په خپل ځان اخته دی او افغانستان یوازې د یو دښمن سره مخا مخ دی چی هغه انګلیس دی

فرصت ئې غنيمت وګڼله او د انګليسانو سره د افغانستان د خارجي خپلواکۍ او نورو ذيعلاقه مسايلو په باره کې په تماس کې سو .

نتيجه

۱- د افغانستان ستړا تيژيکي او څلور لاري موقيعت دا هيواد د ټولو هغو قدرتو په سترګوکي د اهميت وړګرځولى وو ګوم چي غوښتل ئې د غرب څخه شرق ته او د شمال څخه جنوب ته يا برعکس ئې ځانونه ور سوى دغه مهم موقعيت ځينى و ختونه افغانستان د علم او تمدن مرکز ګر ځولى دي او ځينى وختونه ئې بيا و سختو جنګو ته کش کړيدى . مارکو پولو او واسکوديګاما د وه غربى اروپائى سوداګران وه چي د افغانستان له لاري چين ته ولاړل ، د وريښمو مشهوره لار په افغانستان کې تيره سوېده ، اسلام د ايشيا جنوب او جنوب شرق ته د افغانستان له لاري تللى دى ، چنګيز خان غربى ايشيا ته د افغانستان له لاري ولاړ ، ظهير الدين محمد بابر هندوستان ته د افغانستان پر لاروړسيد ، نادر شاه افشار هندوستان ته د افغانستان له لاري ولاړ ، او نور - - - - -

۲- د هند پراخه وچه د ډيرو طبعي منابعو سره ، ښه آب و هوائى او د تودوا بو ساحلى بندرونه ټول د دى سبب سوى وه چي د نړى د لويو طاقتو او فاتحينو توجه دى هر وخت ځانته جلب کړى . څکه چي افغانستان د هند ګاؤنډى او د هغه په لار کې پروت وو نو فاتحين مجبور وه چي پر دغه لار تير سى او د خپل تګ و راتګ لپاره ئې خلاصه وساتي چي د دوى دغه عمل د افغانانو سره د غټو او سختو جنګو د پېښيدو سبب ګرځېد .

۳- روسانو همیش د بحری سیاحت او تجارت مشکلات درلودل دا ځکه چی تودو اوبو او بحر هند ته ئی لار نه وه . ځکه چی افغانستان (د روس جنوبی ګاونډی) و هندوستان او تودو اوبو ته ډیره لنډه فاصله وه نو روسانو تل دا پلا نونه جوړول او موقع ته ئی کتل چی څنګه افغانستان و نیسی . د روسانو د پلان د هر قدم عملی کول د دی د وو هیوا دو (روس او افغانستان) تر منځ سختی خونړی جګړی پیښی کړیدی .

٤- په افغانستان کی د حکومت پر سر د مشرانو بی اتفاقی یو مهم عامل وو چی د دی هیواد دښمنان ئی هڅول چی پر افغانستان حملی وکړی او هغه ټوټه ټوټه کړی او یا حد اقل دومره ئی ضعیف کړی چه د ځان څخه دفاع و نکړای سی او د نورو د یرغل لپاره موقع برابره کړی . افغانانو د تاریخ په اوږدوکی پر بی اتفاقی اتفاق کړیدی او یا په بل عبارت دوی اتفاق کړیدی چی اتفاق و نکړی . د افغانستان د حاکمه طبقی په منځ کی بی اتفاقی د دی هیواد مقاومت د خارجی حملو او تهدید و په مقابل کی ورځ په ورځ کمزوری کاوه . دا هغه حالت وو چی د افغانستان دښمنانو هغه غوښت تر څو په اسانی سره خپلوا هدافو ته ورسیږی .

۵- د نړی د مسلمانانو په منځ کی بی اتفاقی یو بل عامل و چی خارجی طاقتونه ئی مداخلی ته هڅول . افغانستان په هندوستان کی د اسلام په خپرولو کی مهم رول درلود چی د هغه ځایه بیا اسلام جنوبی او جنوب شرق ایشیا ته ورسید . افغانستان په هندوستان کی داوسیدونکو مسلمانانو یوازنی او همیشنی حامی وو . تر څو چی افغانستان

قوي وو د هندوستان مسلمانان هم قوي او د هندوستان پر ټول بر صغیر حکمرانان وه خو کله چې افغانستان ضعیف او کمزوری سو د هندوستان مسلمانانو هم خپل تدویری اوحکمروائی قوت له لاسه ورکړ او د انگریزانو د غلامی په ځنځیر کی کرارکرار راگیر سول . په نولسم قرن او د شلمی پیړی په لومړی سرکی کله چې افغانستان د نړی د دوو لویو طاقتو (روس او انگلیس) سره په جگړه بوخت وو اسلامی دنیا ټوله یاویده وه اویاد نا مسلمانو قدرتونو تر سلطی او نفوذ لاندی وه . په دی ډول داسی یو ازاد او قوي مسلمان هیواد په منطقه کی نه وو چې د افغانستان سره د روسی یا انگلیسی تجاوز گرانو په مقابل کی په جنگ کی مرسته وکړی . په دی ډول افغانستان یوازی پاته وو او لکه د غنمو دانه د ژرندی د دو ولویو پلونو په منځ کی ئی بیله ذی چې د نورو خواو څخه مرسته ورته ور سیږی شوی و ورځی تیرولی . که څه هم سید جمال الدین افغان د تاریخ په ډیره حساسه مرحله کی د لومړی ځل لپاره د اسلامی نړی د اتحاد اواز اوچت کړ خو د بین المللی غارت گرو قوا وو او داخلی مرتجعینو له لاسه ئی کومه عاجله نتیجه ورنکړه .

۶- د تاریخ په دغه مرحله کی بد بخت هم د افغانانو ملگری وو . په دغه وخت کی افغانستان د دوو لویو رقیبو طاقتو (روس او انگلیس) په منځ کی واقع وو چې شمال ته ئی روس او جنوب او شرق ته ئی انگلیس وو . متاسفانه دواړو رقیبو طاقتونو د افغانستان د تجزیی لپاره رقابت کاوه د افغانستان سره نه د کوم بل طاقت مرسته وه او نه د دغو د وو طاقتو څخه یوئی پر خوا وو بلکه دواړه ئی مساوی دښمنان

وه خټې تر پايه يو بيطرف هم نسو پاته . په دې ډول افغانستان د دوو لويو طاقتو په منځ کې د خپل حيات او بقا لپاره لاس او پښې وهلې .

۷- افغانستان يو غرنى هيواد دى چې په جغرافيائى لحاظ و گوريلائى جنگو او د سر سخنانه مقاومت لپاره ډير مساعد دى . يونانى سکندر او گوډ تيمور د افغانانو پر دلاورى او جنگيا ليتوب اعترافونه کړيدى . د افغانانو بې مثاله اسلامى جذبې د دوى د وطن دوستۍ او ازاد يخواهۍ احساس نور هم مضبوط کړيدى او دا قوم ئې د هر راز طاقت په مقابل کې د يو نه ماتيدونکى قوت په شکل را منځ ته کړيدى. انگريزانو هم دا اعتراف کړيدى چې افغانان د خپلې ازادۍ سره بې مثاله مينه لرى . دغه سترا تيژيکى او معنوى خصوصياتو افغانان قادر کړيدى چې د بهرنى تجاوز گرانو په مقابل کې دې په پوره ميړانه وجنگيږى . البته په دغو جنگو کې ډيرى وينې توى سوى، ډير تلفات افغانستان ته ورسيدل او ډيرى خرابۍ ور واوښتې .

# د افغانستان او روس مناسبات

## له ۱۹۱۷ څخه تر ۱۹۴۵ پوري

په لومړی فصل کی مو وویل چی روسانو له ډیر پخوا څخه تر ۱۹۱۷ پوري دوه لوی هدفونه په دی منطقه‌کی در لودل چی لومړی ئی د هندوستان نیول او دوهم ئی تود اوبو ته ځان رسول وو. ددی د وو اهدافو لپاره ئی ډیر کوښښونه وکړل چی تر یو اندازی بریالی هم سو چی عاقبتونه ئی په تیر بحث کی ذکر سوبدی. مگر تر ۱۹۱۷ م وروسته ددی اهدافو سره یو بل مهم هدف هم یوځای سو چی هغه د کمونزم د فلسفی ترویج وو.

د مخه مو وویل چی روس په ۱۹۰۵ کی د جاپان څخه ما ته و خوړه او په ۱۹۰۷ کی ئی د برتانیا سره د پترزبورگ (Petersburg) معاهده چی په اصل کی ددی د وو لویو قدرتو تر منځ لومړی دیتانت وو امضا کړ . د دغه دیتانت له مخی د برتانیا او روس هریوه د قدرت او نفوذ ساحه مشخصه اوتسلیم سوه . دوی افغانستان د انگلیس د نفوذ په ساحه کی او منځنی ایشیائی د روس تر تسلط لاندی په خپلو منځو کی وویشل . اروپا ئی دلا لانو په داسی حال کی چی ددی منطقی خلک او اصلی او سیدونکی هیڅ په ځان خبر نه وه د دوی پر سر تجارت کاوه او دوی و د دوی مځکی ئی په خپلو منځو کی د یو اروپائی ښار په

یو عمارت کی د میز پر سر سره ویشلی . لومړی نړیواله جګړه هم د دغه حرص او قدرت طلبی نتیجه وه چی په ۱۹۱٤ کی شروع سوه. روس هم په دغه جنګ کی ښکیل وو . ډیر تلفات ئی ولیدل او اقتصادی وضع ئی په داخل کی ډیره خرابه سوه .

بلشویک کمونستانو د روس د داخلی ضعف څخه استفاده وکړه او د جرمنی په مرسته ئی د تزار لپاره ورځ په ورځ ستونزی پیداکولی. له یو خوا د تزار د حکومت بی سرو سامانی او له بلی خواد کمونستانو غوړی ، خوږی او د مځکی پر مخ د جنت وعدی ددی سبب شول چی یو تعداد خلک دی په ۱۹۱۷ کی حکومت ته را پورته شی او هغه دی له منځه یوسی . غربی دنیا په دی خوشحاله سوه چی په روسیه کی تزاری حکومت کوم چی د دوی سخت دښمن او رقیب وو له منځه ولاړ خو په دی نه پوهیدل چی پرځای ئی داسی ډله راغله چی نه یوازی به د غربی دنیا سره د مځکی ویش کوی بلکه د انسان د مغز په نړی کی به هم د دوی سره دیوالونه وهی او پولی به باسی .

په روسیه کی د کمونستی انقلاب تر کامیابیدو لږ وروسته لومړی جهانی جنګ هم ختم سو (۱۹۱۸) . په دغه وخت کی په افغانستان کی د امیر حبیب الله خان د حکومت اخیر کلونه وه . نوموړی امیر چی افغانستان ئی په ډیر مهارت د نړیوال جنګ د ساحی څخه بیطرف او لیری وساته اوضاع ئی په دقت سره کتله . له یوی خوا محمود طرزی چی د علامه سید جمال الدین افغانی د تعلیماتو تر اثر لاندی او د امیر حبیب الله خان نژدی دوست وو پر امیر فشار اچاره چی د انګلیس څخه د افغانستان خارجی استقلال تر لاسه کړی او په وطن کی ځینی

اصلاحات راولی . له بلی خوا د افغانستان په ځوا له تعلیمافته طبقه‌ګی هم د سید صاحب او دده د ملګرو د تعلیماتو دومره نفوذ او اثر وو چی په هغو کی ئی د خپلواکی غوښتلو فکر ورځ په ورځ تقویه کاوه . دوی د امیر څخه د خپلواکی او د اصلاحاتو په لار کی د چټکو ګامو دا خیستلو غوښتنه کوله خو امیر چی یو عیاش او محافظه کار سړی وو ورو ورو حرکت ته ئی ترجیح ورکول. څو واره ځوانانو دده د مرګ قصد وکړ خو ناکام سول . ښاغلی عبدالهادی داوی چی اوس هم ژوندی دی ددی دوری د فعالو ځوانانو څخه وو .

امیر حبیب الله خان ولیدل چی روس او انګلیس دواړه د لومړی نړیوالی جګړی په نتیجه کی ډیر تاوانی سویدی نوئی موقع مناسب وګڼل او د انګلیس څخه د افغانستان د خارجی استقلال په فکر کی سو . نوموړی امیر په یوه لیک کی (فروری ۲-۱۹۱۹) دهند ویسرای ته دا موضوع ولیکل خو نا ځاپه د خپل ښکار په په ځای کی ووژل سو (فرروی ۱۹-۱۹۱۹) .

د امیر حبیب الله خان پر ځای دده ورور نصر الله خان په مشرق ولایت کی پاچا سو . نصر الله خان یو تجربه کاره سپین ږیری وو چی په خلکو کی ئی نسبتاً محبوبیت در لود . ده لومړی ددی لپاره چی عسکر خوښ و ساتی فوراً د هغوی معاشات دری روپی ور اضافه کړل . امان الله خان (د امیر حبیب الله خان دریم زوی) چی د پلار د مرګ په وخت کی په کابل کی والی وو ځان ئی د افغانستان پاچا اعلان کړ او خپل اکا (نصر الله خان) ئی د خپل پلار قاتل و باله . ده فوراً د عسکر و معاش پنځه روپی ور اضافه کړ . دا زیاتوب سبب

سو چې د نصر الله خان عسکر چې څو ورځې د مخه ئې هغه ته بیعت
ورکړی وو هم امان الله خان ته تمایل وښیې . په هر صورت نصر الله
خان د ډیرو نورو عواملوله کبله چې ذکر ئې دلته ځای نلری د خپلې
وظیفې څخه د امان الله خان په ګټه استعفاء وکړه او په دې ډول ئې
افغانستان د کورنی جنګ څخه و ژغوره .

امان الله خان په فروری ۲۱-۱۹۱۹ کې د افغانستان پاچا سو .
لس ورځې وروسته (مارچ ۳-۱۹۱۹) امیر امان الله خان دهند ویسرای ته
یولیک و استا وه چې په هغه کې ئې د برتانیا د حکومت څخه غوښتې
وه چې دده حکومت په رسمیت و پیژنی . د برتانیا حکومت ډیروخت
چو په خوله پا ته سو او د امان الله خان غوښتنلیک ته ئې جواب
ورنکړ . دا د امان الله خان د حکومت په مقابل کې د برتانیا رسمی
عکس العمل وو خو په پټه ئې د هغه پر خلاف پروپاګنډه پیل کړ .
امیر په دې پوه سو چې دی د برتانیا د حکومت خوښ ندی نو ئې
ددې لپاره چې پر برتانیا باندې سیاسی فشار واچوی چې دی په رسمیت
و پیژنی او یائې د حملې په صورت کې د بل چا څخه مرسته ترلاسه
کړی وی ، نو د روس د حکومت سره په تماس کې سو .

په ۷ اپریل ۱۹۱۹ کې امیر امان الله خان د روس لینن ته
یولیک و استاوه چې په هغه کې ئې د دواړو مملکتو تر منځ د سیاسی
تعلقاتو د اعادې غوښتنه کړې وه . لینن چې داسې موقع ته سترګې په
لاره وو د ده لیک ته ژر تر ژره مثبت ځواب ورکړ .

په افغانستان کې د پرنګیانو ضد حرکت او د امان الله خان منځ ته
را تلل دهند په مسلمانانو کې تازه روح پیدا کړه او امیر امان الله خان

ته ئې په يو ليک کې وليکل «... هو! څه ظلمونه اوناروا وي لدی چې ستاسې پر ورونو په هندوستان کې نه کيږي. يوازې هندوستان نه بلکه بغداد او مقدس ځايو نه ټول د کفر تر تسلط لاندې دی موږ ستاسې څخه هيله کوو چې که مقدس جهاد ته تياريا ست نو د خپلو زمريانو ملاوې و رتړی چې وخت ئې را رسيدلی دی ...»

امان الله خان په دغه باره کې په خپل دربار کې د قومي مشرانو خاص مجلس جوړ او په داسې حال کې چې تر ستر ګوئې اوښکې توئيدلې د هندوستان د مسلمانانو دا ليک ئې حاضرينو ته ولووست. مجلس سخت تر تاثير لاندې راغلی او ناری ئې وهلې چې موږ جهاد ته ځو، موږ د خپل هندی مسلمانانو ورونو مدد کوو، موږ نه پريږدوچې زموږ مسلمانان ورونه په هندوستان کې د کفر د ظلم او ناروا لاندې و اوسې ... مجلس د الله اکبر په تکبير و سره چې ټوله فضائې هيجانې کړې وه ختم سو او امير امان الله خان د جهاد لپاره د تيارۍ امر صادرکړ.

انګريزانو هم د افغانستان په مقابل کې د جنګ تيارۍ نيول پيل کړه. د مې په مياشت ۱۹۱۹ کې په دريو جبهو کې (مشرقي، جنوبي او کندهار) د افغانانو او انګريزانو تر منځ سخت جنګ و نښت چې د هغه په نتيجه کې انګريزانو ما ته و خوړه او د جولاى ۲۰ - ۱۹۱۹ ع په راولپنډۍ کې د سولې يو کنفرانس جوړ سو چې په هغه کې انګريزانو د افغانستان سکمله آزادي بيله کوم قيد و شرطه و منل. په دغه جنګ کې چې دافغان - انګليس په دريمه لويه جګړه باندې شهرت لرې د روسانو څخه هيڅ ډول مادي مرسته نه وه غوښتل سوې او نه ئې د جنګ په تصميم او فيصله کې کوم لاس در لود.

امیر امان الله خان راضی نه وو چی د افغانستان سرحدات د انګلیس سره چی دده پر اسلافو په زور منل سوی وه قبول کړی نوځکه ځو ورځی ئی په دربار کی پر دغه موضوع بحث وکړ او بالآخره خلکو دا مشوره ورکړه چی لومړی باید افغانستان د یوازاد او مستقل هیواد په حیث په نړی کی و پیژندل سی ، موږ باید اول ځان قوی کړو او بیا د انګلیس سره دیو تمام عیار جنګ تیاری و نیسو چی د دغه په نتیجه کی به نه یوازی زموږ بیله سوی ځمکه او ورونه بیرته د ځان سره یو کړو بلکه د هندوستان د مسلمانانو سره به هم د هغوی د حقوقو د اعادی کامیابه مرسته و کړو . امان الله خان دا مشوره و منله چی د هغه په نتیجه کی د اګست په ۸-۱۹۱۹ د افغانستان او برتانیا ترمنځ د سولی تړون رسماً لا سلیک سو .

په اکتوبر ۱۰-۱۹۱۹ م د افغانستان یو خاص امتازی (محمد ولی خان) مسکوته و لاړ چی د دواړو مملکتو تر منځ د سیاسی او اقتصادی مناسباتو په هکله خبری وکړی . په عین وخت کی د روسیی نماینده براوین (Bravin) کابل ته ولاړ . محمد ولی خان د لینن له خوا ښه استقبال سو . ده لینن ته د امیر امان الله خان یو خاص لیک هم تسلیم کړ چی په هغه کی د افغانستان او روسیی ترمنځ د دوستانه تعلقاتو د ضرورت ذکر سوی وو . لینن د امان الله خان د لیک په ځواب کی (۲۷ نومبر ۱۹۱۹ م) پسله سلامه دا سی ولیکل :

«... افغانستان په اوسنی ټوله نړی کی د یوازنی آزاد او مستقل مسلمان هیوا د په توګه د یوی لوئی او عظیمی تاریخی وظیفی د سر ته رسولو ټینګه اراده لری د کوم په برکت چی به ټوله هغه

مسلمانان چې اوس د نورو تر غلامي لاندې دي پر ځان را ټول او د ازادي او استقلال په لوري به ئې رهنمائي کړي ـ ـ ـ » لينن په خپل دغه ليک کې امان الله خان ته دهر راز مرستي وعده ورکړه .

د افغانستان او روس ښو مناسباتو ډير وخت دوام و نکړ چې د بخارا پر موضوع بيا اختلاف را پورته سو (۱۹۲۰ م) . امير امان الله خان د يوازني ازاد مسلمان هيواد د مشر په توګه وظيفه درلوده چې د بخارا سره مرسته وکړي . د امير امان الله خان مور (عليا حضرت) د بخارا پاچا ته يوليك و استاوه چې په هغه کې ئې خپل او د خپل زوی (امان الله خان) ښې هيلې او حمايه په دې ډول ښرګنده کړيوه : « ـ ـ ـ ـ د روسيې سره زموږ د دوستانه تعلقاتو د پراختيا لوړی شرط د بخارا آزادي ده کومه چې زموږ د بخارائي ورونو آرزو او مطلب دي ـ ـ ـ ـ »

افغانستان هميش د خپلو بخارايانو ورونو مرستې ته حاضر سوی وو او د هغه په طرفداري د روسانو سره جنګيد لي وو مثلاً د امير حبيب الله خان په وخت کې (مارچ ۱۹۱۸ م) روسانو د کوليسوف (Kolesov) په مشري پر بخارا باندي حمله وکړه . افغاني داؤ طلب مجاهدينو د بخارايانو ملا و تړله او په ګډه ئې د کوليسوف لښکر ته سخته ماته ورکړه . روسانو په خپله اعتراف وکړ چې افغاني عسکر تر سرحد را وا وښتل او مرو او ختيزه بخارا ئې ونيول . د کال ۱۹۲۰ م په سر کې هم يو منتظم افغاني لښکر بخارا ته واستول سو چې د بخارا په دفاع کې مرسته وکړي . په اګست ۱۹۲۰ م کې د بخاريانو او روسانو تر منځ سخته جګړه و نښته . روسان اژدی وه چې ماته وخوري خو د

بخارا د حاکمی طبقی تر منځ اختلاف او بی کفایتی او د بخارا په ځوان نسل کی د روسانو له خوا د کمونزم د مفکوری تزریق او پلوی د دی سبب شول چی د بخارا ښار دی د روسانو لاس ته ورشی . د بخارا امیر افغانستان ته هجرت وکړ . پس له هغه چی روسانو بخارا و نیوله یو نماینده ئی کابل ته و استاوه چه د افغانستان د حکومت سره د روسیې د مناسباتو د عادی کیدو خبری وکړی مگر افغانستان بیا هم په بخارا کی دهغو مسلمانانو چی د روس په خلاف جنگیدل حمایه کول . بسمچی مجاهدینو ته ئی اسلحه او نفرلیږل . د بخارا د مسلمانو سره د افغانستان دغه بی دریغه مرسته علنی او د روسانو څخه پټه نه وه . نوځکه د روس او افغانستان مناسبات ورځ په ورځ خرابیدل روس ډیر کوښښ کاوه چی افغانستان د بخارا مرسته پریږدی دا ځکه چی د روس په گټه او د بخارا ئی مجاهدینو په زیان وه خو افغانستان خپل حمایت ته ادامه ورکړه په دغه وخت کی د روسانو سفیر په کابل کی د افغانستان پر حکومت اعتراض وکړ (۲۱ ستمبر ۱۹۲۰م) او افغانستان ئی په بخارا کی په شوروی ضد فعالیتو متهم کړ او د افغانستن د حکومت څخه ئی و غوښتل چه فوراً خپل عسکر د بخارا له خاوری و باسی .

امان الله خان ددی لپاره چی د روس په مقابل کی د انگلیس حمایه تر لاسه کړی په ۶ اکتوبر ۱۹۲۰ م دهند ویسرای ته د خپل حسن نیت دیوه خاص هئیت پلاس یولیک و استاوه چی په هغه کی یی د برتیانیا او افغانستان ترمینځ د مناسبا تو دعا دی کیدو غوښتنه کړی وه . یو برتانوی هئیت هم د (Henry Dobbs) په مشری کابل ته راغی . افغانستان د مذاکراتو په ترځ کی بریتانیا تشویق کړه چی د

روسانو په مقابل کی دی د افغانستان سره مرسته وکړی . انګلیسان چی پدی پوه شول چی افغانستان په سخته مرحله کی واقع او تر فشار لاندی دئ د خپل کمک په مقابل کی یی لاندی دوه شرایط وړاندی کړل .

۱- د روسانو سره د افغانستان د سیاسی مناسباتو دومره محدودول چی انګلیسان ئی غواړی .

۲- افغانستان به د انګلیسانو سره پر سرحد باندی د اختلاف او خپلی ادعا څخه لاس اخلی .

انګلیسان پدی ښه پوهیدل چه امان الله خان پورتنی دوه شرطونه په هیڅ وجه نشی منلای . د انګلیسانو مطلب داوُد چی افغانستان دیو ضعیف او ناتوانه دولت په توګه خپل او د روسانو په مینځ کی حایل و ساتی خو امان الله خان د انګلیسانو هغه سیاست ته تسلیم نشو بلکه د سرحد موضوع او د هندوستان د مسلمانانو حمایه یی نوره هم په زورکی کړه . پدی ډول د انګلستان او افغانستان ترمینځ خبری په فبروری ۱۹۲۱ م کی په ناکامی سره ختمی او کومی نتجی ته و نه رسیدلی . پدی ډول امان الله خان بیا مجبور شو چی د روسانو خوانه مخ وا ړوی او د هغوی سره د دوستی له لاری معامله وکړی . روسان هم د داسی موقع په انتظار کی وه او د افغانستان سره ئی په ۲۹ فبروری ۱۹۲۱ م کی د دوستی معاهده لاسلیک کړه . امان الله خان هم لکه خپل پلار او نیکه کان پدی پوه شو چه د دواړو دښمنو طاقتو سره په یوه وخت کی جنګ کول معقوله نده نو د روسانو سره ئی د دوستی لار غوره کړه خو د انګلیسانو سره یی خپل مخالفت ته دوام ورکړ. روسانو یوه نقشه طرح کړه چی د افغانستان له لاری په

هندوستان کی کمونیزم ته رواج ورکړی نوبی امان الله خان ته پیشنهاد وکړ چی مربږ شوارو متاسی سره د سرحدی سیمو په آزادی کی مرسته وکړو پدی ډول چی M.N. Roy به چی یو هندوستانی کمونیست وؤ په افغانستان کی د روسیې د سفیر په توګه مقرر شی. هغه به هندی اتباع چی د وطن څخه بهردی را ټول او د روسانو او افغانانو په مرسته به پر انګلیسانو ناڅاپی حمله وکړی او د سنید تررود پوری به ټولی منطقی آزادی کړی. روسانو غوښتل چه پدی ډول افغانستان د انګلیسانو پر ضد د خپلی نوی اډی په ډول استعمال کړی. روسانو هغو و سلوته چی افغانستان د ایتالیا څخه را نیولی وی په خپل ملک کی د تراسپرت اجازه هم ورکړه. خو انګلیسانو پر ایتالیا فشار وارد کړ چی د افغانستان سره دی نور علایق و نه پالی او د انګلیس سفیر په پاریس کی اعلان وکړ چه که څه هم افغانستان یو آزاد هیواد دی مګر د برتانیا د نفوذ په ساحه کی دی هرڅوک چی مناسبات ورسره ساتی باید زموږ سره مشوره وکړی.

کله چی محمد ولی خان امریکا ته ولاړ (جولای ۱۹۲۱ م) چی د امریکا سره د افغانستان مناسبات ټینګ کړی انګلیسانو ددی ویری چه افغانستان د امریکا څخه د روسانو په بهانه اسلحه تر لاسه نکړی اوپه سرحد کی ئی د دوی پر ضد استعمال نکړی د امریکا حکومت ته خبر ورکړ چی افغانستان د بریتانیا د نفوذ په ساحه کی دیٔ او د امریکا جمهور رئیس او وزیر خارجه باید افغانی هئیت ونه منی. دغه سبب وؤ چی د افغانی هیت په امریکا کی ښه استقبال و نشو. بیا محمد ولی خان دامریکا څخه لندن ته ولاړ اوهلته هم انګلیسانو دهغه ښه استقبال

ونکړ . لارډ کورزن (Lord Curzon) د برتانیا د خارجه چارو وزیر افغانستان د برتانیا د نفوذ په ساحه کی وباله او محمد ولی خان ته یې دیوه مستقل مملکت د نماینده په نظر ونه کتل .

کله چه امان الله خان ته دا احوال راورسیدلو هغه پوه شوچی د انګلیس سره دوستی کول په حقیقت کی خپل لاس او پښی پخپله تړل دی نوځکه یې اجباراً روسانو ته تمایل وکړ او د هغه سره یې د دوستی قرار داد امضا کړ . روسانو چی په لوړه سطحه کی ئې د انګلیسانو سره ارتباط درلود د دغه قرارداديوه کاپي ئې په لندن کی انګلیسانو ته ورکړه او هغوی یې پوه کړل چه افغانستان زموږ (روس) سره دوستی غواړی .

امان الله خان چه د روسانو په اصلی هدف پوه وؤ (M.N. Roy) یې په کابل کی د روس د سفیر په توګه و'نه مانه . (Roy) ډیر وخت په روسی ترکستان کی د خپل منظم لښکر او چاپ شوی اوراق سره پدی انتظار وؤ چه افغانستان به ده ته د روسانو د سفیر په توګه اجازه ورکړی چه کابل ته ولاړسی او هلته فعالیت وکړی .

د کال ۱۹۲۳ م په سر کی امان الله خان جلال آباد ته ولاړئ او هلته یې د اقوامو مشران چی په هغه کی د دیورند د خط د شرق خوا د سیمو قومی مشران هم شامل وه ، راجمع او د انګلیسانو څخه یې د ټولو سرحدی سیمو د آزادولو مسئله وړاندی کړه . د مجلس په پای کی ټولو مشرانو امیر امان الله خان ته د خپل ملا تړ وعده ورکړه . په اپریل ۱۹۲۳ کی په کوهات کی دیوی پیرنګی میرمن ایلس (Mr. Ellis) وژل او د هغی دلور تښتول د جلال آباد د مجاس د نتائجو څخه وه

چه د سرحد په خلکو کی بی د انګلیسانو پر ضد مقاومت او حرکت پیدا کړی وؤ .

روسانو دا موقع مناسبه و ګڼله او امان الله خان ته یی د انګلیسانو پر ضد د مرستی وعده ورکړه خو انګلسان فوراً پدی موضوع پوه شول او روس ته یی التوماتم ورکړ چه باید په کابل کی خپل سفیر (Raskolinkov) بیرته ماسکو ته و غواړی . روسانو د انګلیس د دغه التوماتم د ردولو طاقت نه درلود نوئی په کابل کی خپل سفیر (Roskolinkov) بیرته و روغوښت خو د افغانستان او د انګلیس تر منځ روابط همغسی خړ پړ پاته سول . په سپتمبر ۱۹۲۳ م کی انګلیسانو پر افغانستان باندی دیوی لوئی حملی لپاره د تیاری نیولو فیصله وکړه .

په دسمبر ۱۹۲۳ م کی انګریزانو د یوی بهانی دلتولو لپاره امان الله خان ته التوماتم ورکړچه نور د سرحد په چاروکی مداخله و نکړی او د روسانو سره خپل مناسبات کم کړی (دا همغه دوه پیشنهاده وه چه په ۱۹۲۰ کی انګریزانو د (Henry Dobbs) پواسطه امان الله خان ته کړی وه) . پدی وخت کی روسانو یوه سخته بیانیه د ماسکو څخه خپره کړه چه که چیری انګلیسان پر افغالستان حمله وکړی افغانان به دخپل ځان څخه دفاع په پوره ډول وکړای شی او روس به هم په دی موضوع کی بی تفاوت پاتی نشی .

روسانو امان الله خان ډیر تشویق کړ چه د انګلیسانو سره جنګ ته تیارشی . خو امان الله خان د دامی جنګ په خطراتو ښه پوهیدی او د روسانو په دی سیاست هم پوره واقف وؤ چه اوبه خړوی او

خپل ماهیان نیسی نوبی د ملایمت د رویی څخه کار واخیست. انگریزان هم چه د جنگ په خطراتو پوهیدل او د روسانو استفاده جوئی ئی د موقع څخه ولیدل د خپل پلان د عملی کولو څخه ئی صرف نظر وکړ خود افغانستان او انگلیسانو تر منځ مناسبات هم هغسی غیر دوستانه پاته شول.

روسانو د افغانستان سره په ۳۱ اگست ۱۹۲۶ د بی‌طرفی او نه تعرض معاهده لا سلیک کړه دا معاهده هغه وخت د روسانو په گټه وه دا ځکه د روسانو دا آرزو وه چه افغانستان دی بی‌طرفه وی او د انگلیسانو سره دی نژدی روابط و نلری. په معاهده کی دا خبره هم ذکرشوی وه چه د دواړو مملکتو څخه به هیڅ یو دبل دامی مملکت سره چه د نوموړی دوو مملکتو څخه د کوم یوه په ضرر وی نژدی روابطه نه ساتی چه د اهم د روسبی په گټه وه دا ځکه چه په منطقه کی خو یوازی انگلیس د ریم مملکت ؤ چه د روس په ضرر وو او نه ئی غوښتل چه افغانستان د هغه سره لاس یو کړی. ددی معاهدی په برکت روس مطمئن شو چه افغانستان به د انگلیس سره د ده پرخلاف کوم سازش نه کوی چه دا دده آرزو وه. ددغه معاهدی د شرایطو څخه یوبل شرط داهم وو چه هیڅ یو دطرفینو څخه به یو د بل په کورنیو چارو کی مداخله نکوی. داماده هم هغه وخت د روسانو په گټه وه دا ځکه چه ددی مادی په اساس د روس او افغانستان سرحد د افغانانو له تعرض څخه محفوظه پاتی کیدی او بخارا د روسانو تر کنترول لاندی تسلیم او دهغه ځای مجاهدینو ته د افغانانو له خوا مرسته نه رسیدل داسی اطمینان وؤ چه روسانو هغه غوښت. پدی ډول د افغانانو بیطرفه

پاتې کیدل روسانو ته دا موقع ورکړه چه خپل کنترول پر مرکزی اسیا نورهم ټینګ او د انګلیسانو له خوا دی د افغانستان له لاری خطر لیری کړی او د عدم مداخلې شرط روسان مطمئن کول چه افغانستان به د بخارا د آزادی او یا د پنجدی د بیرته لاس ته را وړلو کوښښ و نکړی .

امان الله خان په فبروری ۱۹۲۳ کی د افغانستان د انکشاف لپاره یو اساسی قانون چه په هغه وخت کی ورته نظام‌نامه ویل کیده ترتیب او اعلان کړه . دا نظامنامه چی د ترکبی د مصطفی کمال پاشا چی خپلو پیروانو ورته اتاترک وایه د قانون څخه تر ډیره حده پوری کاپی شوی وه چه اصلی ریښه ئی د فرانسی‌کود نا پلیون وؤ . نظام‌نامه پر غیر مذهبی (Secularism) اصولو بنا وه چه دین او دولت ئی لکه په اروپاکی سره بیلول . په افغانستان غوندی ملک کی چه ټول نفوس ئی مسلمان وؤ د داسی قانون نافذول او عملی کول چه ریښی ئی دبل‌کاچر په اوبو اوبه شوی وی اسانه کار نه وو . ډیرو خلکو د نظام‌نامی مخالفت شروع کړ . د ملایانو عامه بی احترامی او د ښځو راوتل په اروپائی لباس کی دوی هغه مهمی نقطی وی چه خلک ئی د هری خوا ورته بد بین کړل . انګریزانو نه غوښتل چه افغانستان یو آرام او پر مخ تللی مملکت و اوسی دا ځکه چه پر مخ تللی او قوی افغانستان په هندوستان‌کی دانګریزانو لپاره یولوی خطر وؤنو ئی دامان‌الله خان د دغه غیر ملی او اسلامی سیاست څخه سوء استفاده وکړه او د پکتیا خلک خصوصاً منګل ئی را و پارول . انګریزانو د امیر محمد یعقوب خان یو زوی عبدالکریم خان نامی چه ډیر بی عقل او ناقابل سړی وُ پکتیا

ته را و استاوه او د پکتیا دخلکو له خوائی ځان دافغانستان امیر اعلان کړ. ملا عبدالله اخون چه په ګوډ ملا مشهور وو د امان‌الله خان په ضد په پکتیا کی غټ قدرت وموند. پکتیا ئی و نیوله تر لوګره پوری را ورسید. ورسته روسان و ویریدل چی مبادا په افغانستان کی د انګریزانو طرفدار او یا یوسلمان مذهبی حکومت منځ ته راشی نو دامان الله خان سره ئی د دغه بغاوت د سرکوبولو لپاره مرسته وکړه. د روسانو طیارو شورشیان بمبارد کړل. ملا عبدالله اخون (ګوډ ملا) په چل او فریب سره په ۱۹۲۵ م د جنوری په میاشت کی ونیول سو او کابل ته ئی راوست. د امان الله خان د نظام نامی په مقابل کی هر ځای تیت او پرکټ بغاوتونه او ناخوښی لیدل کیدل خو د روس د ملاتړ په وجه ئی کوم قاطع نتجه ورنکړه. کله چی امان الله خان د مملکت د وضعی او آرامی څخه نسبتاً مطمئین شو نو د دیسمبر په میاشت کی ئی (دسمبر ۱۰-۱۹۲۷ م) خارج ته په شپږ میاشتنی سفر شروع وکړه چه دغه په نتیجه کی ئی، هند، مصر، ایټالیه، انګلستان، بلجیم، جرمنی، پولینډ، روسیه، ترکیه او ایران ولیدل.

محمد ولی خان وزیر حربیه د امان الله خان په غیاب کی د مملکت د آرام ساتلو لپاره مسئول وؤ. ده ډیر کوښښ کاوه چی څو امان الله خان بیرته وطن ته راځی دامی واقعه وانشی چه د مملکت آرامی ګډه وډه کړی خو د امان الله خان مخالیفینو د دغه خلاء څخه استفاده وکړه او د ده په خلاف ئی تبلیغانو ته زور ورکړ.

انګریزان ویریدل‌چی‌که چیری څو کاله امان‌الله خان په افغانستان کی پاتی شی او آرامه پادشاهی وکړی ممکن ډیر کارونه سرته و رسوی

چه د هغه په نتیجه کی به د افغانستان څخه په مادی لحاظ یو قوی مملکت جوړ او د نوری دنیا سره به ئی تعلقات پیدا شی . هغوی به د افغانستان په انکشاف او پرمختګ کی سهم واخلی . قوی او پر مخ تللی افغانستان انګریزانو دهند لپاره جدی خطر باله نو ځکه ئی په سرحداتو کی د افغانستان پر ضدبیا تحریکات شروع کړل . روسان هم د امان الله خان په دی سفر باندی نه وه خوښ او ویریدل چه دا سفر به افغانستان د موجوده سیاسی او اقتصادی محاصری څخه خلاص کړی . د غربی دنیا سره به ئی تعلقات قایم او مادی او نظامی مرستی به تر لاسه کړی چه په دی ډول یو قوی او مخ تللی افغانستان د روسیی لپاره خطر وو نوځکه ئی د امان الله خان په ضد په هرات کی پروپاګند پیل کړ . په هرات کی د روسیی قونسل(Poliak) د امان الله خان د ښځی هغه لوڅ مخ د اروپائی لباس عکسونه چه په غربی ممالکو کی په میلمستیاوو کی د خارجیانو سره ناسته وو هرځای خپاره کړل او په درواغوئی دا آوازی خپری کړی چه د افغانستان پاچا او ملکه د نورو مملکتو د پاچاهانو سره د خوګ غوښه او شراب خوری او رقصونه ورسری کوی . انګریزانو هم د داسی محافلو عکسونه د هندوستان په اخبارو کی چاپ او د افغانستان په سرحداتو کی ئی خپاره کړل

که څههم امان الله خان په هیڅ یوه داسی مجلس کی چی په هغه کی دی د افغانستان حیثیت ته ضرر وی ګډون و نکړ خو دښمنانو د واقعیت په خلاف چه څومره ئی وس کار کاوه د ده په غیاب کی پروپاګند او تخریب ته ادامه ورکړه .

دده دښځی د اروپائی لباس عکسونه دده د تخریب لپاره کافی ثبوت او شواهد وه د اوبو هغه ګلاسونه چه په عکس کی به د میلمستیا

پر ميز ليدل كيدل مخالفيو هغه خلكو ته د شرابو په گلاسو معرفي كول . نه يوازې روسانو او انگريزانو په ده پسې پروپاگند شروع كړ بلكه داخلي كسان هم دده او دده د بې كفايته همكارانو په مخالفت را پورته شول .

په ډيره اسمعيل خان كي شيراغا (د شور بازار د حضرتانو څخه وؤ) . د امان الله خان پر ضد او په مشرق كي د شا محمود خان طرفدارانو تحريكات شروع كړل (شاه محمود خان دنادر خان ورور، دامان الله اخښى او په جلال آباد كې پخوا نائب الحكومه وؤ). د كوهدا من د كاكان اوسيدونكى حبيب الله نومى چه په بچهٔ سقاؤ مشهور ؤ او له ډيره پخوائى د حكومت پر ضد فعاليت كاوه دا موقع مناسبه وگڼله په چار يكاروكى ئى د حكومت خزانه چور كړه او اورئى هم قوت واخيست دى د سرحداتو د خلكو سره په تماس كى شو چه د امان الله خان پر ضد فعاليتونه منسجم كړى . يو انگريز (Stewart) په خپل "افغانستان په اوركى" نومى كتاب كى ليكى چه حبيب الله خان (بچه سقاو) په دغه منظور پښاورته راغى او په نمك منډهى كى په يوه سماواركى اوسيدى چه د امان الله خان ضد عناصر و سره تماس ونيسى .

محمد ولى خان د خلكو د آرام ساتلو لپاره د مشرق او جنوبى خلكو ته ډيرى روپى او اوامتيازات وركړل . هغوى به هم ديو څه وخت لپاره د پروپاگند او بغاوت څخه لاس واخيست څه وخت وروسته به ئى بيا مشرانو بغاوت او پروپا گنډه پيل كړ . محمد ولى خان هم بله چاره نه درلوده او مجبور وو چى په هره وسيله چه وى د امان الله خان تر راتگ پورى خلك آرام وساتي . يوه ورځ محمد ولى خان په دربار

کی د دغه سرحدی اقوامو د مشرانو څخه گیله کوله چه په پیسو نه مړیږی او د هغه دلاس ته راوستلو لپاره هر څه کوی . د مجلس یوه سپین ږیری ورته و ویل چه د اپیسی خو څه کوی چه دا ټول غرونه سره زرشی او دوی ته ئې ورکړی بس به ئې نشی، دوی پدی تجارت کی اوس ډیر ماهر شوی دی دوی د انگریزانو څخه هم همدا۔ی امتیازات اخلی .

امان الله خان په اروپا کی د خپل سفر په وخت کی د ډیرو صنعتی نظامی او تعلیمی مرستو وعدی تر لاسه کړی . څوفابریکی چه په هغو کی د چاپ کارخانه او د صابون جوړولو فابریکه هم شامله وه ددی سفر له سوغاتو څخه وه . روسانو او انگریزانو دا پروپاگنده په خلکو کی خپره کړه چه هر کله امان الله خان د سفر څخه بیرته وطن ته راشی نو ملایان به ټول و نیسی او صابون به ځینی جوړ کړی . دوی دا خبرونه هم په خلکو کی خپاره کړل چه امان الله خان د مصطفی کمال اتاترک نیژدی ملگری دی او د هغه نقشه او پلانونه په افغانستان کی عملی کوی لکه څنگه چه هغه په ترکیه کی عملی کړل . هغه ملایان مړه کړل ښځی ئې لوڅی راویستلی او دین ته په سپکه گوری امان الله خان به هم عین کارونه دلته وکړی په زیاته بیا دا۔ی پروپاگندو ته هغه وخت د انگریزانو له خوا ډیر قوت ورکړ شو کوم چه په ۲۰ مارچ ۱۹۲۸ م کی په لندن کی امان الله خان په یو رسمی مجلس کی د برتانیا د مشرانو سره د سرحدی مناطقو د استرداد مسئله را منځ ته کړه او روسانو هم په افغانستان کی خپلو تخریبی تحریکاتو ته هغه وخت لوړ زور ورکړو چه دوی په مسکو کی

امان الله خان ته د انگلیس پر ضد ډیری خبری وکړی او د هغه څخه ئی د انگریزانو پر خلاف دیو عملی اقدام غوښتنه وکړه مگر امان الله خان خپله بیطرفی وساتله او دائی هم و ویل چه د انگریزانو پیشرفت او ترقی پرما ډیر اثر کړیدی . د امان الله خان دغه موقف روسان ډیر خفه کړل او په دی تشویش کی ئی واچول چه مبادا ده د انگریزانو سره د دوی پر ضد کومه پټه معاهده لاس لیک کړی وی نوئی خلاف د بین المللی قوانینو د ده د سفر ټول بکسونه او سامان الات په پټه تلاشی کړل چه که یو داسی سند پیدا کړی چه د امان الله خان او د کوم غربی هیواد خصوصاً انگلیس تر منځ کومه معاهده او قرار داد وی خو څه ئی پیدا نکړل یوازی دوه بکسونه وه چه د روس د خفیه پولیسو لاس ته نشوای ورتلای چه وئی گوری . دا ځکه هغه معمولاً د ملکه سوریا سره وه . د روسانو شک پردی د وو بکسونو ورځ په ورځ ډیریدی او ویل به ئی چی دا دوه بکسونه ځکه دوی همیشه دځان سره گرځوی چه د دوی پټ اسناد پکښی دی . نو بله چاره ئی ونه لیدله پولیسو هغه غلا اووتښتول چه خلاص ئی کړل په هغه کی ټول د ملکی کالی او د سینگار سامان وو .

امان الله خان پدی موضوع خبر شو خو عکس العمل ئی و نه ښود یعنی هیڅ ئی ونه ویل . امان الله خان دروسیی څخه ترکیی ته ولاړ هلته ئی د مصطفی کمال پاشا (اتاترک) سره وکتل . ترکیی پرده ډیر اثر وکړ او هغه پروگرامونه ده هلته ولیدل چه اتاترک په ترکیه کی تطبیق کړی وه خو ده په حیث دیوه خارجی او دیو څو ورځو میلمه د هغه ذهنی اثر پرترکانو نشوای درک کولای او نه ئی لیدلای شوای.

ده و غوښتل چه که افغانستان ته ولاړشی دارنگه اصلاحات به هم هلته راولی . دی د ترکیی څخه ایران ته ولاړ او د رضا شاه پهلوی سره ئی ولیدل . ایرانیانو د امان الله خان څخه د یو مستقل آزاد او مسلمان دولت د پادشاه په توگه ډیره توقع درلوده چه دده قول او فعل د خلکو لارښونکی وی . خو امان الله خان د اروپا د تمدن تر تاثیر لاندی دومره راغلی وؤ چه که څه هم ښځی ئی د ایران اوترکیی په سرحدکی نیمه چادری بیرته پر سر کړه خو بیاهم دومره پټه نه وه چه ایرانیان په قانع سوی وای . دوی په مشهدکی د حضرت امام رضا صاحب زیارت ته هم په همدغه جامو کی ورغلل چه دهغه په اثر په دغه مذهبی ښارکی خلک ډیر خفه شول دا ځکه چه دوی د امان الله خان څخه دا توقع نه درلوده .

امان الله خان د جون پر ۲۰-۱۹۲۸م د اروپا څخه پس له شپږو میاشتواولسو ورځو سفره بیرته افغانستان ته راغلی. داروپا تمدن پرده سخت اثر اچولی ؤ او هوائی ورلوړه کړی وه . ده غوښتل چه هغه څه چه په اروپا کی په ډیر وخت کی شوی وه په افغانستان کی ئی په لږ وخت کی منځ ته راولی . کابل ته دتلو په حال کی په قندهار کی څو ورځی تم شو او په خپله اوله بیانیه کی ئی په اروپا کی دښځو پر فعالیت اوکار خبری وکړی . ده وویل چه ښځی په اروپاکی په ټولو اقتصادی او اجتماعی چاروکی د نارینه سره اوږه پراوږه کار کوی ... زما هیله داده چه افغانستان هم دامی یوی لوئی مرحلی ته ژر تر ژره پوری ورسیږی . د ده د کورنی دښځو لوڅ مخ په اروپائی لباس عکسونه او د ده د آزادانه خیالونو په باره کی خودمخه لاچی دی په اروپاکی وؤ

پروپاګند شوی ؤ کله چه ده پخپله هم داسې خبرې وکړې نو خلګو پر هغو ټولو پروپاګندو باندې د صحت علامه کيښوده .

د جولای په ۲۵-۱۹۲۸ م کې ملکه سوريا د ښځې د پردې او چادرې په باره کې يو مضمون په امان افغان کې وليکی . دی په هغه کې وليکل چه په اسلام کې ښځه بايد پټه وی خو که مخ ، لاس او پښې ئې څوک ووينی فرق نکوی . ملکه سوريا د نجونو د مکتب شاګردانو ته هم د پردې او چادرې خبرې کولې او ويل ئې چه چادرې اوس د موډه وتلې ده. دې يو تعداد ښځو ته هر وخت د دلکشا په ماڼی کې دعوت ورکاوه او ورته ويل ئې چه تاسې بايد په ټولو کاروکې د نارينه سره مساوی برخه واخلې او دا هغه وخت کيدلای شی چه د بنديخانو او دکور د ځلورو ديوالو څخه راووزی . دې مخ لوڅې په کابل کې شروع کړه .

امان الله خان پخپله هم د کابل ښځې و ارګ ته د مجلس لپاره ور بللې او هغو ته ئې د مخ لوڅې خبرې کولې او حتی يوه ورځ ئې ورته وويل چه د ښځې د مريضی يو علت چادری ده چه د ښځې د آزادی هوا تنفس بندوی . زه ستاسې څخه هيله کوم چه تاسې د چادرې د اغوستلو او بازار اونورو تفريحي ځايونه د تللو په موردکې د خپلو سړيو متابعت ونکړی . د امان الله خان د هدايت سره سم په پغمان ، دارالامان او باغ زنانه کې د ښځو ميلې جوړې شوې او امان الله خان امر وکړ چې ښځې بايد دغو ځايو ته د چادرې سره ورنسې . امان الله خان دلنګوټې په ورکولو اوله سنځه وړلو کې هم کوښښ کاوه . هيڅا په باغ کې انګوټه او حتی قره قلی نشوای پر سرکولای . انګريزی

جامو ډیر رواج پیدا کړ . ګاډی وانان چه خلک به ئی باغوته را رسول مجبور وه چه انګوټه ایسته کړی او انګریزی شپو پر سرکړی . امان الله خان د کالو پر ځای د پټلون اغوستلو امرهم وکړ . مترقی او متمدن نارینه په هغه وخت کی هغه څوک بلل کیدی چه دریشی ئی کوله او مترقی او متمدنه ښځه هغه وه چه مخ لوڅی وه . اخبارونه هم هره ورځ په دی خبرو ډک وه . سینما ګانی او هوټلونه هر ځای جوړ سول .

د امان الله خان مخالفت په داخل کی هغه وخت نورهم ډیر شوو چه ده د خپل حکومت ماموریں تر نشار لاندی و نیول چه سم کار وکړی . ده د دولت د عالی رتبه مامورینو څخه چه په فسق ، فساد ، قمار ـ رشوت ، فحش او سهل انګاری عادت وه هغه څه غوښتل چه عملاً د هغوی په وس نه وه پوره یعنی د ملک لپاره صادقانه کار کول .

امان الله خان خپله په اخلاقی طور سره سم سړی وو خو شاو خوا ئی اکثراً هغه کسان وه چی ډیر عیاش ، نالایقه اوبی‌دینه وه . دوی اکثره دده خپلوان وه اویائی دمملکت په مقتدره طبقه پوری تعلق درلود که څه هم څو کسان ده له کاره ایسته کړل او حتی اعدام ئی کړل خو فایده ئی ونکړه . بالمقابل دده پر خلاف ساز شونه او کار شکنی هم زیات شول .

امان الله خان د بادشاهی په لسم کال لویه جرګه راوبلله چه له یوی خوادده د پادشاهی لسم کال په ښو مراسمو تجلیل شی اوله بلی خوا دده اصلاحی پروګرامونه چی اروپائی رنګ‌ئی درلود تصویب کړی . پدی لویه جرګه کی ښځوهم غړیتوب درلود . د ښځو غړیتوب په جرګه

کې پر خلکو ډیر بد اثر وکړ. جرگه لا نه وه خلاصه سوی چه دهغه په مقابل کې د خلکو مخالفت او عکس العملونه را پورته شول او د امان ـ الله خان پروگرامونه د دین او وطن په خلاف وبلل شول . پدغه وخت کې د شور بازار د حضرتانو څخه دوه مشران (گل اغا او معصوم اغا) چه ډیر مقتدر او قابل د احترام خلک وه د ډیرو ملایانو د دستخطو او فتواگانو سره یوځای پکتیا ته ولاړل او د هغه ځای خلک ئې دلرئې جرگې او د حکومت له پروگرامو څخه خبر کړل . پدغه ځای کې امان الله خان کافر و بلل شو او په مقابل کې ئې خلک را پورته شول د پکتیا په مچلغو کې ډیر خلک د حکومت پر خلاف را ټول سول خود هغه ځای حاکم (ولسوال) گل اغا ، معصوم جان او ځینې نور ونیول او بندیان ئې کابل ته ولیږل . کابل ته د دوی په را رسیدو سره امان الله خان دربار جوړ کړ او د قاضي عبدالرحمن څخه ئې د دغو خلکو پر خلاف د بغاوت د سزا فتوا وغوښتله . قاضي عبدالرحمن خان د پادشا په مخ کې پرحضرتانو باندی د فتوا څخه انکار وکړ . ددغه ځای څخه د امان الله خان پرخلاف بغاوت په خپله دده په دربار اوحکومت کې همښکاره او پورته شو. دشور بازار حضرتان په هغه وخت کې څه معمولی خلک نه وه . د دوی ارتباط په ټول افغانستان کې خپور وو . د دوی په بندی کولو سره باید ډیر خلک نورهم بندیان شوی وای . امان الله خان همداسی وکړل . څومره ئې چه د زور څخه کار اخیست هغومره موضوع خرابیده په کوهستان کې دحضرتانو مخلصین او د امان الله خان بد بینان ډیر وه خصوصاً کله چه ملا عبدالاحد کوهستانی بندی شو نو هغه تنفر چه پخوا د مستوفي ممالک

د اعدام په وجه په خلکو کی د حکومت په مقابل کی پیدا سوی وو نور هم ډیر شو . په هر ځای کی بغاوتونه شروع شول . پوځ هم د داسی ناروغی څخه په امان پاتی لشو .

حبیب الله دسقاو زوی چه په پیښورکی وو ډیری پیسی ئی دفعتاً پیدا کړی او افغانستان ته ولاړ . انگریزان وائی چه ده دلته د پیسو تجوری غلا کړه خو ځینی بیا وائی چه پخپله انگریزانو دا پیسی ده ته ورکړی . په هر صورت کوهستان ته ولاړ او هلته ئی د خپلی سیمی او ملگرو رهبری په لاس کی ونیوله . دوی لاری ونیولی ، کاروانونه ئی وشکول او خزانی ئی چور کړی . حتی دوه تجاران هندوان ئی ونیول او بیائی هغه وخت خوشی کړل چه کورنیوئی شپږ زره افغانی دهغوی د خلاصون اپاره ورکړی . د حبیب الله مالی بنیه ورځ په ورځ قوی کیدله او ملگری ئی هم ډیریدل . حبیب الله یو زیرک قوی هیکل او دلاور ځوان ؤ د امان الله خان په قطعه نمونه کی ئی نظامی تربیه اخیستی وه او د منگلو په جنگ کی ئی هم برخه درلوده په پیښور او د سرحد د خلکو سره ښه بلد ؤ د امان الله خان په فوځ کی د ده خدمت دی د حکومت په نظامی خلا ښه پوه کړی وؤ .

امان الله خان پداسی حال کی چه نه ئی په حکومت، نه ئی په فوځ کی او نه ئی په اواس کی پوره ځای درلود دیوانه‌وار کوښښ کاوه چه خپل پروگرامونه عملی کړی نرمی ئی نه درلوده او د سپین ږیرو مشوره ئی هم نه منله او ویل به ئی چه د ازاره مغزونه دی. د ده ښځه (ملکه سوریا) دومره د ښځو په نهضت کی مخ ته او انقلابی ولاړه چه یوه ورځ د (اکتوبر ۲-۱۹۶۸) په یوه ټولنه‌کی د خلکو په

منځ کې پورته شوه تر یوې انقلابي وینا وروسته ئې خپله چادري له سره ایسته کړه او هغه ئې ځیري کړه او وئې ویل چه په اسلام کې د ښځې د مخ لاس اوپښې لیدل روا دي او هیڅوک نشي کولای د اسلام پر خلاف پر هغه پرده واچوي. نورو ښځوهم خپلې چادریانې د سره ځځه ایسته او ځیري کړې او وئې غور ځولې . دا اول وار ؤ چه د کابل خلکو د کابل د ښځو مخونه ولیدل (Stewart, P. 404) .

امان الله خان هم امروکړ چه هیڅوک خپله ښځه نشي مجبور ولای چه چادري واغوندي. هغه دری کسه عالمان چه امان الله خان ئې د انګلیسانو په مقابل کې جهاد ته تشویقاوه او تل ئې د ده حمایه کوله او ده بیا د هغو د خدمتو د پاداش لپاره ورته د فخر المشایخ ، شمس المشایخ او نورالمشایخ لقبونه ورکړي وه اوس دده سخت مخالفین وګرځیدل او پخپله دده په مقابل کې ئې جهاد اعلان کړ (فخر المشایخ لقب دتګاو ملاصاحب ته او دوه نور القاب د شور بازار حضرت صاحبانو ته ور کړه شوی وه) .

امان الله خان په خپل پادشاهي عسکرو ، طیارو او خصوصاً په هغه سفر ډیر مغرور وؤ چه اروپاته ئې کړی وؤ . ده فکر کاوه چه تیت او پرک بغاوتونه د ده بین المللي شهرت اوغښ نظامي طاقت نشي مغلو بولای نوځکه ئې هر څه ته په بې اعتنائي کتل او د بلې خوا د مملکت کارهم داهلو کسانو په لاس کې نه وو چه وضع آرامه او کنترول کړي .

شنواري هم د محمد علم خان شنواري په مشري په نومبر (۱۹۲۸) کې امان الله خان ته پورته شول . امیر دوه روسي پیلوټان ور

و اه‌ټول چه هغه بمبارد کړی خو هغوي د دی پرځای چه ښور ښیان‌ بمبارد کړی حکومتی عسکر بمبارد کړل چی دیرش تنه عسکر مړه او په سوو نور زخمیان شول . دی عمل امان الله خان نورهم بدنام کړ. د مشرقی خلک نورهم را وپاریدل او کرار کرار پر جلال ـ آباد راغلل څو بالاخره هغه ئی محاصره کړ .

په دیسمبر ۲٤ - ۱۹۲۸ کی روسانو د افغانستان سره یو قرار داد امضاء کړ چه امان الله خان ته په (۱۶) جنگی الوتکی او نوره وسله ورکوی .

سردار محمد هاشم خان (د نادر خان ورور) د دیسمبر په ۷-۱۹۲۸ په نیس کی (د فرانسی جنوب) د انگلیس قونسل‌گری ته ولاړ او هلته ئی افغانستان ته خپل او د ورونو (نادر خان او شاولی خان) د تللو موضوع مطرح کړه. په نتیجه کی نادر خان د بمبئی له لاری هندوستان ته راغی . انگریزانو امان الله خان ته ظاهراً داسی ښوول چه د افغانستان په داخلی چاروکی لاس نه وهی پداسی حال کی چه په زړه کی ئی د امان الله خان څخه بد راتلل . روسانو ظاهراً د امان الله خان طرفداری کوله خو په خفیه کی ئی د هغه پر ضد پروپاگند کاوه . روس او انگلیس دواړو کوښښ کاوه چی د امان الله ـ خان پرځای په افغانستان کی د خپل خوښی حکومتونه راولی .

حبیب الله خان د سقاو زوی د شمال له خوا پر کابل راغی او هغه ئی محاصر کړ، امان الله خان د کابل څخه د اولاد سره یوځای کندهار ته ولاړ او پرځای ئی خپل ورور سردار عنایت الله خان معین السلطنه پریښود خو هغه د حبیب الله خان په مقابل کی ترددی

دری نیمو ورځو زیات مقاوت ونشوای کړای او کابل ئې پرینښود کابل د حبیب الله خان له خوا ونیول شو او خان ئې خادم دین رسول الله امیر حبیب الله د افغانستان پادشاه اعلان کړ. امان ـ الله خان کله چه کابل پرینښود او کندهار ته ولاړ غوښتل ئې چه د هغه ځای د اقوامو په حمایه بیرته کابل ونیسی. که څه هم محمود طرزی د ده د دغه فکر مخالفت وکړ په کندهار کی د ده د قومیانو ملګری او په شمالی صفحاتوکی د جرنیل غلام نبی خان څرخی موجودیت ده ته دا امید ورکاوه چه بیرته کابل ونیسی.

محمود طرزی ده ته د انګریزانو او روسانو د دواړو سیاست او دښمنی پوره تشریح کړه خوده و نه منل او د کندهار د خلکو څخه ئې یو لښکر جوړ او د کابل پرخوا راروان شو په لار کی په هر ځای کی د مقاومتو سره مخامخ شو په غزنی کی سید اشرف اغا چه یو روحانی سړی او د ده د طرفدارانو څخه او د یوی ډلی کندهاریانو قوماندان وؤ ده ته وویل چه ما خوب لیدلی دی چه زه دلته مرم او ته هم بیرته پادشا کیدلای نشی. داسی څو ورځی وروسته هم پیښه شوه چه سید اشرف ـ آغا په جنګ کی وویشتل شو دغه واقعی د امان الله خان روحیات سخت ور ضعیف کړل او ټول لښکر ته ئې بیرته د کندهار د تللو امر ورکړ. که څه هم د لښکر مشرانو ورته وویل چه تر غزنی راغلی یو بیله کومه جنګه ولی بیرته شاته ځو. خوده وویل چه زه نوری وینی بیځایه نه تویوم چه خلک په ماله دی خوښ زه هم ځینی ځم. هغه وؤ چه په ۲۳-۲-۱۹۲۹ کی د کندهار ـ چمن له لاری له افغانستان څخه ووت. امان الله خان په هندوستان کی په یوه مصاحبه

کی وویل چه زه غواړم د افغانستان څخه لیری و او سم لرڅو خلک زما دلیری والی څخه مطمئن شی او وینی تویول بس کړی . ما په خارجی بانکو کی کومه دارائی نده ماتلی او بر خلاف د نورو پادشاهانو می شپه اوروځ د خپلو خلکو د آبادی او هو سائی لپاره کار کړیدی زه اوس د پادشاهی څخه ایسته شوی یم خو وجدان می پاک او آرام دی زه داسی نه‌یم لکه د روسی تزار چه د خپلی تولی کورنی سره د خپلو مخالیفینو له خوا له منځه ولاړ بلکه زما په قسمت داده چه اوس به د خپلی کورنی سره د نورو پر مځکه د وطن څخه لیری گرځم .

امان الله خان لا د افغانستان څخه پوره لیری سوی نه ؤ چه نادر خان په فروری ۲۵-۹۲۹ ۱ کی پښور ته راغی او د محبت خان په حومات کی ئی غټ قومی مجلس جوړ کړ ده خلکو ته و ویل چه ما اراده کړیده چه د افغانستان خلکو ته د کورنی جنگ د اور څخه نجات ورکړم ده د سرحد پښتانه اقوام پر ځان را تول کړل . که څه هم انگریز انو ظاهراً ورته وویل چه دی دی د ډیورنډ خط د ختیز له خوا خلک افغانستان ته د جنگ لپاره د ځانه سره نه بیائی خو عملاً ئې د هغه مخه و نه نیول . انگریزان د افغانستان د حالاتو څخه سخت په تشویش کی وه چه مبادا روسیه د دغه داخلی بحران څخه استفاده و کړی او پدی ډول په هندوستان کی د برتانیی گټو ته خطر متوجه شی نو ځکه ئی نادر خان تشویقاوه چه افغانستان ته ولاړ شی . دی په مارچ ۸-۹۲۹ ۱ کی پکتیاته داخل او عملاً ئی د امیر حبیب الله - خان (دسقاو زوی) پر خلاف جنگ شروع کړ څو واره ئی د حبیب الله - خان له لاسه ماته و خوړله خو بالاخره جنرال شاولی خان (د نادر خان

ورور)موفق شو چی کابل محاصره او بالاخره ئی په ٥-١-١٩٢٩ کی ونیسی.

امیر حبیب الله خان کوهدامن ته وتښتید او محمد نادر خان د اکتوبر ١٦-١٩٢٩ د کابل د عید گاه په جومات کی دالنه و مراسمو په ترڅ کی د افغانستان پا چا اعلان سو . روسیه چه هم د افغانستان د بی اطمنان او بی استوار حالات څخه په تشویش کی وه نادر خان ئی غنیمت و گڼه .

روسیه اولین مملکت وو چه د ده حکومت ئی په رسمیت و پیژاند د ده د پادشاهی په څلور کلنه دوره کی د روسانو او مرکزی اسیا د مسلمانانو تر منځ چریکی جنگونه روان وه . د انور بیگ تر مرگ ورسته بسمچی تنظیم بی سرپرسته پا ته شو او نور ئی په خپلو منځو کی د اختلاف او د منظم کومک د له رسیدلو په وجه نشوای کولای چه د روسانو سره با قاعده و جنگیږی خوبیاهم ابراهیم بیگ چه یو غښتلی بسمچی وو پر خپل ځان ئی مجاهدین را ټول کړل او چریکی عملیات ئی د روسانو پر خلاف کول . کله چه هلته پر سختته شوه افغانستان ته به را تلل او د دی ځایه څخه به بیرته تر سازمان او تیاری ورسته هغه طرف ته تلل او هلته به د روسانو سره جنگیدل .

روسانو د افغانستان پر حکومت فشار واچاوه چه ابراهیم بیگ ته اجازه ورنکړی چه د افغانستان له خاوری څخه د روس پر ضد فعالیت وکړی. نادر خان چه پخپله د یو غیر مذهبی او غرب مشربی کورنی او د افغانستان د تاریخ د نا آرام ترینی دوری محصول ؤ دا ډول استدلال کاوه چه له یوی خوا د محدود بسمچی چریکانو له طرفه د ټولی مرکزی اسیا آزادول د امکان څخه بعید کاردی او د بلی خوا پوهیدی چی

د روس او افغانستان دښمنی د ده پر اسلافو او افغانستان څه راوستل نوئې بسمچیان په افغانستان کې د فعالیت څخه بندکړل. بسمچی مجاهدین د ابراهیم بیگ تر مشري لاندې اوس لکه د ژرندې دانه د دوو ډبرو (روس او افغانستان) تر منځ واقع شول . ابراهیم بیگ مجبور وؤ چه د ځان د تجهیز لپاره افغانستان ته راشي او بیابیرته پر روسانو باندې د حملې لپاره تر سرحد تیرشي خو افغانستان د دې کار ممانعت کاوه ابراهیم بیگ خپل کارته ادامه ورکول . نادر خان د هغه د تسلیمولو او ماتولو لپاره منظم فوج هغې خواته ولیږی ، په یوه جنگ کې چې د ابراهیم بیگ اوشا محمود خان (د نادر خان د ورور) تر منځ و شو ابراهیم بیگ ماته وخوړله او روسی ته فرار شو . هلته روسانو ونیو او په اپریل ۱۹۳۱ کې ئې شهید کړ . د ابراهیم بیگ په شهادت سره بسمچی تحریک هم پداسې حال کې پای ته ورسید چه د اسلامی دنیا خصوصاً د افغانستان څخه مایوسه وه .

روسانو د نادر خان سره په ۱۹۳۱ کې د بې طرفی او عدم مداخلت معاهده تجدیدکړه . نادر خان دانگریزانو سره هم خپل ښه روابط وساتل او د سرحد مسئله ئې نوره نه یادوله انگریزانو هم ده ته د دغه دوستی په بدل کې (۱۰۰۰۰) انگریزی ټوپک (۵) ملیونه کارتوس او ۱۷۰۰۰ پونډه سترلینگه پیس د سرحد پر ورکړل . محمد نادرشاه د څلور کاله سلطنت څخه و روسته چه خپل ډیر مخالفین ئې مړه او په ملک کې ئې هم څه اصلاحات دغربی معاشری پر بنیاد په ډیر احتیاط را وستل په نومبر ۸-۱۹۳۳ کې د یوه نفرله خوا و ویشتل شو او پر ځای ئې د ده ۱۸ کلن زوی محمد ظاهر خان د افغانستان پادشاه شو .

ظاهر شاه په نامه پاچاوو . د مملکت ټول کارونه عملاً د ده د اکاگانو پلاس کی وه . محمد هاشم خان صدر اعظم، شاه محمود خان وزیر دفاع او شاولی خان قوسی کارونه کول . دوی په گډه خپل ځوان و راره (ظاهر شاه) ته د مملکت د امورو اداری تربیه ورکوله . محمد هاشم خان د روسانو او انګریزانو دواړو سره دوستی وساتله خود هیڅ یوه سره ئی کومه خاصه علاقه و نه ښودله او نه ئی کوم یوه ته په افغانستان کی د فعالیت اجازه ورکړه . انګریزانو هم د دی لپاره چه افغانستان خوښ وساتی په ۱۹۳۵ کی سرحدی سیمو ته تر ډیری اندازی داخلی آزادی ور کړه .

افغانستان په جولائی ۸-۱۹۳۷ د ترکیې او ایران سره د دوستی او عدم مداخلت معاهده امضأ کړه . په ۱۹۳۹ کی دوهم نړیوال جنګ ونښت . که څه هم افغانانو په عامه سویه د جرمنی طرفداری کوله (د اځکه چه جرمنی د روس او انګیس سره چی دا داوړه د افغانانو تاریخی دښمانان وه جنګ کاوه) خو د دولت رسمی سیاست بیطرفه پا ته شو او په ۱۹٤۰ کی ئی خپله عامه او تامه بیطرفی اعلان کړه .

## نتیجهٔ

د تاریخ په دغه مرحله کی ۱۹۱۷-۱۹٤٥ لکه د پخوا په شان افغانستان د یوی ستراتیژیکی نقطی په توګه د لویو طاقتونو د رقابت او پاملرنی ور ځای پاته شو. د پخوانی مرحلی په خلاف روس او انګلیس هغه دوه لوی طاقتونه وه چه د دی مرحلی په ټول دوران کی بیله دی چه کوم یوئی د صحن څخه ووزی باقی پاتی شول او په افغانستان

کی ئی د خپلو منافعو د تامین لپاره رقابت کاوه. په تیر فصل کی مو وویل چه مهاجمینو او فاتحینو همیش د هندوستان د نیولو په لار کی پر افغانستان جنگ تحمیل کړی وؤ پدی مرحله کی ۱۹۱۷-۱۹٤٥ چه هندوستان د انگلیس لخوا نیول شوی او اداره کیدی صرف د هغه د ساتلو لپاره افغانستان تر فشار لاندی وو. روسانو د افغانستان په شمال او انگلیسیانو په جنوب او شرق کی د خپلو موضع گانو د ټینگولو او منافعو د دفاع کوښښ کاوه چه دا حالت پر افغانستان د سخت فشار سبب وؤ.

د روسانو د روځ په روځ بحری طاقت زیاتوب د دوی تاریخی تلاش چه تودو اوبوته ئی د رسیدلو لپاره کاوه نورهم زیات کړ مگر د انگلیس غوندی د یو قوی دولت موجودیت په منطقه کی د ده د پرمختګ جلو گیری کوله. د دی د وو طاقتو کشمکش پر افغانستان باندی لوی فشار اچولی وؤ.

د پښتنو او انگلیسانو دریم خونړی جنگ د دی سبب شو چه د افغانانو تنفردی د انگریزانو په مقابل کی نورهم ډیرشی. روسانو د دی موقع څخه استفاده وکړه او افغانستان ته ئی د دوستی لاس اوږد کړ. افغانانو که څخه هم روس ته په کراهت کتل خو تر انگلیسانو ئی د روس دوستی ته ترجیح ورکوله دا ځکه انگلیس ډیر تاوانی کړی وؤ او د هغه سره په جنگو کی ئی هرڅه د لاسه ورکړی وه پداسی حال کی چه روس لا دنژدی څخه تجربه شوی نه وو. د ډیورند لاین همیش دانگریزانو او افغانانو تر منځ مناسبات خراب وساتل. انگریزانو تل دا فکر کاوه چه افغانان هر وخت وی پدغه برخه کی په اقدام لاس پوری کوی نو

ځکه ئې دښمنې ورسره ساتله او نه ئې پرېښود چه افغانستان يو مستقل ،
يو موټي او قوي پر مخ تللي هيواد وي . تل ئې د افغانانو پر ضد توطئې
جوړولې . د انګلسيانو دغه د ښمنۍ ډک سياست افغانستان مجبورا وه
چه روس ته ور نيژدې شي .

افغانستان يو په وچه محاط (land locked) هيواد دی چه
اکثراً صادرات او واردات ئې دچمن او تورخم له لارې صورت نيسي. هر
وخت به چه د افغانستان اقتصاد څه رونق پيدا کړ نو انګريزانو به لار
پر بنده کړه څو پدې ترتيب د افغانستان اقتصادي وضع خرابه شي
او ترقي و نکړي . افغانستان بله د تجارت لارنه درلوده بيله روسي څخه
نو مجبور وؤ چه د روسي سره خپل مناسبات هميش ښهوساتي .

د روسي پر پخوانيو اهدافو چه مهم ئې تودو اوبو ته ځان
رسول وؤ يو بل مهم هدف هم پدغه مرحله کې اضافه شو چه هغه د
کمونيزم د فلسفې ترويج او خپرول وؤ . روسانو کوښښ کاوه چه د بين
المللي ماترياليزم (International materialism) فلسفه هر ځای
خپره کړي. خصوصاً د روسانو کوښښ په لومړي قدم کې دا وؤ چه خپل
ګاونډي هيوادونه د خپلې فلسفې تر تاثير لاندې راولي څو لومړي خپل
سرحدات د خطر څخه وساتي او بيا کرار کرار مخ ته ولاړ شي. افغانستان
پدغه مورد کې روسانو ته ډېر مهم وؤ د اځکه يوئې خپل سرحدات
محفوظ پاته کيدل او بل د دې لارې ئې په هندوستان کې خپله مفکوره
ښه خپور ولای شوه . دغه سبب وؤ چه روسانو د افغانانو سره د دوستي
لاره غوره کړه .

روسيه په بين المللي سياست کې هميش هوښياره دقيقه او موقع

شناسه او سیدلی ده. دوی د هری موقع څخه چه په گته ئی وه ښه استفاده کړیده او هر وخت ئی سیاسی خلاوی په خپله گټه ډکی کړیدی . د افغانستان سره په علایقوکی هم دوی ترهر چا پیش قدم او سیدلی دی او هره ممکنه موقع ئی په خپله نفع استثمار کړیده .

امان الله خان په زړه پاک ولی بی علمه بی تجربی او احساساتی او غیر مذهبی پا چا وو خصوصاً اروپا ته د ده سفر پرده دومره اثر وا چاوه چه د ده سترگی ئی پرځینو واقعاتو پټی کړی او داسی کارونه ئی وکړل چه جامعی د هغو د قبول توان نه درلو او د بلی خوا افغانستان یو نوی پر ښېو دریدلی مملکت وو چه د کارو د ښه تنظیم اداره ئی کافی پرسونل نه درلودل څه چه وو هغه هم قومی خانان او په مقتدرو طبقو پوری ئی اړه درلوده اکثره د دولت لوی مامورین د ده خپلوان وو چه ډیر عیاش او بی کفایته وه . ده هغوی ته د خیانت په وجه سزا ورکول شروع کړل بیله دی چه د هغو په عوض کی نور خلک ولری هغو هم د ده په مقابل کی مقاومت شروع او د دولت دستگاه ئی فلج کړه . د ملایانو بی عزتی او د ښځو آزادی او خارج ته د هغو لیږل ، دین او سیاست بیلول او افغانی ټولنه پر غربی اصولو جوړول او چلول عام ولس ده ته بدبین کړ . دا ډول کړنلاره سبب شوه چه په افغانستان کی کورنی جنگ پیل شی او خارج ته دمداخلی ځای پیدا شی.

انگریزانو او روسانو دواړو د امان الله خان پر دوستی اعتماد نه درلود او هریو پر ده مشکوک وو چی د هغه بل طرف سره لار لری نو ځکه ئی د ده بقا نه غوښتل د ده دا ډول نامشخص سیاست هم د دی سبب شو چی روس او انگریز دی دواړه د ده په له منځه وړلو کی سهم واخلی .

اسلامی نړی همغسی د پخوا پشان په بی اتفاقی او ذلت کی پرته وه . او څوک نه وو چی د افغانستان سره د هغه په داخلی او خارجی مشکلاتو کی مرسته وکړی . لو ځکه مجبور وو دښمنو طاقتو ته ځینی امتیازات ورکړی . که څه هم په دغه دوره کی (۱۹۱۷-۱۹٤٥) د محمد نادر شاه او و روسته د محمد ظاهر شاه خارجی سیاست بد نه وو خومتاسفانه په داخل کی پسیف او ارتجاعی رو .

# د افغانستان او روس مناسبات
# ۱۹۴۵ - ۱۹۸۰

د مخه مو وویل چې افغانستان په د وهم نړیوال جنگ کې رسماً بیطرف پا ته شو . که څه هم د عام اولس همدردی د جرمنیانو سره وه . ددیرو علتونو څخه یو مهم علت د اؤ چې جرمنې دافغانانو دد وو لویو تاریخی دښمنانو سره (انگلیس او روس) جنگ درلود . هر تاوان چه دوی دواړو ته رسیدی د افغانانو د خوښی سبب گرځید . د دوهمې نړیوالی جگړې په پای ته رسیدو سره د دنیا په نقشه کې هم لوی تغیر راغی ، اولسونه یو په بل پسې آزادیدل او د خپلواکی جنډې نوی نوی را پیدا او پورته کیدلې . استعماری طاقتونه جنگ دومره ځپلی وه چه نور ئې د خپلو ډیرو او پراخو مستعمراتو د ساتلو توان نه درلود د هندوستان خلکو هم د خپلی خپلوا کی لپاره مبارزه تیزه کړه بالاخره انگلیسان دهند څخه و تلوته تیار شول .

دوهم نړیوال جنگ لا پوره ختم نه وو (۱۹٤٤) چه افغانستان د هند آخرینی ویسرای (Lord Louis Mountbatten) ته په یو لیک کې د دیورند د لاین او د سرحد د مسئلې د حل ذکر وکړ. هغه په ځواب کې ورته ولیکل چې دا مسئله باید د آینده قانونی حکومت سره فیصله شی. دی خبری افغانستان ته امیدواری ورکړه .

په ۱۹٤٦م کال کی د افغانستان د رهبری په کدر کی لوی تغیر راغی هغه دا چی محمد هاشم خان صدر اعظم د ناروغی په وجه د خپلی وظیفی څخه استعفا وکړه او پر ځای ئی وروړ شاه محمود خان صدر اعظم شو. شاه محمود خان آزاد طبیعت او نسبتاً دیموکرات سړی ؤ د ده په وخت کی خلکوته د مملکت په اجتماعی، اقتصادی، فرهنگی او سیاسی مسایلو کی د فکر کولو او برخی اخیستلو نسبی آزادی پیدا شوه. دا فکرهم په دی دوره کی پیدا شو چی د مملکت د پرمختگ لپاره باید خارجی مرستی را جلب شی. د بغراکانال چه د هلمند په ولایت کی د افغانانو له خوا په محلی وسایلو کیندل کیدی (بغراکانال د خپل وخت ډیرلوی کانال وو چی تقریباً دیرش زروکسو د ورځی کار پکښی کاوه) دی مرحلی ته ورسید چه د ځینو تخنیکی عواملو په وجه ئی نور په محلی وسایلو مناسب او سریع پرمختگ ممکن نه وو. باید خارجی مرسته غوښتل شوی وای. په ۱۹۴٦م کال کی د یوی امریکائی کمپنی سره (Morison-Knudsen) د هلمند او ارغنداب د ناوی د سروی کار قرارداد شو. نوموړی کمپنی چی محوله سروی پای ته ورسول. افغانستان د نوموړی پروژی د جوړښت او پراختیا کارهم د همدغه کمپنی سره قرارداد وکړ. د افغانستان حکومت پس له ډیره غوره څخه امریکایان غوره کړل. داځکه انگلیس او روس دواړوته د افغانستان خلک د لیرو دښمنیو پواسطه بدبین وه. د جرمنی او جاپان سره ئی چه د دوستی سابقه درلوده. هغوی دواړو په دوهم نړیوال جنگ کی ماته خوړلی وه. د دوی مرسته نوره د افغانستان سره ممکنه نه وه امریکا یوازینی مملکت ؤ چه هم د افغانستان څخه ډیر لیری پروت ؤ هم ئی تخنیک ډیرمخته تللی ؤو اوهم ئی د افغانستان سره د دښمنی کوم

تاریخ له درلود . بل دا چه تر دوهم نړیوال جنګ پوری امریکا په بین المللی سیاست کی خصوصاً زمونږ په منطقه کی دومره مهم رول نه درلود . د دی تړلودلایلو له مخی افغانستان د امریکا څخه د هیلمند او ارغنداب دناوی په آبادولو کی په دی فکر چی د هغه هیواد څخه به کمترین ضرر عایدوی مرسته وغوښته . دا لومړی مرسته وه چی افغانستان پس له دوهمی نړیوالی جګړی څخه دیو خارجی لوی طاقت څخه تر لاسه کړه .

په ۱۹٤۷م کال کی د هندوستان د آزادی موضوع رامنځ ته شوه افغانستان غوښتل چی د سرحد مسئله حل شی . انګریزانو او د هغه وخت د هندوستان خلکو داسی فیصله وکړه چی د سرحد د خلکو څخه پوښتنه وشی (ریفراندم) چی د هند سره یوځای کیږی که د مسلمانانو د نوی مملکت (پاکستان) سره . افغانستان د مخه تردی چی ریفراندم عملی شی د هغه پرمحتویات ئې انتقاد وکړ او د هغه ترمیم ئې وغوښت. دافغانستان دی اعتراض ته انګلسیانو غوږ ونه نیو او ریفرندم د هند او پاکستان په منځ کی د انتخاب پر اصل عملی شو. لکه څنګه چی پیش بینی کیده د سرحد پښتانه په پاکستان پوری وتړل شول . افغانستان خفه شو . پاکستان په ١٤ اګست (۱۹٤۷م) کی جوړاو رسماً اعلان شو .

روسانو د موقع څخه استفاده وکړه او افغانستان ئې تشویق کړچی پرنوی جوړ شوی پاکستان چی تراوسه لا پرپښونه وو دریدلی حمله وکړی صوبه سرحد او بلوچستان څینی ونیسی . افغانستان دیوی خوا د روسانو په نیت ښه پوهیدی چی څه غواړی او د بلی خوائی د یو مسلمان ورور سره چی تازه ازاد او د هندوانو څخه جلا شوی ؤ جنګ

کول نه غوښتل نوصبر او تامل ئی غوره وگانه او د جون ۲۱ (۱۹٤۷) تاریخ ئی هغه اعلان بیا تکرار کړ «چی که پاکستان مستقل او غیر جانبدار پاته شی موږ د هغه حمایه کوو. افغانستان په وچه محاط هیواد دی چی بحری لاری ته ضرورت لری دیو مستقل او آزاد پاکستان سره به ټول مشکلات د وروری له لاری په آسانی سره حل شی» .

انگریزانو د هند او پاکستان څخه په وتلو پیل وکړ د ټولو ځایو څخه ووتل مگر د افغانستان ته څرمه سرحداتو څخه پوره ونه وتل او د ٤٨ په شمیر فوځی ټولی عسکرئی ځای پر ځای پریښودل . دی وضعی افغانستان سخت نا آرامه کړ اود پاکستان پر استقلال او غیر جانبداری مشکوک شو. د انگلیس په مشترک المنافع سازمان کی .

(British Common Wealth of Nations) د پاکستان پاته کیدل د افغانستان بدبینی نوره هم زیاته کړه او دا فکر د افغانستان د سیاست مدارانو په ذهن کی پیدا شو چی انگلیس د منطقی څخه پوره ندی وتلی . د دغو بدبینیو په نتیجه کی افغانستان د ملگرو ملتو په مؤسسه (United Nations) کی د پاکستان د شاملیدو په مقابل کی مخالفه رایه ورکړه (۱۹٤۷) دسمبر .

پاکستان یو حقیقت وؤ چی د هندوستان د تجزئی څخه وروسته منځ ته راغی او مجبوؤو چی دیو آزاد اومستقل هیواد په حیثیت دخپلی خاوری دتمامیت او دخپلو سرحداتو دحفاظت دفاع وکړی . د افغانستان په سیاسی محافلوکی د اخبره ومنل شوه چی پاکستان ته چه کوم

سرحدات دویش په وخت کې ورسپارل شوی دی پاکستان د هغه په دفاع مجبور دی نوئی د سولی او خبرو لار غوره وګڼله . افغانستان د ملګروملتو په موسسه کې د پاکستان په خلاف خپله مخالفه رایه بیرته واخیستله او د موضوع د اهمیت په وجه ظاهر شاه خپل مشر اکا (مارشال شا ولی خان) په پاکستان کې خپل سفیر مقرر کړ . شا ولی - خان په جون ۱۳ - ۱۹٤۸م کال کې اعلان وکړ چې زموږ پاچا هدایت صادر کړیدی او زه د افغانستان د نماینده په حیث اعلانوم چې افغانستان د پاکستان سره تردی وروسته د سرحداتو اختلاف نه ساتی .

د پاکستان او افغانستان روابط نسبتاً ښه وه خو هغه وخت بیا خراب شوه چې داګست په ۱۲ - ۱۹٤۹م کې د پښتونستان په نامه ملی اسامبله د میرزا علی خان (مشهور په فقیرایپی) په مشری جوړه او د پښتونستان آزادی ئې اعلان کړه په بلوچستان کې شهزاده عبدالکریم - خان هم د فقیرایپی لار تعقیب کړه . د لیاقت علی خان او د کابل د حکومت ترمنځ د سؤ تفاهم په وجه لفظی جنګ شروع شو ډیرو کسانو منځ ګړیتوب وکړ څه فایده ئې ونه کړه . سرحدات به څینې وخت بند وه څنې وخت خلاص ، چې د افغانستان پر اقتصادی انکشاف ئې ډیر بد اثر کاوه د هیلمند پروژه چې امریکایانو په هغه کې کارکاوه په دغه وجه ډیر وځنډیدل او نور انکشافی پلانونه هم متضرر شول .

افغانستان د خارج سره د ارتباط د اقتصادی انکشاف دبڅنډه ادامې او د صادراتو او وارداتو لپاره یوی داسې لاری ته ضرورت درلود چه مطمئنه او همیشه خلاصه وی . دالار یوازی د روسی لاروه . افغانستان بنا پر دغه مجبوریت د اولین وار لپاره شوروی روسیې ته مخ

واړاوه او په جولای ۱۹۵۰م کې ئې د بار تری تجارت یوځلور کان قرار داد ورسره لاسلیک کړ. دالومړی قدم وؤ چې افغانستان د روس خواته ور واخیست.

روسانو په ۱۹۵۲ م کې په کابل کې تجارتی دفتر هم خلاص کړ.

په دغه وخت کې د افغانستان په داخل کې سیاسی حرکتونه پیدا شول چې مشهور ئې د ویښو زلمیانو تحریک وو چې په (۱۹٤۹) په قندهار کې منځ ته راغی کرار کرار په ټول مملکت کې ئې اثرپیدا کړ. اکثراً تعلیم یافته ځوانان اوځینې د حکومت لوړ رتبه مامورین په دغه حزب کې وه. ویښ زلمیان ټول هغه کسان وه چې د مملکت د هغه وخت د موجوده وضعې څخه ناراضه وه. دوی په پارلمان کې چې تازه ئې قدرت او د حکومت څخه ئې د پوښتنې او استجواب حق ترلاسه کړی وو نفوذ درلود همدا راز ئې په مکاتبو کې هم لوی اثر وو چې د حکومت پر ضد ئې فعالیت کاوه. دوی د شاهی خاندان مخالف وه او ځینې نورو ئې بیا ملایان د مملکت د عقب ماندگی سبب گڼل. وطن، انگار او ندای خلق ددی دوری مهم غیر حکومتی جراید وه چې خپریدل. د محصلینو اتحا یه هم په دغه وخت کې جوړه شوه لنډه دا چه په افغانستان کې هغه وخت نسبی دیموکراسی وه. ویښ زلمیانو او نوری تعلیم یافته طبقې په داسی حال کې چې ځانته ئې خاصه او مشخصه ایډیالوژی نه درلوده او اکثر ئې غرب زده وه داسی تیز او چټې حرکت کاوه لکه ځوک چې ئې دیو خارجی استعمار گر طاقت په مقابل کې کوی. دوی

د دوو داخلي لويو طاقتو سره همزمان جنګ کاوه لکه شاهي کورنی او ملا و روحانیون . دوی د امیر امان الله خان پر پلمه روان وه خو د هغه د سرنوشت څخه ئی درس نه وو اخیستی حکومت و ویرید چی مبادا اداره ئی د کنترول څخه ووزی ، په ۱۹۵۱ م کی ئی د محصیلنو اتحادیه رنګه اوځینی محصلان ئی بندیان کړل . په ۱۹۵۲ م کی ئی ټول غیر حکومتي جراید بند او د ویښو زلمیانو د تحریک مشران ئی هم ولیول . په دی ډول نسبي دیموکراسی هم له منځه ولاړه .

د مملکت داخلي وضعی پر عمومي اداری ، دهیلمندد پروژی پرناکامی ، او د مملکت د اقتصادی او اجتماعی اصلاحاتو پر بطی انکشاف او ورسره یو ځای د قدرت پرویش د شاهي کورنی په منځ کی اختلاف را پیدا کړ . یوی خواته ظاهر شاه او دده دوه سکه کاکاګان (شاه ولي خان او شاه محمود خان) او بل طرف ته ئی سردار محمد - داؤد ، دده وررور (سردار محمد نعیم) اواکائی محمد هاشم خان وه . د ظاهر شاه د درو اکاګانو دهو ښیاری برکت وؤ چی د اکا زامنو ترمنځ ئی دا نزاع بیله خشونت څخه موقتاً داسی فیصله کړه چی شا محمود - خان به استعفا کوی سردار محمد داؤد به صدر اعظم او سردار محمد نعیم به هغه معاون او وزیر خارجه مقرر کیږی اوظاهر شاه به‌هم هغسی پاچا وی .

په ۲۰ سپتمبر ۱۹۵۳م کی شاه محمود خان استعفی او سردار - محمد داؤد د افغانستان صدر اعظم و تماکل شو . داؤد خان یوچپ‌ګرا غیر مذهبي ، مستبد ، قدرت پسند او دکتاتور ولی کارګر عفیف ،

صادق او د ملی صبغی در لوونکی جنرال ؤو . دده استبدادی مزاج او قدرت پسند طبیعت ده ته اجازه نه ورکوله چی په مملکت کی دی سیاسی افکار رشد وکړی او د سبا لپاره دی د رهبری کدر تربیه شی ، ده خپل سیاسی مخالفین په هر شکل چی وه سرکوب کړل او په ملک کی ئی داسی څوک پری نښود چی خلک دی پر هغه سبا راټول شی . اما په مملکت کی انکشافی فعالیت ته توجه زیاته شوه پنځه کلن انکشافی پلانونه جوړ او د خارج کوسکونه را جلب شول .

فنی کدر تربیه کیدی . او د مملکت پر هر گوټ کی لوئی او وړی پروژی شروع شوی .

په دغه وخت کی سردار محمد هاشم خان پخوانی صدر اعظم هم وفات شو (۲۶ اکتوبر ۱۹۵۳م) . که څه هم داؤد خان چپ مزاج سړی وو خوبیائی هم غوښتل چی افغانستان بی طرفی وساتی امریکائیانو ته ئی په ۱۹۵۳م کی د کابل د ښار د سړکانو د قیرکولو (Asphalt) درخواست وکړ خو هغو دلچسپی ونه ښووله بیا هغه کار روسانو وکړ .

روسانو موقع مناسبه وگڼل . ددی لپاره چی په افغانستان کی خپل پلانونه ښه منظم مخ ته بوزی او په عین حال کی افغانستان د خپل ځان څخه په لومړی سرکی ونه ویروی نو خپل یو مزدور حکومت (چکوسلواکیا) ئی افغانستان ته رامخ ته کړ .

په ۱۹۵٤م کی افغانستان د چکوسلواکیا سره تجارتی قرار داد لاسلیک کړچی دهغی په اساس چکوسلواکیا ۱۰ میلیونه ډالره په ۳ فیصد سود اواته کاله مدت افغانستان ته پور ورکړ چی په دغه

کریدت په د چکوسلوا کیا څخه سمنت ، ښیښه او د کندهار د ډیوی د پراسیس کارخانه را نیسی . چکوسلوا کیا په همدغه کال یوبل تجارتی قرار دادهم د افغانستان سره امضأ کړچی د هغی په اعتبار چکوسلوا کیا افغانستان ته ماشین آلات ، موټراود تیلی کامونیکشن وسایل ورکړل او په عوض کی ئی پنبه ، وړی ، غوړی دانی اووچه میوه یوړل .

په همدی کال ئی په کابل کی یو تجارتی دفترهم خلاص کړ . په فبروری (۱۹۵۵م) کی پاکستان د بغداد په پکت کی شامل شو . [په (۱۹۵۸م) کی د دی پکت مرکز له بغداد څخه انقری ته په عراق کی د کودتا او د هغه پکت څخه دوتلو په وجه انتقال شو . په (۱۹۵۹م) کی دا پکت د سنتو (CENTO) په نامه یاد شو] . افغانستان د پاکستان شاملیدل د بغداد او سنتو په پکت کی د ځان په خلاف وبلل او ادعائی وکړه چی پاکستان د روسی سره کوم سرحد نه لری چه د هغه طرفه په تشویش کی وی او هندوستان هم دومره لوی طاقت نلدی چی پاکستان باید د هغه په مقابل کی په پکت کی د غربی دنیا سره ځان شامل کړی او د چین سره خو دوستانه روابط لری نو دا یوازی افغانستان دی چی پاکستان خطرځینی احساسوی او د هغه سره د مقابلی لپاره د غربی دنیا څخه مرسته غواړی . که څه هم پاکستان ، انگلیس ، امریکا ، بار بار دا خبره کړیده چی دا پکت د افغانستان په مقابل کی ندی بلکه د ایزنهاور د دکتورین په اساس د روس تهدید او محصور ول دی خو افغانستان قانع نشو .

داؤد خان د امریکا څخه د وسلی او نظامی مرستی درخواست وکړ . امریکا په ځواب کی ورته وویل چه که د بغداد په پکت کی

شاملیږی بـه او که نه مرسته نشی ور سره کیدلای . افغانستان دا شرط د خپلی عنعنوی بیطرفی د اصل پر بنیاد رد کړل . دوپری Dupree په خپل، کتاب کی (افغانستان صفحه ۵۱۱) کی لیکی چه حتی افغانستان مایل وو چی د بغداد په پکت کی شامل شی پدی شرط چی امریکا دا تضمین وکړی چی که چیری پر افغانستان د روس له خوا حمله کیږی یا تخریبات شروع کوی امریکا به د افغانستان په کلکه دفاع کوی . د دوپری په قول افغانستان په هغه وخت کی غربی دنیا ته مهم نه وو او د هغه په دفاع کی دوی ته ډیره گټه نه وه نو څکه امریکائی نظامی پلانگذارانو د افغانستان دا درخواست رد کړ .

د امریکا له خوا د افغانستان سره د نظامی مرستی ردیدل افغانستان نورهم په تشویش کی و اچاوه او د خپل امنیت په فکر کی شو خوبیائی هم د صبر او تأمل څخه کارواخیست او کتل ئی چه څه پیښیږی . په اگست ۲۷ (۱۹۵۵م) کی شوروی روسی د افغانستان سره د بارتری تجارت یو قرارداد لاسلیک کړ د همدغه کال په دسمبر کی بولگانین او خروشچف کابل ته سفر وکړا او د (۱۹۳۱) د بی طرفی او عدم مداخلت معاهده ئی دلسو نورو کالونو لپاره تجدید شو .

په جنوری ۲۸ (۱۹۵٦) کی روس افغانستان ته دسلو میلیون ډ لرو دپور اعتبار ورکړ او وعده ئی وکړه چی د افغانستان په لومړی پنځه کلن انکشافی پلان (۱۹۵٦-۱۹٦۱م) کی به مهم سهم اخلی . په همدی کال روسانو پلخمری او دنغلود برق د کارخانو د سروی قراردادهم دافغانستان سره لاسلیک کړ . په اگست (۱۹۵٦) کی افغانستان د روسی سره د نظامی مرستو قرارداد د ۲۵ ملیونه ډالرو په ارزش لاسلیک کړ . ددغه

قرارداد په موجب روسی تعهد وکړ چه افغانستان ته به ټانکونه ، میگ الوتکې ، هلیکوپټر او ماشیندار ټوپک تحویلوی اوهم به د بگرام ، شین ډنډ او مزار شریف عسکری هوائی ډگرونه جوړوی.

دا صرف یوازی د عسکری سامان الاتو او جنگی وسایلو قرارداد نه وو بلکه په نظامی چارو کی د افغانی پرسونل تربیه کول هم شامل وه . د دغه قرارداد په بنیاد افغانی صاحب منصبان شوروی روسی ته د نظامی زده کړی لپاره ولاړل . له یوی خوا په روسیه کی عیش او عشرت نجونی ، شراب ، او بی دینی چه په افغانستان کی ئی د دی شیانو تصورهم نه کاوه او له بلی خوا د دوی د دماغو د پریوللو او د کمونیزم د مفکوری د ترزیق کولو لپاره د روسانو منظم پروگرام د دی موجب شو چی اکثراً افغانی صاحب منصبان دی د روسانو ترتاثیر لاندی راشی . روسانو به هغوی ته دایماً ویل چی د روسی او سنی ترقی ټول د کمونیزم د فلسفی برکت دی هر مملکت چی دا لار تعقیب کړی همداسی پرمختگ به وکړی . افغانانو چی به د خپل کور ، کلی او وطن دا بدحال ته فکر کاوه او بیا به ئی د روسانو مادی ترقی ته وکتل نوهر هغه څه چی به روسانو په صنف کی ورته ښوولی وه . په خپل ذهن کی قبول کړه . په دی ډول روسانو خپله مفکوره افغانستان ته ورننه ایستله او په ځوانه طبقه کی ئی ځای وانیو .

افغانستان په دی پوهیده چی روسانو ته ډیر تمایل څه خطرات لری خو چاره څه وه ؟ بیائی هم ددی لپاره چی خپله بی طرفی ئی ساتلی وی او د روسانو اثرات ئی پر مملکت یوڅه کم کړی وی د امریکائیانو سره یو تعداد قراردادونه امضا کړل چی مهم ئی په همدی کال ۱۹۵۰

دکندهار د بین المللی هوائی ډگر جوړول وو . د دی قرارداد اعتبار (۱۵) میلونه ډالره وو . همداراز په آریانا افغان بین المللی هوائی شرکت کی هم امریکائی کمپنی (Pan Am) ته د شرکت امتیاز ور کړل شو .

په همدی کال (۱۹۵٦) کی روسانو د افغانستان سره نور مهم اقتصادی قراردادونه هم امضا کړل . چی مهم ئی د جنگلک د کارخانی ورکشاپ ، د شیرخان بندر څخه تر کابل پوری دسړک جوړول ، دری کیلو متره اوږد د سالنګ دتونل جوړول ، د کابل د هوائی ډگر اصلاح، په مزار شریف کی د کمیاوی سری د فابریکی جوړول د شیر خان بندر اصلاح او ځینی نوری وړی پروژی .

افغانستان د روسی سره د خپل نظامی تړون تشویش درلود نوئی ځکه امریکاته درخواست وکړ چی افغانی صاحب منصبان په نظامی چاروکی تربیه کړی هغو دا درخواست تر یوحده ومانه دغه سبب ؤو چه هر کال به یوتعداد صاحب منصبان (خصوصاً هوائی) امریکاته تلل او تر تحصیل و روسته به ئی په افغانستان کی روسی میگ الوتکی چلو لی . افغانستان غوښتل چی خپل نظامی ضروریات له بیلو بیلو ځایو څخه تر لاسه کړی څو د شوروی په انحصار او فشار کی نه وی نو په مارچ (۱۹۵۷) کی افغانستان امریکاته د نظامی مرستو د لاس ته را وستلو د امکان پیشنهاد بیا وکړ د دغه موضوع لپاره په ۳۱ مارچ (۱۹۵۷) کی دایزنهاور خاص استازی (Richards) کابل ته ولاړ . خوکومه نتیجه ئی ورنه کړه داځکه چی افغانستان په وچه محاط مملکت ؤ چی امریکا ته ئی مستقیم گټه نه رسیده او فکر ئی کاوه چی که روس ئی هم

ولیسي پروا نه لري داځکه چي بحر هند ته بیاهم لارنشي پیدا کولای . نوځکه ئې داسي راپور د امریکا حکومت ته وړاندی کړچي د هغه په اساس امریکا باید افغانستان سره نظامی مرسته نه وای کړی . همداسي وسره . دوپری په خپل کتاب (افغانستان ص ۵۲۳) کي لیکی چه «د امریکا پالیسی د (۱۹۵۰) په لسیزو کی داوه چي هر څوک چي د روسي سره نژدی ارتباط لري او مرسته ورځخه اخلي هغه کمونست دی» . نوموړی مؤلف لیکی چي «حتی د امریکا یو لوړ رتبه د پیلومات خپله داؤد خان ته وویل چي افغانستان به څوکاله و روسته د کمونیزم تر تسلط لاندی راشي» . په دی ډول افغانستان مجبور وُچه د روسي سره دوستانه تعلقات وساتی امریکائیانوهم پدی ډول افغانستان روسانو ته ورپری ښود او د هغه د نفوذ تر ساحی لاندی ئې هیواد قبول کړ .

د «افغانستان» د کتاب مؤلف چي پخپله امریکائی دی به ۱۹۷۲ کی لیکی « ـ ـ ـ ـ که چیری یوضد امریکائی کودتا (د افغانستان) په مسلحوقواوو کی پیښیږی د امریکا د (۱۹۵۰) دلسیزو د نظامی مرستو زسوخته (سخته او نا ملایم) فلسفه په د هغی په مسئولیت کی شریکه وی ص ۵۲۳» همداسي پیښه شوه روسانو په افغانستان کی په ۱۹۷۸ کی کودتا وکړه او نور محمد تره‌کی ئې پر قدرت راوست نوری دنیا ورته کتل ، په (۱۹۷۹) کی حفیظ الله امین قدرت ته و رسید ټولو ورته کتل او په (۱۹۸۰) کی پخپله روسیه د (۸۵۰۰۰) فوځ سره په یوه کوچنی ، غریب او بی طرف مملکت باندی د دوستی په نامه برید وکړ او ټولی دنیا ورته کتـل . اوس ئې دبي گنـا افغانستان څخـه قصابخانه جوړه کړیده ، واړه ماشومان ، ښځي او زلمی په دی گناه د ناپالم بمونو په سرو لمبو کی سوځوی چـی د بـل چـا ارادی تـه نـه

تسلیمیږی . د مکتب نجونی او هلکان پدی خاطر د روس د تړانګونو تر ځنځیرانو لاندی کیږی چه هغوی پخپل وطن کی خپل اختیار غواړی . دا هرڅه نوره دنیا وینی خو اقدام نکوی وائی چه افغانستان مروږته ستراتیژیکی اهمیت نه لری او په وچه یو محاط غریب ملک دی دا که د روس وی نوڅه ؟

په (۱۹۵۷) کی ظاهر شاه روسیې ته سفر وکړ دی سفر د روس او افغانستان ترمنځ علایق لور هم زیات کړل او روسانو افغانستان ته د لورو مرستو وعده ورکړه .

په ۲۶ جون ۱۹۵۸م کی د روس او افغانستان ترمنځ د آمو رود څخه د بریښنا او آبیاری په منظور پروتوکول لاسلیک شو . په همدی کال چکوسلواکیا هم د افغانستان سره یو بارتری تجارتی قرار داد لاسلیک کړ . پولیند هم افغانستان ته د دوه میلیونو ډالر وپور اعتبار ورکړ چی افغانستان به د پولیند څخه د کمیاوی موادو ، نساجی ، زراعتی او صنعتی سامان آلات رانیسی او په عوض کی به ئی پنبه ، وړی ، پوست او میوه وړی .

په ۱۹۵۹ م کی د (Cento) د تړون په اساس په پاکستان خصوصاً په پیښور کی امریکائی نظامی تاسیسات جوړول افغانستان ته سرحدی تشویش نورهم ډیر کړ. په همدی کال د افغانستان نوجیانو ته داښکاره سوه چی روسانو افغانستان ته زاړه تیاکوله ، طیاری نظامی موټران او سامان آلات ورکړی دی صرف نوی رنګ ئی ورکړی‌او ترمیم شویدی . ظاهر شاه او داؤد خان دواړه عسکری جنرالان او د فرانسی فارغ التحصیل صاحب منصبان وه . هرڅه ئی پخپله ملاحظه کړل

دوی هم ناراضه معلومیدل ولی څه ئې کولای سوای غربي دنیا ددوی دمرستی درخواست څو څو واره رد کړی وو.

په دسمبر ۱۹۵۹ م کی ایزنهاور (د امریکا جمهور رئیس) کابل ته سفر وکړ. دده د سفر د نتائجو څخه داوه چی امریکائیان به دکندهار- کابل سړک ، د کندهار - سپین بولدک سړک پخوی او د هیلمند د پروژی د اصلاح او پراخیا په لارکی به مرسته کوی خونظامی مرسته ئې رده کړه .

د ایزنهاور سیاسی فلسفه داوه چی روس په سیاسی او نظامی طور سره احاطه کړی .

د افغانستان بیطرفی د پاکستان او ایران شا ملیدل په سینټو پکت کی دده د رضایت سبب وؤ . دده په نظر افغانستان د دومره اهمیت دراودنکی نه ووچی په زیاتو اقتصادی او یا نظامی مرستو دی وارزی . دده خاص استازی (Richards) او نظامی مشاورینو د افغانستان غرنی حالت د لوجستیکی لحاظه او د بحر څخه لیری والی په ستراتیژیکی لحاظ ددی لایق نه ګڼل چی د غرب ډیر کومکونه دی ورسره وشی .

په دی ډول د ایزنهاور له سفره کومه خاصه نتیجه او په زړه پوری ګټه لاس ته را نغله د ده د معاون (ریچاردنکسن) د سفر څخه د افغانستان په عام اولس کی تراوسه دا خبره خوله په خوله ویل کیږی چه هغه په کابل کی د خپلو امریکائیانو سره په یو مجلس کی ویلی وه چه اقغانستان ۱۲ ملیونه نفوس لری چه یود بله غله دی . داسی خلک اصلاً په کومک نه ارزی . که څه هم زما زړه ته داله لویږی

چی دا خبره دی د یولوی سیاست مدار اویو زمه‌وار سړی له خولی په عام محضر کی شوی وی خودا راته هم یقین دی چه نیکسن افغانستان ته ښه نیت نه درلود که نه ولی د افغانستان خلکو په ایزنهاور یا بل چاپسی دا خبری نه تړلی . نکسن د خپل جمهوری ریاست په دوران کی هم د افغانستان سره کوم د ویلو وړ تعلقات ندی ساتلی .

د افغانستان سره د امریکائیانو سوړ چال چلند له یوی خوا افغانستان لورهم روسانو ته اجباراً ورځ په ورځ ورنژدی کاوه او د بلی خوا د پاکستان ورځ په ورځ نظامی پیاوړتیا ددی سبب شوه چه په ایوب خان (چی پخپله یو نظامی افسروو) او دده په مشاورینو کی غرور غیرواقعیت بینی او د زور آزمائی فکر پیدا کړی . د افغانستان د حاکمه طبقی غیر ملی سیاست هم ددی سبب سو چی وئ نکړای سوای د پاکستان سره د تفاهم لار پیدا کړی .

دافغانستان نژدیوالی روس ته او دپاکستان نظامی پیاوړتیا د دوو گاونډی اوورونو هیوادو (افغانستان او پاکستان) تر منځ مناسبات ورځ په ورځ خرابول . روسانو ددی وضعی څخه دایماً په خپله گټه بهره برداری کوله . په هره خپرونه او اعلامیه کی ئی د پښتونستان مسئله یا دوله او پر اور بی تیل پاشل . هندوستان هم د پاکستان سره د دښمنی په وجه د پښتونستان مسئله په هر مجلس کی یادوله او خپل حمایت ئی څرگنداوه . د خان عبدالغفار خان او دده د نورو ملگرو موجودیت په افغانستان کی دا مسئله هیڅکله سړیدوته نه پریښوده د دواړو مملکتو رادیوگانو یو په بل پسی پروپاگندونه شروع کړل . سرحدونه بند شول او د پاکستان حکومت د افغانستان د کوچیانو د عادی تگ را تگ

مخ ولیو . (په ۱۹٦۱م کې د پاکستان د فوځ او کوچیانو ترمنځ سخت جنګ و نښت) . د افغانستان او پاکستان ترمنځ ذ ورځ په ورځ زیاتیدونکې تریخوالی او د سرحد هر وخت بندیدل د افغانستان په سرحدی خلکوېي داناارضایتي راولاړه کړه اوویل ئې چې که ددی دواړو حکومتو سیاست هر څه وی وی به خوسوږ د سرحد د دواړو خوا وخلک یو دبل خپلوان او د یو قوم خلک یو موږ مجبوریو یو اوبل ته آزادانه بیله پاسپورته ولاړ او را شو . نیم قوم د سرحد یوی خوا نیم بلی خواته دی. یو ورور یوی خواته‌بل بلی خواته داکازامن دخط پر دواړه خوا پراته دی. او د بلی خوا دسرحد بندیدل دافغانستان اقتصادی پروژی تقریباً فلج کړی وی‌چه د موادو د آزاد تګ او راتګ پرته د هغو سرته رسول مشکل وو . روس په دی حالاتو کې سخت فعال وو افغانستان ته ئې د هر راز سرستو ترانزت او نوری آسانتیا وی برابرو لی مثلاً د ننګرهار د آبیاری پروژه ، د سردی د ابیاری پروژه ، د نغلو د بریښنا او بند د ساختمان پروژه، د پنجشیر پر رود د برق د پروژی او داسی نوری لویو او وړو پروژو قراردادونه ئې د افغانستان سره وکړه . خودی ټولو اسانتیا وو هغه مادی او معنوی ضرر نشوای جبران کولای چې د پاکستان د سرحد د بندیدو څخه پیښ وو . خصوصاً د سرحدی خلکو د شکایت سیاسی اثر پر حکومت ډیر دروند وو بیله دی بله چاره نه وو چې سیاسی صحنه باید بدله شی .

پردی ټولو واقعیاتو سربیره د داؤد خان تند مزاجی او قدرت طلبی ظاهر شاه پټ ډیر ځوراوه چه مبادا یوه ورځ د ده سلطنت دهمدی داؤد خان له لاسه نسکورشی نوئی په خپل کور کې مشوری شروع

کړي . داؤد خان هم له یوې خوا د سیاسي صحنې د تغیر ضرورت محسوساوه او له بلې خوا د ظاهر شاه سره ئې چه په دیرش کاله پاچاهۍ کې ئې ډیرې تجربې تر لاسه کړې او په ولس کې ئې پوره ځای نیولی وو هم مقابله نشوای کولای هغه وو چې په ۳ مارچ (۱۹٦۳م) کې داؤد خان د خپلې وظیفې څخه استعفا وکړه او پرځای ئې ډاکتر محمد یوسف صدر اعظم شو . روسان د داؤد خان په استعفا ډیر خفه شول خو د افغانستان نوې حکومت روس ته د خپلې بیطرفۍ او د هغو سره دښوسناسباتو د ساتلو وعده ورکړه . د داؤد په استعفا او د ډاکتر محمد یوسف په تقرر سره په افغانستان کې د مشروطه شاهۍ او یو قانوني حکومت د منځ ته را تللو لار هواره شوه . د پاکستان او افغانستان مناسبات عادي شول ، سرحدات خلاص شول او اقتصادي پروژو په فعالیت شروع وکړه . نوې اساسي قانون جوړ او په ۹ سټمبر (۱۹٦۴) کې اعلان شو . دې قانون د پاچا او دده د کورنۍ ، د خلکو ، شورا ، قضا ، او اجرائیه قوې وظایف او مسئولیتونه تعین کړل . پاچا واجب احترام ولې غیر مسئول وو دده د کورنۍ غړو په لوړو مهمو پستوکې کار نشوای کولای خو بالقوه ټول او هرڅه د دوی په لاس کې وه . خلکو ته قانوني آزادي او د سیاسي ګروپو او احزابو د تشکیل وعده ورکړه شوه .

روسانو د افغانستان د احتیاجې ورځې له یوې خوا او د اساسي قانون له آزادیو څخه له بلې خوا بده استفاده پیل کړه او په ملک کې ئې د خپلې نظرې د طرفدارانو په علنې حمایه لاس پورې کړ . دوی نور محمد تره کی او ببرک کارمل او نورو کمونستانو ته کتابونه ، چاپ شوې مواد او پیسې رسولې . حکومت هم دوی ته د روس له ویرې او

د خپلې بې‌ایمانۍ په وجه څه اندېښنه ویلای حتی هغوی ئې د خپل بقا لپاره حمایه کول . د دوی تعداد ورځ په ورځ ډیرېدې چې ببرک ، اناهیتا ، نور احمد نور او حفیظ الله امین چه د کمونستانو مشران وه د حکومت په مرسته ولسي جرگې ته راغلل او د حکومت په هر تصمیم کې ئې د مداخلې حق پیدا کړ تردی چې د ډاکتر محمد یوسف صدر اعظم د دوهم وار تقرر په مقابل کې ودرېدل ، نا خود اگاه محصلین ئې را و پارول او پر ولسي جرگې ئې حمله وکړه په سبائی ۲۵ اکتوبر (۱۸٦٥) د ډاکتر یوسف د کور په مخ کې د عسکرو سره جنگ شو او دری کسه مړه شول او څو نور زخمیان شول چې دا ورځ د عقرب په دریمه شهرت لری . څلور ورځې وروسته ۲۹ اکتوبر (۱۹٦٥) ډاکتر یوسف مجبور شو چې دمحصلینو او متعلمینو دارامی لپاره استعفا وکړی . پرځای ئې محمد هاشم میوندوال صدر اعظم وټاکل شو . نوموړی پوهنتون ته ٤ نومبر (۱۹٦٥) ولاړ او په فاتحه خوانی مجلس کې ئې گډون وکړ چې د دریمې د عقرب د شهیدانو په یاد جوړ شوی وو . دا مجلس د کمونیستانو له خوا تنظیم شوی وو . عام محصلین تر هغه وخته نه پوهیدل چې دا ټول تحریکات کمونیستان کوی داځکه هغه وخت احزاب نه وه او که وه دومره د پردې تر شاه وه چې عامو خلکو اندېښنه ويلای و روسته معلومه سوه چې د ایران د حزب توده خلکو په کابل کې د شرقی المان په سفارت کې ځای نیولی وو او د کابل مظاهری ئې د ببرک ، اناهیتا او نورو کمونستانو له لاری رهنمائی کولی . زه (ددی کتاب لیکونکی) په هغه وخت کې په پوهنتون کې محصل وم . میوند وال راغی او په خپله موقع شناسه او جذابه بیانیه ئې هلکان ارام او

قانع کړل . خو کمونیستانو چون دیو پلان په اساس کار کاوه پیشنهاد وکړ چی موږ د محصیلینو اتحادیه غواړو . صدر اعظم هم په داسی حساسه موقع کی مجبور ؤ مثبت ځواب ور کړی کمونیستانو داعتصاباتو ختم اعلان کړ موږ ټوډل صنفوته ولاړو او د محصلینو د اتحادئی لپاره انتخابات شروع شول . اکثریت محصلینو خصوصاً اطرافیانو د سیاست سره علاقه نه ښووله داځکه موږ او پلار ئی په کوچینوالی لا دوی ته د حکومتو ظلمونه هر وخت بیانول او دوی پخپله هم دسردار محمد هاشم ـ خان او داؤد خان د اختناق دوری ، مرگ او زندانونه لیدلی وه نو اکثرو محصلینو د حکومت له ویری په سیاست کی برخه نه اخیستله خو کمونیستانو چی ترشائی روس غوندی پشتیوانه درلوده او د حکومت ضعف هم ور معلوم وو او حتی پخپله د حکومت د غټو خلکو اولاد کمونستان وه نوځکه د هیچا څخه نه ویریدل علناً ئی پر حکومت انتقاد کاوه او پر ضدئی بیانئی ور کولی او ځانو ته به ئی سرتیری وطن پرستان ویل . کله چی دوی ځان د اتحادئی لپاره کاندید کړ اکثرو هلکانو دوی ته رایه ور کړه . اتفاقاً استاد سیاف (د افغانستان د ازادی لپاره د اسلامی اتحاد رئیس) او زه دواړه په دغه اتحادیه کی د خپلو صنفوله خوا نمایندگان راغلو زه د دارالانشاغړی هم و تاکل شوم د محصلینود اتحادئی اساسنامه جوړه شوه خو په پیل کی ئی د بسم الله الرحمن الرحیم د موجودیت او عدم موجودیت پر سر ډیر بحث و شو میدان موږ سیاستاً څنی یووړ . کمولیستانو د دی لپاره چی په محصیلنو کی ډیر نفوذ پیدا کړی او خپل فعالیت او جذب نورهم ډیر کړی نوئی د اتحاد ئی په یوه جلسه کی څنی شرمونکی پشنهادونه وکړل لکه په صنفو کی دی د محصلینو لپاره حاضری نه وی ، د کامیابی اوسط دی ۴۰ نمری وی ،

یو ناکام محصل دی د دری ځانسه امتحان حق ولری ، په څلور مسلسل کاله ناکامی دی یو محصل د پوهنتون څخه خارج شی او دامی نور خواهشات چی هیڅ یو معقول پوهنتون هغه نشوای منلای . اکثریت اعضا دا پیشنهادات تصویب کړ خو مائی علنی مخالفت وکړ په اول کی ډیر تشویق او ترغیب شوم ډیری میلمستیاوی راته وشوی حتی فحشانه هم ولمسول سوم خوچی کار ونه شو بیائی تهدیدولم پوهنتون دا پیشنهادات رد کړل . کمونیستانو هم د پوهنتون اداری ته بهانه اتوله د دیسمبر په میاشت کی ئی د ساینس په پوهنځی کی د جرمنیانو پرضد اعتصاب شروع کړل چه دا امپریالستان دی او زمولږ وطن استثماروی . . . او ځینی نوری خبری . هلکانو هغه وخت امتحانونه ورنه کړل او د حوت په اواخرو کی ئی امتحانونه ور کړل چی ډیر بیچاره او ساده محصلین ددی سیاسی بیزووانی قربانی سول .

دا یوه برخه د کمونیستی فعالیتو ما د پوهنتون په ساحه کی بیان کړه ترڈی و روسته پوهنتون د سیاسی رقابتو مرکز وګرځید . کمونستان دومره سپین سترګی شول چی محصلین ئی لمونځو او روژوته نه پریښول ، غوښتل ئی د کابل پوهنتون د مرکزی لیلیی په جومات کی کانسرتونه جوړ کړی او پر دینداره محصلینوئی هرځای ریشخندونه وهل . په حکومت کی هم د دوی نفوذ ډیر شو . په هر وزارت کی کمونیستان لوړو رتبوته و رسیدل او ځینی حکومتی مامورین به بیا اماتور کمونیستان وه . حکومت هم دومره ضعیف ووچه څوک نه پوهیدی چی دا حکومت اصلاً کومه لار تعقیبوی .

د افغانستان حکومت په بین المللی ساحه کی دروس په کټه خپل

بی طرفی او په ملی ساحه کی خپلی بی کفایتی او بی تفاوتی ته ادامه ورکړه . د کابل پوهنتون د شرق او غرب د تعلیم د تقاطع ځای وو د طب او حقوقو وسیاسی علومو پوهنځیانی د فرانسویانو په لاس کی وی ، د اقتصاد او طبیعی علومو د پوهنځیانو سره جرمنیانو مرسته کوله، انجیزی ، زراعت او تعلیم او تربیة د امریکائیانو سره توامئیت درلود . د پولیتخینک پوهنځی د روسانو په لاس کی وه او د شرعیاتو د پوهنځی سره د مصر د الازهر پوهنتون مرسته کوله . د افغانستان په انکشافی پلانو کی هم د شرق او غرب سهم او رول هر چاتـه پـه واضح ډول معلومیدی مثلاً د ۱۹۶۸-۶۹ په انکشافی پلانـ کی روس ۳۲/۰۴ مليون ډالره ، امریکا ۱۶/۹ ملیون ډالره ، غربی جرمنی ۶/۳۴ ملیون ډالره ، چین ۶۳/۵ میلیون ډالره او فرانسی ۲/۹۸ ملیون ډالره مرسته کړیوه . د افغانستان د پلان په وزارت کی به امریکائیان ، روسانـ ، چینایان ، جرمنیان ، فرانسویان په یوه میز کښینستل او د مملکت د انکشاف لپاره به ئی پلانـ جوړاوه چی دا به عجیبه منظره وه مثلاً په هیلمند کی امریکائیانو ، په سرده ، ننګرهار او کوکچه کی روسانو ، په پروانـ کنړ ، دروټه او بګرامیو کی چینایانو ، په پکتیا او کابل بریښنا کی جرمنیانو او د بلخ په نساجی کی فرانسـویانـو کار کاوه ، البته روسانو نسبت نورو مملکتوته زیات سهم درلود .

په دغه دوره کی د مطبوعاتو په ساحـه کی هـم یـوڅه ازادی محسوسـه شـوه ډیـر جـرائیـد را و وتـل چی ځنی ئی مذهبی ، ځینی کمونیستی ، ځینی ملی او ځینی بیا حکومتی اوځینی آزاد وه چی په لاندی ډول ئی خلص ذکر کیږی :

| د جریدی نوم | لومړی شماره | د مصادری نیټه | سیاسی تمایل ئی |
|---|---|---|---|
| ۱- وحدت | ۳۱ جون ۱۹۶۶ | ۲۰ جون ۱۹۶۶ | خلیلی‌ئی حمایه کاوه |
| ۲- پیام امروز | ۹ فبروری ۱۹۶۶ | ۲۵ مئی ۱۹۶۶ | ضد چپ |
| ۳- افغان ملت | ۵ اپریل ۱۹۶۶ | ۱۲ مئی ۱۹۶۷ | نشنلزم |
| ٤- خلق | ۱۱ اپریل ۱۹۶۶ | ۱۶ مئی ۱۹۶۶ | روسی کمونست |
| ۵- مردم | ۱۱ مئی ۱۹۶۶ | ۱۵ جون ۱۹۶۶ | ضد خلق |
| ۶. مساوات | ۲٤ جون ۱۹۶۶ | - - | دیموکرات مترقی |
| ۷- پیام وجدان | ۲٤جولائی۱۹۶۶ | | ستم ملی |
| ۸- پرچم | ۱٤ مارچ ۱۹۶۸ | ۱۵ جولائی۱۹۶۹ | روسی کمونست |
| ۹- صدای عوام | ۲۷ مارچ ۱۹۶۸ | ۲۰ جون ۱۹۶۸ | گاندیزم |
| ۱۰- شعله جاوید | ۱٤ اپریل۱۹۶۸ | ۱۰ جولائی۱۹۶۹ | چینی کمونست |
| ۱۱- ترجمان | ۱۸ اپریل۱۹۶۸ | | آزاد |
| ۱۲- سبا | ۸ مئی ۱۹۶۸ | | ضد چپ |
| ۱۳- کمک | ۱ اگست۱۹۶۸ | ۱ اگست۱۹۶۸ | ضد حکومت |
| ۱٤- کاروان | ۲٤ سپتمبر۱۹۶۸ | | آزاد ، حکومتی |
| ۱۵- خیبر | ۱۰اکتوبر۱۹۶۸ | ۲۹اکتوبر۱۹۶۹ | ملی |
| ۱۶- گهیخ | ۱۳اکتوبر۱۹۶۸ | | اسلامی |
| ۱۷- پروانه | ۲ دسمبر۱۹۶۸ | ۲۰ جون ۱۹۶۹ | ضد حکومت |
| ۱۸- هدف | ۱۱ دسمبر۱۹۶۸ | ۱۳ اگست ۱۹۶۹ | ضد میوندوال |
| ۱۹- جبهه ملی | ۳۰ دسمبر۱۹۶۸ | ۱۵ جون ۱۹۶۹ | حکومتی |
| ۲۰- پکتیکا | ۱۰ مارچ ۱۹۶۹ | | نشنلیزم |
| ۲۱- سپیده دم | ۱۲ مارچ ۱۹۶۹ | ۱۰سپتمبر۱۹۶۹ | گذارشی |
| ۲۲- افغان اولس | ۳۰ جولائی۱۹۶۹ | ۱۵سپتمبر۱۹۶۹ | نشنلیزم |
| ۲۳- اتحاد ملی | ۱۹ جولائی۱۹۶۹ | | حکومتی |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ٢٤- روزگار | ٢٨ اکتوبر ١٩٦٩ | | آزاد - پارلمانی دیموکرات |
| ٢٥- افغان | ٦ ستمبر ١٩٧١ | | نشنلیزم - پارلمانی دیموکراسی |
| ٢٦- ندای حق | ١٥ ستمبر ١٩٧١ | ١٨ جون ١٩٧٢ | اسلامی |
| ٢٧- ملت | ٢٦ ستمبر ١٩٧١ | ١٠ جون ١٩٧٢ | کمونستی نیشنلزم |
| ٢٨- افکار نو | ٣٠ اکتوبر ١٩٧١ | ١ نومبر ١٩٧١ | اسلامی |
| ٢٩- پیکار | ١٥ دسمبر ١٩٧١ | | اسلامی |
| ٣٠- شوخک | ١٦ دسمبر ١٩٧١ | ٨ جون ١٩٧٢ | آزاد |

په دی لس کاله دوران کی (١٩٦٣-١٩٧٣ م) چی افغانان ورته په اصطلاح دلیم بندی دیموکراسی دوران وائی د افغانستان په انکشاف کی د شرق او غرب رقابت وو خود روس سهم ډیر معلومیدی او غربی نړی وله کړای شوای په اقتصادی لحاظ د روس څخه میدان یوسی. روسانو د شبرغان - روسی دغاز پایپ لاین د ۲۰۱ کیلومتر په اوږ - دوالی په ۱۹٦۸م کی جوړکړ د کابل د ښار د اوسیدونکو لپاره ئی (چی بیاوروسته اکثراً پخپله روسان پکښی او سیدل) دتا شکند پر نقشه د مکرویان تعمیرونه جوړ کړل. پولیتخنیک چی اوس دیو انستیتوت شکل لری د کابل د پوهنتون په چوکاټ کی ئی جوړکړ. د دوشی - جبل السراج سړک ئی د (۱۰۷ کیو میتر) په اوږ دوالی جوړ کړ. د مملکت په شمالی صفحاتو کی تقریباً ټولی پروژی د روسانو په لاس کی وی. د روسانو دغه ډیر ارتباط او همکاری د هغو د تعلیمی پروگرام سره یوځای مخ ته تله هغو هر کال تقریباً (۱۰۰۰)کسه افغانی ځوانان چی دوولسم به ئی ویلی وو استول هلته به ئی شپږ - اته - یالس کاله تیر کړل. د خارجیانو لپاره روسانو په مختلفو ځایو کی خاص پوهنتونونه او

انستیوتونه در لودل هغه کسان چې د روسیې څخه به راتلل تل به ئې د هغه ځای په نجونو پسې ارمان کاوه او اکثرو بیاد ځانه سره هم را وستلې . د دوی په قول هلته پر درس اوسبق ډېر فشار نه وو . ناکامی نه وه او شراب او نجونی ارزان ترین شیان وه . خود مارکسیزم زده کړه حتمی وه .

دا واضح خبره ده چې یوځوان د افغانستان غوندی تولنی څخه چې هلته د شهوت رانی پر سر شدید محدودیتونه وی یوی داسی تولنی ته ځی چې یوه ښکلی پیغله په یوه قطی امریکائی سګریټو ، یو درځن غوټو، یو دوه رویه دستمال یایو امریکائی لیلامی پتلون یا داسی نوروکم قیمتو شیانو د چا سره شپی او ورځی تیروی ، شراب میسر او د درسو فشارهم نه وی . ډېر کم کسان به وی چې هغوی پر خپل غرایزو پښی کښیږدی او درس ووائی او د روس د تولنی او مفکوری تر تاثیر لاندی دی ولاړنشی . زما سره ډیروکسانو په افغانستان کی کار کړیدی . د کابل د انجینری د پوهنځی یو فارغ التحصیل ډیرښه پوهیدی ترا کثرو هغو کسانو چې د روسیې څخه ئې ماستری او حتی دوکتورا راوړی وه . په افغانستان کی به د روسیې څخه ناکامه کسان ډېر کم ولیدل شی علت ئې دادی چې هلته د افغانانو لپاره ناکامی نه وه . په داسی شرایطو کی یوځوان طبعاً درس نه وائی په عیش او عشرت لګیاوی یوازی مارکسیزم زده کوی هغه هم دمارکسیزم مزایانه نواقص ئې . دا ځکه دوی خوحتی فرصت نه درلود چې مارکسیزم هم په دقیق صورت سره زده کړی . څه چې به په صنف کی استاد ورته ویل هغه به ئې زده او قبلول . تر صنف د باندی بیا شاګرد چیری وخت درلود چه نوره مطالعه وکړی . چې افغانستان ته به راغلل . دکتورا یاماستری

به ئې درلوده ، خارج به ئې ليدلى او ښه ژوند به ئې تير کړى وو واقعاً علمى او عملى کار به ئې په کومه پروژه کې په وس نه وو پوره نو مجبور وو د هغو نورو ملکرو سره چې دده همفکره وه يو لاس شى او دځان د بقا لپاره کار وکړى .

د غربى دنيا تعليم يافته ګان تر شرقى تعليم يافته ګانو نسبتاً لايق وه خو غرب ته هم د افغانستان د حاکمه طبقى او سرمايه دارانو اولادونه په لحاظ او واسطو تلل . چه پس له څوکاله به بيرته وطن ته را غلل چندان مفيد به نه وه نقط د ا به ئې زده کړى وه چې دورځې څنګه لباس واغوندى ، دشپې څنګه ، په واده کې څنګه لباس په کاردى ، په مجلس کې څنګه لاس او خوله و ښوروى او څنګه اکتونه وکړى چه خلک تر تأثير لاندى راولى اوهر ځاى څنګه بى موروده د خپل سفر داستانونه بيان کړى چې خلک ووائى دى خارج ديده دى . غربى دنياته يو تعداد داسى کسان هم ولاړل چې غريبان وه هلته ئې د عياشى توان نه درلود مجبور وه چې درس و وائى او په تعليم او لياقت کې ئې خپله بقا و هوسائى ليدل داسى کسان چې بيرته وطن ته را غلل ډير غنيمت او مفيد واقع شول ، د فنى پروژو او حساسو کارو اکثره دروند پيټى د همدغو کسانو پراوږو بار وو مګر په سياسى لحاظ دوى د قدرت خاوندان نه وه . داځکه چې يو خو دوى غريبان وه په حکومت کې ئې پايه نه درلوده بل حساس سياسى پستونه اشرافزاد ګانو او يا کمونستانو يا کمونست مزاجو نيولى وه په دى ډول د افغانستان په ادارى سيستم کې درى طبقى خلک وه :

۱ - اشرافيان چې معمولاً لوړ پستونه ئې اشغال کړى وه . دوى

او د دوی اولادونه اکثراً د غرب تعلیم یافته وه خو په اماتوری ډول ئی داسی ښوول چه چپی تمایلات لری دا ډله خلک عیاش، فحاش او د وطن د مصالحو په مقابل کی بی تفاو ته وه په هر څه کی ئی خپل عیش لټاوه او بس .

۲- کمونستان او کمونست مزاجه :

داډله په تعداد کی تر لومړی ډلی ډیره وه او پرڅو برخو ویشل کیده :

**(الف) د شرقی بلاک تعلیم یافته گان :-** داډله اکثراً نالایقه او پخپل مربوط فن ښه نه پوهیده خو په ندرت لایق کسان هم پکښی پیدا کیدل . د دی وجه همداوه چی لومړی خو په افغانستان کی لایق شاگردان شرقی بلاک ممالکوته په خپله رضانه تلل او له بلی خوا هلته عیش و عشرت هم دوی درسوته له پریښوول . دا ډله ورځ په ورځ په افغانستان کی ډیریدونکی وه داځکه شرقی بلاک هر کال تقریباً زر ، زرکسه د تعلیم لپاره قبلول اوبیا به ئی را استول دا خلک مناصبوته څه څه رسیدلی وه خو د خپلو بی کفایتیو په وجه هر ځای په علمی طور ناکام وه . د دوی کار خبری ، تبلیغات او پروپاگند وو . په دفتروکی د چایو مجلسونه اکثراً د همدی کسانو له خوا تاوده وه .

(ب) په دی گروپ کی د وهمه ډله داسی وه چی د مکاتبو څخه د نالایقی او اکثراً د بد اخلاق په وجه خارج شوی وه . دوی د حکومت په مقابل کی عقده اخیستی وه . په کار هم دومره نه

پوهیدل ، دوړو رتبو خاوندان وه. دځان د حمائی او د خپلی عقدی د خلاصون لپاره د داسی چاره دیو ځای کیدو په لټه کی وه چی هغه هم په لیاقت کی تر دوی لوړنه وی او د حکومت مخالف وی .

(ج) دریمه ډله هغه زحمت کښه اوکارگره طبقه وه چی په کښتو رتبو کی واقع وه شپه او ورځ بی کار کاوه ، دیوی خوا خپل غربت ، اجتماعی او اقتصادی نا برابریو او فشارونو ځورول اوله بلی خوا د کمونستانو د تبلیغاتو او د زرق و برق و عدو ترتأثیر لاندی تللی وه او د هغو حمایه ئی کول .

**۳- مسلمان او وطن دوستان**

دا هغه ډله وه چی اکثراً د کابل پوهنتون څخه فارغ شوی وه. غربی تعلیم یافته گان هم څه پکښی لیدل کیدل. دا ډله اکثره غریبه او یاد متوسطی طبقی څخه وه . په درسو او محوله کاروکی لایقان پاک نفسه او وطن دوسته وه. د مملکت فنی او اداری چاری اکثراً د همدغو پراوړو تکیه وی . دا ډله پر دو وبر خوویشل شوی وه .

(الف) **با مسؤلیته کسان :-** دا هغه ډله وه چی د اسلام او وطن دوستی تبلیغ ئی د کار په څنگ کی هم کاوه . د کمونستانو خلاف په مظاهرو او اجتماعاتو کي هرځای په کلکه ولاړوه خلکوته ئی د کمونیزم نواقص او په افغانستان کی د روسانو شوم اغراض ښوول. دا طبقه همیش دکمونستانو سره په جنگ کی وه . دوی با عمله مسلمانان وه .

(ب) **بی تفاوتان :-** دا هغه ډله مسلمانان او وطن دوستان وه چی د

کمونیزم او مخرب عناصر و څخه ئی بد را تلل خو د هغو په خلاف ئی د عملی اقدام جرئت نه درلود . په مختلفو دلایلو ئی ځانونه قانع کول چی ولی باید بی تفاوته پاته شی چی حتی ځینی وختونه به د هغو دلایل قانع کوونکی هم نه وه مثلاً دامتل به ئی دلیل راوړی چی نیمه ډوډی دکوټی پای . دی غیر فعالی ډلی د مملکت د کارگری طبقی او مامورینو اکثریت تشکیلاوه .

په داسی حال کی چی د افغانستان حکومت د پورتنیو ډلو څخه جوړوو . پاچا ، دده کورنی وزیران ، وکیلان ، او نوره حاکمه طبقی په عیاشی ، فحاشی ، رشوت او نورو اجتماعی ناروغیو سخت اخته وه لوړ مناصب حتی وزارتونه په نامشروعو لارو لاسته راوستل کیدل . د شپی پارټی او د ښځو بازار گرم وو ،تحفی او رشوت د پر مختگ لپاره عادی وسیلی وی . لوړو صاحب منصبو ته چاپلوسی ، غوړه مالی او ابروتو یول د ورځی موډ وو د حق احقاق بیله رشوت او واسطی نشوای کیدای . د غریب ږغ چانه اوریدی بهایان او زورور کسان تر قانون لوړ او د هغه د تطبیق څخه معاف وه . خانانو له دین او قانون دواړو څخه فراغت خط اخیستی وو هر ظلم چه ئی کاوه څوک نه وه چه مخ ته ئی ودریږی . عالمان د ټولنی ذلیل ترینه طبقه او رذیل ترین کسان د جامعی معزیزترینه طایفه وه . غلو اوقاچا قبرانو پارلمان ، وزارتونه او د مملکت داخلی و خارجی تجارت رهبری کاوه .

په طبقاتی لحاظ ژواند دومره تفاوت درلود چی یوه سړی به شل زره جریبه ځمکه درلوده . شلو زروکسو به بیادیو جریب قباله په خوب هم نه لیده . د بزگر لور او زوی به دخان ، دلیونی او مست زوی په

خدمت کی وه او حتی پر هغو به ئی فحاشی زده کولی او ښځلاه بزګر به دخان صاحب او دبزګر ښځی به د بیبی صاحبی شپه او ورځ خدمت کاوه خوبیاهم بزګر په نس موړنه وو په وچ ډنګر بدن به ئی رګونه او پلی داسی ښکاریدی تابه ویل چی په رباب باندی د زبروبم تارونه ځغایدلی دی . تر دوو غوړوبه د خان په پوروکی غرق او تر مرګ پوری به ګرو پاته وو . د مرګ وروسته به ئی مال او اولاد ټول د خان په پورکی خان ته ورسیدل .

په ښاروکی ژوندهم طاقت فرساوو ، قاچاق برانو ، اختلاس ګرانو، رشوتخورو او بی عفتو کسانو دومره ښه ژوند درلود چی یو شریف سړی په مشروعه طریقه په پنځه لسله متواتره کار یوازی هغسی کور نشوای جوړ ولای کوم چی یو بډای په نا مشروعه طریقه جوړکړی وو، د هغه د کور وسایل ، موټران او نوره دارائی خو په خپل خپل ځای پریږده . خارجی سوداګرو په پیسو داخلیان رانیول . خارجی متخصصین او کارکوونکی چی د افغانانو د خدمت لپاره را تالل په حقیقت کی د دوی پر سر باداران وه د بډایانو اولادو بیله دی چی په عیاشی اخته وی او په نجونو پسی هری خوانه وګرځی بله وظیفه نه درلوده . د دولت اداری ټولی په رکود اوبی ادارګی مبتلاوی .

په داسی حالاتو کی چی مملکت په اخلاق طور یو انحطاط ته روان وو . فقر ، بدبختی ، بیعدالتی ، ظلم ، ناروا ، اوبدامنی د مملکت پر هره ساحه خپل منحوس اثراچولی وو کمونیستانو د قدرت لپاره سخت فعالیت کاوه . د دوی ترشا د روس غوندی یوجهانی طاقت د دوی موقف نورهم ټینګاوه ، پیسی ، کتاب ، تعلیم او تربیه او پلانګ ئی ټول د

هغو په غاړه وو . انگریزانو د افغانستان په خلکوکی ډیر بد نوم پری ایښی وو چی ترا وسه د انگریز یا پرنگی لفظ په عامو خلکوکی د چالبازه فریب کاره او شیطان په معنی استعمالیږی . تردوهم نړیوال جنګ وروسته امریکا په بین المللی سیاست کی د انگریزانو جانشین شو چی د افغانستان تعلیم یافته ګانو هغه ته په ښه نظر نه کتل د بلی خوا ترا وسه لا دروس په ژرنده چا اوړه نه وه کړی . کوم ممالک چه ئی په خیټه کی لویدلی وه لکه پولینډ ، چکوسلواکیا، هنګری ، بلغاریا ... او نور د هغو آواز دده له خیټی څخه د باندی نه راوتلی که به راوتلی هم دده د خولی له لاری راوتلی چه څه دده زړه غوښته هغه به ئی ویل ، داسی مملکت نه وو چی یووار د کمونیزم تر تسلط لاندی کامل راغلی وی او بیادی بیرته څېنی ازاد شوی وی چی افغانانو د هغو نویشتی لوستی اوترخی تجربی ئی لیدلی وای . د بلی خوا روسان پروپاګند دخپل هدف دلاس ته رواستلو لپاره یوه مهمه وسیله ګڼی. هر ځای او هر وخت ئی دا پروپاګنډ کاوه چی روس او سوسیالیزم د غریبانو ملګری د دریمی نړی د ممالکو طبیعی دوست دی . افغانستان هم غریب وو اوهم د دریمی نړی یو هیوا د وو . ډیر خلک د کمونیستانو د دغه وعدو او او پروپاګندو تر تأثیر لاندی ولاړل او که عملی طرفداری ئی نکوله ورته خوشبین خو وه .

یوه بله ډله وه چی د چینی کمونیزم لار ئی تعقیبوله (شعله جاوید) دوی د روسی کمونستانو (خلق او پرچم) سره په اصولو کی څه اختلاف نه درلود بلکه ټول دیوه مارکسیزم پیروان وه خوکوم اختلاف چه روس او چین په بین المللی سطح کی د خپلو خپلو مفاقعو پر بنیاد

درلود دلته افغانی کمونستانو هم په پټو سترګو هغه هدایات د خپلو خپلو بادارانو څخه اخیستل او تعقیبول ئی . د دی دوو ډلو ترمنځ اکثراً سخت جنګونه نښتل . شعله‌یانو به خلقیانو او پرچمیانو ته رویزنستان او سوسیال امپریالستان ویل او خلقیانو او پرچمیانو به دوی ته مرتد او افراطیون ویل شعله یانو په لومړی سر کی ډیر رسوخ پیدا کړ نیمچه کمونستان دوی ته ورغلل خوکله چی چین په بین المللی سطح کی تر روس ضعیف دی دا ډله هم تر هغه بلی ډلی په هر څه کی ضعیف پاته شول او په حزب کی ئی داخلی بی اتفاقیو نورهم کمزوره کړل .

یوه ډله د افغان ملت په نامه وه . دی ډلی ملیت (نشنلیزم) د خپلی لاری مشعل ګرځولی وو . دوی د شرق او غرب دواړو مخالف وه لوی افغانستان چی د پاکستان صوبه سرحد او بلوچستان او روسیی ترکستان هم پکښی شامل وو د دوی مطالبه وه د دوی شعار یو موټی ، لوی اوپر مختللی افغانستان وو دوی دځانه کومه معینه اقتصادی او فرهنګی لار نه درلوده نوځکه په اقتصادی لحاظئی سوسیالیزم خوښ وو او په فرهنګی احاظ لا پخپله هم نیتجی ته نه وه رسیدلی . دغه سبب وو چی افغان ملت کی به څینی سوسیالستان او څینی بیا مسلمانان لیدل کیدل په اخر کی داډله هم دبی اتفاقیو او فکری اختلاف په وجه ټوټه ټوټه شوه .

یوه بله ډله د مسلمانو ځوانانو ډله وه چون جریده ئی نه درلوده نوځکه معین نوم ئی هم نه درلود خو اکثرو ورته اخوانیان ویل . دی ډلی په افغانستان کی د واقعی اسلام د حاکمیت لپاره کار کاوه .

دوی هرچاته او په هر ځای کی د اسلام د دین مزایا او د سرمایه داری نظام او سوصیالیزم بدی ویل. دوی اسلام دانسانی ټولنی د واقعی سعادت لپاره یکی یوه لار ګڼل . د دوی شعار داوو . «د خدای رضا زموږ هدف ، محمد زموږ رهبر ، قرآن زموږ قانون ، جهاد زموږ لار او شهادت زموږ آرزوده» . داډله د کمونیزم په خلاف را پورته شوی وه په تعلیم یافته طبقه کی ئی زیات کار کاوه . کمونستان ددی ډلی څخه سخت وبریدل داځکه د افغانستان ولس ټول مسلمان وو او دی ډلی په ولس کی په لږ وخت کی ډیر نفوذ وکړ . ځوانه طبقه ئی را بیداره کړل نورنو مسلمان ځوانان په پوهنتون او مکاتبو کی د کمونستانو په مقابل کی د دفاع او عجز په موقف کی نه وه . د کمونستانو او د دی ډلی ترمنځ سخت جنګونه وشول چی تقریباً ټوله د کمونستانو په ماته تمام شول . داځکه مسلمانانو شهادت خپله آرزو ګڼل په داسی حال کی چی کمونستان د مرګ له ځایه تښتیدل . دا ډله په سرعت سره ورځ په ورځ ډیریدل .

نوری ډلی لکه د مساوات ډله (ډیموکرات مترقی) ، صدای عوام او ځینی بیا نوری حکومتی ډلی هم وی چی هزی یوی ځانته یو تعداد پیروان درلودل . پر مساوات د مملکت غیر مذهبی عالمه طبقه او اکثراً پخوانی ویښې زلمیان را ټول وه خوو روسته هغه هم ټوټه ټوټه شو .

د دی ټولو ډلود رقابت اصلی ځای پوهنتون وو او هر چا کوشش کاوه په محصیلنو او متعلیمنو کی قدرت پیدا کړی . داسی هفته خوبه نه وه چی په پوهنتون کی به پر کومی موضوع مظاهره او اعتصاب نه

کیدی . حتی ځینو کسانو ویل چی پوهنتون اوس د سیاسی جنګو میدان دی . ځینی وختو نه به دا مظاهری د پوهنتون د ساحی څخه ووتلی د مکاتبو متعلمین به ئی د ځانه سره یو ځای کړل او خیابانی شکل به ئی واخیست د ټولو مظاهره چیانو د ما زدیګر د ملاقات ځای پارک زرنګار (په شاهی ارګ پوری متصل جنوب طرف ته) وو . جذاب او انقلابی ځوک هغه وو چی پر شاهی کورنی او حاکمه دستګاه حمله او انتقاد وکړی . دا کاریوازی کمونستانو کولای شوای داځکه چی هم ئی په حاکمه طبقه کی نفر درلودل چی د هغو په حمایه ډاډه وه اوهم ئی ترشا روس غوندے طاقت وو چی حکومت په آسانی د دوی په مقابل کی کوم جدی اقدام نشوای کولای . حکومت خصوصاً شاهی کورنی خپل حیثیت نور بایللی وو هیڅا ورته احترام نه درلود . د دوی څخه د مملکت اداره د لاسه وتلی وه . خصوصاً کمونستانو که د مسلمانو ځوانانو ویره نه وای هرڅه چی زړه ئی غوښتل هغه ئی کولای شوای حکومتونه ژر ژر بدلیدل او که به موجودهم وه د خپلی بی انضباطی او د ولسی جرګی د ناقابلو وکیلانو د بی ربطو خواهشاتو او استیضاح د لاسه ئی هم کار نشوای کولای . وکیلانو بل کارنه درلود چی ډله ډله به د هر وزیر په دفتر کی ناست وه او په هغه به ئی غیر قانونی کارونه کول که کوم وزیر به مقاومت و نووه نو هغه به بیا په یوه بهانه او بله ولسی جرګی ته ورغوښتل کیدی او حق و ناحق پوښتنی به ځینی کیدلی او په دی ډول به ئی زهیرا وه چی بیا مقاومت و نه کړی . زه پخپله پارلمان ته د ناظر په ډول ځو واره تللی یم عجیب خلک به پکښی را ټول شوی وه . ډیرو وکیلانو حتی سواد نه درلود. لږ لږ خطئی د دیلپاره زده کړی وو چی ځان د وکالت

د شرایطو قابل و گرځوی . ځینی به بیاد یوی مهمی موضوع پر وخت ویده وه د رایه اخیستلو په وخت کی به د ځنگ ملگری وښوراوه ده چی به سترگی خلاصی کړي بیله دغه چی په موضوع پوه شی چی پرڅه رایه اخیستل کیږی و به ئی کتل چی د ده نورو ملگرو لاس پورته کړی دی او که نه . که هغو لاس پورته کړی وو ده به هم پورته کړ او که به هغو نه وو پورته کړی ده به هم د موضوع مخالفت وکړ. په داسی یوه ټولنه او شرایطو کی چی د کلاوی سر د ټولو څخه ورک وو هر چا چی هرڅه غوښتل هغه ئی کولای شوای . هر چا د خپل توان په اندازه د خپلو منافعو لپاره هلی ځلی کولی . واضح ده چی په داسی جامعه کی غریب او کمروزه پایمال او در بدره ژوند لری زور ور ورځ په ورځ نورهم طاقت پیدا کوی . بډایان نورهم بډایان کیږی او غریب ورځ په ورځ نورهم بد بخته کیږی . د دغه فعل او انفعالانو په نتیجه کی افغانی جامعه تر ډیره حده پر دو و متمایزو برخو وویشل شوه . څو ماړه ، ډیروږی ، څو تعلیم یافته ، ډیر بیسواده ، څو غرب زده ، ډیر عنعنوی ، څو کمونست ، ډیر مسلمانان ، د څو کسو حکومت نور ټول غلامان ، شاهی کورنی هم د مملکت د چارو سره دومره دلچسپي نه درلوده او ډیر وخت به ئی په اروپا او امریکا کی تیراوه .

داوُد خان چی په (۱۹۶۳) کی بنا پرځینو مصلحتو د صدات څخه استعفی کړی وه دا حالات په دقت سره کتل . دی یو قدرت پسند او مستبد سړی وو . روسان ، کمونستان او چپی عناصر ده ته خوشبین وه او ده هم په هغو کی کافی خلک درلودل . ده د ظاهر شاه

د ایسته کیدو پلان هغه وخت و تاره چی هغه په ایتالیا کی په سفر بوخت وو. د جولای ۱۷ ۱۹۷۳ کی ئی د شپی پر دوو بجو کودتا وکړه او بیله دغه چه کوم تلفات ورکړی قدرت ئی ونیو او دجمهوریت اعلان ئی و کړ. خلک هم چی د شاهی کورنی د عیاشی او د وطن د بی اداره گی څخه سخت ستومانه شوی وه په نوی حکومت خوښ شول خصوصاً هغه وخت چی ئی د جمهوریت ږغ و اورید. هر چا دا استدلال کاوه چی داؤد خان به یو ځو کاله ژوندی وی بیا به گوندی یو سم سړی پر چوکی کښینی حد اقل د شاهی کورنی څخه خو به خلاص شو. خلک د داؤد خان په مزاج پوهیدل. په لومړی سر کی خائانو، قاچا قبرانو، غلو او سرمایه دارانو ډیر احتیاط کاوه. رشوت کم شو او نظم دسلپین تر ډیره حده اعاده شو.

مگر داواری د داؤد خان ملگری عجیب خلک وه. اکثره کمونستان او د جامعی نالایق او بد اخلاقه ځوانان وه. خورد ضابطان وزیران شول دلومړنی مکاتبو معلمان والیان او ولسوالان سول، کمونیستان قاضیان او څارنوالان مقرر شول. چا هیڅ نشوای ویلای دا څکه داؤد خان د همدغو خلکو په مرسته قدرت ته رسیدلی وو. کمونستانو د دی موقع څخه ښه استفاده وکړه. ډیر پوه او قابل مسلمانان او وطن دوست کسان ئی بندیان، شکنجه او شهیدان کړل. تول هغه کسان ئی په یوه نامه او بل نامه له منځه یو وړل چی دوی خطر څینی احساساوه. محمد هاشم میوندوال (دافغانستان پخوانی صدر اعظم او مشهور سیاستمدار) دفیض محمد (داخله وزیر) تر لغتولاندی ساه ورکړه او بیائی پسی و تړل چی په خپله نکتائی ئی ځان پخپله

مرکړ . کمونیستانو ډیر کسان ژوندی ښخ کړل او ډیر کسان بیا د لوړی په زندانو کی مړه شول . د قلعه زمان خان او علاوالدین دسته جمعی مرګونه د دی دوری مشهوری خاطری دی . د دولت دستګاه د پولیسو په دستګاه بدله شوه او د مملکت اداره ټول د نالایقو او عقده والا خلکو په لاس کښیوته . ډیر مخلص مسلمانان د داؤد په وخت کی یا شهیدان او یا نورو هیوا دوته فرار شول خلکو کرار کرار د حکومت په خلاف مقاومتونه شروع کړل څو ځایه د حکومت او مسلمانو ترمنځ مسلح جنګونه ونښتل خلکو پر داؤد خان انتقاد کاوه چی کمونست شوی دی . او د افغانستان عنعنوی بیطرفی ئی له منځه وړی ده او روس ته تسلیم شویدے . داؤد خان په لومړی سر کی د خلکو مخالفت ته اهمیت نه ور کاوه او خپل نالایق ملکری ئی حمایه کول ولی چه کله پوه شو چی د خلکو مخالفت او مقاومت ورځ په ورځ ډیربږی او خصوصاً د کمونستوالی او و روس ته د تسلمیدو تور پر لګول کیږی نو د امان الله خان د سرنوشت په فکرکی شو چی یوه ورځ به راشی چه دا خلک به ماد کافر په نامه د وطنه و باسی . نوئی سیاست ته کرار کرار تغیر ورکړ اول ئی اعلان وکړ چی زه په کومه پارټی پوری تړلی نه یم او کمونست هم نه یم بلکه مسلمان یم په هره بیانیه کی ئی د دی د وو خبرو تاکید کاوه . کمونستانو د داؤد خان دغه خبروته دومره اهمیت نه ورکاوه او خلکو ته ئی داسی ښوول چی دا خبری دی د سیاست له مخی کوی . دوی خپل کار کاوه په عسکری قواوو کی ئی خپل نفر ځای په ځای کړل په ملکی ادارو کی ئی هم حساس پستونه خپلو خلکو ته و سپارل . داؤد خان پوه شو چی خلک د ده څخه د قاطع عمل انتظار لری . نوئی کرار کرار دحساسو پستو او وزارتو

څخه دکمونستانو په لیری کولو شروع وکړه او کوښښن ئی کاوه چی خلك قانع کړی چی دی یو وطن دوست مسلمان افغان دی چی د مملکت بیطرفی د ده د سیاست اساسی بنیاد دی .

د داؤد خان په تغیر سیاست سره روسان خفه شول خوسیاستاً ئی عکس العمل نه ښووه . د دی لپاره چی د روس اثر پر افغانستان کم شی . داؤد خان غوښتل چی خپل موقف په بی طرفه هیواد وکی چی دی خپله ئی د موسسینو څخه وو مضبوط کړی او بل د پاکستان سره روابط چی ډیر وخت ښه نه وه عادی او دوستانه کړی په دغه منظور ئی یوګوسلاویا ، لیبیا ، هند او پاکستان ته دوستانه سفرونه وکړل (۲۱ د فبروری ـ مارچ ۸ ـ ۱۹۷۸) . پـه لار کی ئی ترکیه هم وکتل . د دغو مملکتو دهر یوه سره ئی دو جانبه د مرستی او همکاری قراردادونه امضا کړل . خصوصاً د لیبیا څخه ئی د افغانستان د انکشافی پروژو په تمویل کی د ډیرو مرستو وعده ترلاسه کړه . په پاکستان کی ئی د نظامی جنرال ضیاء الحق سره د دواړو مملکتو د مناسباتو د دوستانه کیدو خبری وکړی . او د لاهور د شالیمار په بن کی ئی د یوی بیانیی په ترځ کی د پاکستان خلکو ته د دوستی لاس وراندی کړ . او د مسلمانانو د وحدت د ضرورت تاکید ئی وکړ .

داؤد خان دخپل نوی‌سیاست دعملی‌کیدو په لارکی د دریم قدم په حیث،وغوښتل چی دعربی نړی‌سره روابط دوستانه کړی او دهغو دمرستو څخه د افغانستان په پرمختګ او د روسانو د نفوذ په کمولوکی استفاده وکړی . ده د عربو مرستوته په څو لحاظه اهمیت ورکاوه . لومړی دا چه عرب ظاهراً بیطرف وه او افغانستان هم یو بیطرف هیواد وو هیڅا

د دوی په منځ کی د روابط پر ټینګولو په ښکاره انتقاد نشوای کولای دوهم عرب په نظامی لحاظ دامی طاقت نـه وو چـی د هـغو سـره د افغانستان نژدی روابط دی روسان په عکس العمل مجبور کړی . دریم دا چه عرب مسلمانان دی چی د افغانستان سره د دینی روابطو پر بنیاد په اسانو شرایطو ئی مرسته کول او څلورم دا چه عرب د خپلو سرشارو منابعو په وجه هر څو مره مرسته چی ضرورت وای د افغانستان سره کولای شوای . داؤد خان په دغه منظور سعودی عربستان، کویت، او مصر ته سفر وکړ (۲ اپریل تر ۱۰ اپریل ۱۹۷۸) او دهر یوه مرسته ئی د افغانستان لپاره را جلب کړه . ده په دی سفر کی د روس د نفوذ د ساحی څخه د افغانستان د ایستلو سیاست د عربستان مصر او کویت مشرانو ته مفصلاً تشریح کړ او رسماً ئی په یوه بیانیه کی ځینی و غوښتل چی د افغانستان په انکشاف کی چی څومره مقدور وی برخه واخلی او په دی ډول دی د خپل یو مسلمان دوست هیوا د افغانستان سره مرستـه وکـړی . هغـوی هـم مقابلتاً د ډیـرو مرستـو وعـدی ور سـره و کـړی . او مـؤفقانه هیواد ته را ستون شو .

داؤد خان نه پوهیدی چی د ده څخوانی غیر متوازن سیاست دامی شرایط پر افغانستان را وستلی وه چی کمونستانو په هر ځای کی نفوذ کړی وو حتی د ده په خپله کابینه او خاصو مشاورینو کی کمونستانو او د روس مخبرانو (K.G.B.) ځای درلود . متاسفانه د ده سره په دی دواړو سفرو کی محمد خان جلالر[۱] چی د ده وزیر تجارت او وزیر

---

۱- (محمد خان جلالر اصلاً د مرکزی ایشیا یو ازبک دی چی پلرو

پلان وو هم ملګری وو . نو موږ پـه افغانستان کی د اکثرو با خبرو خلکو په قول د شوروی روسی د استخباراتی مؤسسی (K.G.B.) یو فعال غړی دی . ده دداؤد خان د دواړو سفرو مکمل حالات روسانو ته ور سول خصوصاً د دوهم سفر نتائج ئی چی ډیر حساس وه پخپله په ماسکو کی روسی مشرانو ته تشریح کړل .

د داؤد خان د بهرنی سیاست د دغه انعطاف په وجه له هری خوا مرستی را جلب شوی او ډیری غټی اقتصادی پروژی تر جوړښت لاندی په افغانستان کی ونیول شوی . ښه می یاد دی چی د عربو تر سفر وروسته یوه ورځ داؤد خان د یوے موضوع په متعلق زه ور وغوښتم. موږ د وه په دوه ناست وو په داسی حال کی چی تر ستر ګوئ اوښکی تولیدی ما ته ئی د نصیحت په ډول داسی وویل «دا وطن

ئی دامو د رود د پوری غاړی څخه د روسانو له لاسه افغانستان ته هجرت کړی وو . د ده نژدی خپلوان اوس هم هلته دی او ځینی ئی په کمونست پارتی کی هلته لوړ مقام لری . دی خپله د افغانستان د تعلیم یافته طبقی په حکم د شوروی روسی د استخباراتی موسسی (K.G.B.) غړی دی . ده هم د ظاهر شاه په وخت کی د افغانستان په حکومت کی لوړ مقام درلود . هم د داؤد په دوران کی او هم اوس . نور محمد تره کی بر خلاف داؤد خان د نورو وزیرانو دی بندی نکړ بلکـه پـه صـدارت کی ئی خپل مشاور مقرر کړ او د ببرک کارمل په کابینه کی اوس وزیر تجارت دی) .

پوازی او پوازی تاسی څوانان ابادولای شی . شرق او غرب د دی خاوری د ابادی سره داچسپی نلری . خارجیان زمونږ وطن ته راشی خپل کومک کړی پیسی د معاش او وسایلو په شکل بیرته را څخه یوسی . یوکال ، دوه . زمونږ په وطن کی چکرونه ووهی هغه دلیدلو وړ ځایونه ووینی چی موږ افغانان چی د دی ځای اصلی اوسیدو نکی یو د غربت او شرایطو د نه موجودیت پوجه ئی نشو لیدلای . بیاچه ولاړشی نو یوه مقاله هم پخپلو جراید وکی را پسی ولیکی چی افغانستان دامسی پاته ملک دی . . . »

د دی دوسره ملی احساس د درلودلو سره سره کومه سیاسی غلطی چی ده کړی وه هغه د ده او د ده د کورنی سرونه و خوړل او مملکت ته ئی هم جبران نه کیدونکی تاوان واړاوه . هغه غلطی داوه چی ده صرف د خپل اقتدار لپاره د روس لمن ته ځان و غورځاوه او د خپل قدرت د بقا لپاره تر اندازی زیات روس ته متمایل شو او کمونستانو ته ئی د حکومت په دستگاه کی فوق العاده اختیارات ور کړل . روسانو دی په بین المللی ساحه کی تجرید کړ . او افغانستان ئی په نوری دنیا خپل د سپوږ میانو څخه یوه سپوږ مۍ قبول کړ . کمونستانو د ده د قدرت څخه په سؤ استفاده سره په داخل کی ټول مسلمان او وطن دوست عناصر سره او یا فرار کړل . د ده سالم تماس ئی د ملت سره قطع او یا مشکل کړ او په فوځ کی ئی داسی کار وکړ چی د هغه تصفیه بیا د ده په وس نه وه پوره . په عسکری فرقو کی حساس ځایو نه کمونستانو او حتی په ارگ کی پخپله د داؤد خان په حفاظتی گارد کی کمونستانو ځای درلود .

داؤد خان د خپل استبدادی خاصیت په وجه پر خپل شاو خوا حتی په ټول مملکت کی داسی څوک پری انښوول چی هغه دی لایق ، کارګر ، او وطن دوست وی . کله چی کمونستان ئی له وزارتخانو څخه ایسته کول پرځای ئی داسی کسان راوستل چی که هغوی کمونستان نه وه خود کار خلک هم نه وه . خصوصاً د ملی دفاع او کورنیو چارو و زار تونه ئی چی دواړه د مملکت ډیر حساس دفاعی او امینتی پستونه وه داسی کسانو ته ورکړل چی په خلکو کی ئی په بی کفایتیو ، رشوت خوریو او بد اخلاقیو شهرت د رلود . په دی ډول ده داسی یو منظم ګروپ خلک نه در لودل چی هغوی دی و کولای شی ، د مملکت په چارو کی د ده سره مرسته وکړی او د ده دنوی خارجی سیاست په مطابق دی د مملکت په داخل کی هم لازم بدلون راولی . ده ټول ملګری د ساده شناخت او خوشبینی پر بنا پر ځان را ټول کړی وه . کمونستانو د داؤد خان د ناکامی لپاره په ترور ، بی امینتی او پروپا ګند لاس پوری کړ . دوی اوس د داؤد خان څخه د پخوا په شان نه ویریدل ، د ده طاقت او قدرت په ملکی ، عسکری ، داخل او خارج کی دوی ته ښه معلوم وو دا ځکه چی دوی څو کاله په حکومت کی ور سره شریک وه او اوس ئی هم د حکومت ښار ګونه په لاس کی وه .

د کمونستانو یو مشر (میر اکبر خیبر) د یو نا معلوم چا له خوا په یوه شپه کی (16, 78 April) یا (۱۳۵۷-۱-۲۷) ترور شو . په بله ورځ ئی کمونستانو د هغه جنازه په شاندار و مراسمو د یوه غټ جلوس او مظاهری په شکل بدرګه کړه او پر حکومت ئی بد وویل په

داسی حال کی چی داسی جلوسونه او مظاهری د حکومت له خوا منع وی . حکومت د هغه په مقابل کی عکس العمل و ښود او د کمونستانو مشران ئی (چی نور محمد تره کی او ببرک کارمل هم پکښی شامل وه) بندیان کړل . د داؤد خان دی اقدام (د کمونستانو د مشرانو بندی کول) کمونستان سخت پریشانه او وار خطا کړل . د دوی د زیاتی وار خطائی علتونه داوه :

(۱) دوی د داؤد خان په تند او استبدادی مزاج ترهر چابه پوهیدل او و یریدل چی مبادا ټول مړه کړی . دوی هم په دی پوه وه چی داؤد خان ورځ په ورځ د روس سره خپل علایق مستوی ، روس ممکن په دغه حساسه مرحله کی د دوی پر سر داؤد خان ته څه ونه وائی او ونه غواړی چی داؤد خان ته دا بهانه په لاس ورکړی چی هغه د روس دا ډول فشار په خپلو کورینو چارو کی مداخله وګڼی .

(۲) د کمونستانو ګوند او غړی هیڅ وخت د حکومت له خوا د یوه جدی خطر سره نه وه مخامخ شوی . حتی حکومتونو خپله د دوی د تقوئی کوښښ کاوه . د ظاهر شاه په حکومت کی پر مسلمانانو ډېر فشار وو په داسی حال کی چه کمونستانو آزادانه فعالیت کاوه . داؤد خان خو په لومړی سر کی بیخی حکومت په لاس ورکړ او چی چیرته سم سړی وو هغه ئی په دوی له منځه یوور . په دی ډول کمونستان هیڅ وخت د حکومت د داسی سخت عکس العمل سره نه وه مواجه شوی حتی نور محمد تره کی چی د حزب مؤسس او مشر وو په خپل ټول عمر کی یوه ورځ

بندی نه شو . که څه هم بند او مرگ په سیاسی مبارزاتو کی یو عادی خبره ده خودوی نه وه په آموخته . نو حکه حتی یوه ورځ بندی کیدل هم سخت پر تمام شول .

د کمونستانو مشرانو په سیاسی مبارزه کی د سختیو د تحمل د نه در لو دلو او زیاتی وار خطائی په وجه په عسکری قواوکی خپلو گوندی غړوته د پاڅون او طغیان امر وکړ دوی دا امر هم په څو علتو وکړ .

(۱) دوی داؤد خان ترهر چا د نژدی څخه ښه پیژانده او د هغه ضعیفی او خالی نقطی دوی ته معلومی وی او په دی متقین وه چی په یوه قاطعه ضربه به هغه له پښو ولویږی .

(۲) کمونستان په دی هم پوهیدل چی یو خو عام خلک د داؤد خان څخه ناراضه دی چی د ده مرسته وکړی . او بل دوی هغه ته داسی څوک ندی پری ایښی چی پداسی سخته ورځ کی ئی په درد و خوری او دریم بل داسی طاقت هم په مملکت کی نشته چی د دوی مخ دی ونیسی .

(۳) دوی په دی متقین وه چی روسان به د دوی دا اقدام نا کامیدو ته پری نږدی دا څکه د دی اقدام نا کامی به په افغانستان کی د کمونیزم او د روسانو د منافعو پر سر یو جبران نه کیدونکی ضربه وار ده کړی .

زما په فکر د دغه تحلیل پر بنیاد د ثور پر (۷-۲-۱۳۵۷) د ورځی پر ۱۱ بجو د داؤد خان پر ضد کودتا شروع شوه تووله ورځ پر ارگ بمباری و شوی او تانکونو حملی پر کولی . جمهوری گارد څه

مقاومت وکړ خو هلته هم کمونستان وه او د هغه قوماندان ئې (صاحب جان) مړکړ د شاوخوا عسکري فرقو څخه هم کومک ورته ورانه رسید یوازې دریشخورو په فرقه کې ډګروال محمد هاشم خان غوښتل چې داؤد خان ته نجات ورکړي تر یو څه ځایه چې راغی طیارو بمبارد کړ . داؤد خان په یوازې سر مقاومت کاوه . د ده نالایق وزیر دفاع (ډګر جنرال غلام حیدر رسولی) په ټولو فرقو وګرځید خرهیچا مرسته ور سره ونه کړه . دا څکه چې د ده څخه چا ښه زړه نه درلود او نه ده په ټول ژوند کې داسې څوک پیدا کړي وو چې پداسې سخته ورځ کې دی د ده په درد و خوري . بالآخره بچپله په یو کور کې پټ شو د هغه کور یو تن خلقي وو هغه خپلو ملګرو ته احوال ورکړ هغوی راغلل او دی ئې وینو او مړ ئې کړ . داسې شواهد شته چې د دې اړاره چې خلقیان په کودتا کې ناکام نشي روسانو هم د کودتا په ورځ په بمباریو کې د هغو سره مرسته کوله . داؤد خان د سبا سهار تراتو بجو پورې مقاومت وکړ او و جنګید . د ده د مرګ صحنه بچپله د تره‌کی د حکومت له خوا په رسمي ډول د کابل په غازي ستو دیوم کښې د لس ګونو زرو خلکو په مخ کی په ١٦ د جوزا (١٣٥٧) ٦ جون ١٩٧٨ ٧٨ د تورن اسد الله د مسلحو قوا ود مخابري د رئیس له خولې داسې اعلان شوه :

« . . . یو خلقي منصبدار داؤد خان ته سهار (٨ ثور ١٣٥٧) ورغی چې د افغانستان ټوله عسکري قوأ موږ ته تسلیم شویده داسې څوک نشته چه ستا حمایت وکړي نو ته هم نور مقاومت مکوه او تسلیم شه . هغه په ډیر قهرور ته وویل چې زما په قاموس کې د تسلیم

لفظ نشته او تعجب کوم چی د یو عسکری صاحب منصب له خول څخه د تسلیمی لفظ اورم . ماشین دار ئی را پورته کړ او پر نو موړی خلقی ئی فیروکړ . هغه ئی په اوږه کی زخمی کړ . وروسته تر یو څو دقیقو بیا اعلان و شو چی تسلیم شه . ده په ځواب کی وویل چی تاسی کمونستان ، کافران او وطن فروشان یا ست زه به هیڅکله تاسوته تسلیم نشم . د دی خبری په اورید و سره موږ هجوم پر وروړ او فیرونه مو پری وکړل . دی او د ده ټوله کورنی هلته مړه شول» .

خو په اصلی واقعه بیا هم عام خلک پوره نه دی خبر د جمهوری ارگ قالینی تر ډیره وخته په وینو سری وی او خلکو به لیدلی . په دی ډول داؤد خان له منځه ولاړ . دوه شپی وروسته نور محمد تره کی د افغانستان د خلق د دیموکراتیک گوند د عمومی منشی ، د افغانستان د انقلابی شوری رئیس د افغانستان د جمهور رئیس او صدر اعظم په توگه اعلان شو او ببرک کارمل د ده معاون ، حفیظالله امین خارجه وزیر او داسی نوره کابینه و ټاکل شوه . د عسکری قوا وو تر تسلمیدو وروسته حکومت په اداری دستگاه کی د خپلو نفرو د ځای پر ځای کولو په کارپیل وکړ . دوی د دولت ټول هغه مامورین چی د یوی اداری مسئولیت ئی په غاړه وو د خپلو وظیفو څخه ایری تنزیل او یا موقوف کړل . د انقلابی شورا د دریم نمبر فرمان په مطابق هر څوک په هره رتبه کی چه اداری لازم گڼل مقرر کیدای شوای . په دی ډول د داؤد خان د وختو د مامورینو د قانون هغه ماده چی تعلیم او د کار سابقه د وظیفی په اشغال کی مهم رول د رلودله د اعتباره ساقطه شوه . خور د ضابطان وزیران شول نهم او لسمه درجه اجیر کارگران عمومی رئیسان شول او بی تجربی کوچنی هلکان ولسوالان او والیان شول .

پوه ، تعلیم یافته او با تجربه مامورین یادکاره لیری شول او یا په تنزیل رتبه سره په یو بل داسی ځای کی مقرر یدل چی وجود ئی هیڅ مفید نه وو .

حکومت د دی کار (تغیر او تبدیل) سره همزمان ، پوهانو او د هغو تعلیم یافته کسانو په نیولو ، بندی کولو او مړه کولو پیل وکړ چی دوی هغوی د خپل فکر مخالف ګڼل . د کورو په پلټلو او د وسلو په را ټولولو ئی شروع وکړه . پوه خلک پوهیدل چی دا حکومت یو کمونست حکومت دی او خلقیان کمونستان دی خو عام و لس په مارکسیزم کمونیزم او یا نورو ایزمونونه پوهیدی . دوی هیڅ دا فکر نه کاوه چی خلقیان ملحد او د اسلام دښمنان دی او خلقیانو هم دعا مو خلکو په مخ کی ځانونه مسلمانان ښوول . و لس کرار کرار د خلقیانو په چل او عوام فریبی پوهیدی چه وائی یوځه کوی بل څه . نو ورو ورو د خوبه را ویښیدل . خلک ډله ډله نور محمد تره‌کی ته ورتلل او خپل تشویش ئی ورته اظهار اوه . هغه به په ډیر عوام فریبانه ډول ورته ویل چی موږ د مسلمانانو زامن یو او د اسلام د دین احترام کوو. د خلکو قناعت نه حاصلیدی دا ځکه دوی عملاً لیدل چی حکومت د دین په له منځه وړلوکی لګیا دی عملاً شپه او ورځ کوشش کوی . په هره سویه حزبی سازمانونه جوړ شول د ځوانانو او ښځو سازمانو له جوړ شول چه له یوی خوا هغوی ته د کمونیزم درس ورکړی او له بلی خوا په ټولنه کی د جاسوسی کار ځینی واخلی د سازمان هر څوک مجبور وو د هفتی په آخر کی راپور ورکړی چی فلانی د حکومت په باره کی داسی ویل ، فلانی ټینګ مسلمان دی ، فلانی روس ښه نه وینی . . .

او داسی نور . حتی د مکتب ښوونکو به د ماشومانو څخه په مکتب کی دا پوښتل چی ستاسو او پلار په کور کی د حکومت په باره کی څه وائی . که به ئی ورته وویل چی د حکومت بد وائی نو سبا به ئی پلار په بندیخانه کی ناست وو او وهل او تکول ئی خوړل . ډیرکسان په دی ډول د ماشومانو په خوله له منځه ولاړل . خلکو په خپلو کورو کی د کوچنیانو په مخ کی د حکومت خبری د ویری نشوای کولای . یو سړی چی زما له شناختګانو څخه وو خپل ماشوم زوی ئی پر سبق باندی چی نه ئی وایه یوه څپیړه وواهه . نه کان ماشوم ئی په ژړاکی ورته وویل چی صبروکه چی سباشی معلم صاحب ته وو ایم چی زما پلار پر حکومت بدوائی او سهار سهار د قرآن شریف وظیفه هم کوی . پلار ئی چی د دی خبری په عواقبوښه پوه وو د ده سورته اشاره وکړه چی ماشوم خوښن او رضا کړی . هغی بیچاره ډیر اغا او لالا ورته وویل او پلار ئی هم پنځه روپی په لاس ورکړی چه زویه مه خفه کیږه ته پرماګران ئی . په دی ډول هیچا پر خپل اولاد باندی د تربیی په منظور فشار نشوای راوستلای . حکومت د بیسوادی سره د مبارزی په نامه د لویانود سواد د زده کړی کورسونه په ټول مملکت کی راوایستل . ښځه اونر ئی مجبور ول چی هغه ته ځانونه شامل کړی د دی پروګرام څخه د حکومت مطلب دا وو چی ساده عوام او خالی الذهنه مسلمانان د مارکسیزم د فلسفی تر تاثیر لاندی راولی او کمونستان ئی کړی . دوی د بیسوادی په کورس کی د سوسیالیزم د رسونه ورکول . نورئی د خلکو د واقعی سواد سره څه کار نه وو .

د مخه مو وویل چی خلقی سازمانونه او د بی سوادی کور سونه

د دې لپاره جوړ شوي وه چې له يوې خوا په خلکو کې د سوسياليزم مفکوره خپره کړي او د بلې خوا د جاسوسي کارځينې واخلي . ډېرو کسانو په سازمان کې د خپل شخصي مخالفت په وجه د خپل يو مخالف چا راپور تيراوه چې فلاني په فلاني ورځ په فلاني ځای کې د حکومت داسې بد وويل . هغه سړی به هم د دغه بې بنياده راپور په اساس بندي او حتی مړ شو . ډېر کورونه د داسې راپورو په وجه تلاشي او لوټ شول . هر چا چې به څومره ډېر راپورونه سازمان ته وړاندې کول هغو مره به د سازمان په نظر کې صادق او فعال وو . سازمان به دا راپورونه د خپل تائيد سره د ولسوالي سازمان ته استول . هغه به په سلسله سره د ولايت سازمان او بالاخره به د مرکز سازمان ته خبره ورسيده . هغو به د استخباراتو له لارې د هغه سړي د نيولو امر صادر کړ . نتيجه به دا شوه چې ډېر بېګناه سړي به صرف د شخصي خصوصيت او يادګوم خلقي يا سازماني چا د موقف لپاره د يو بې اساس راپور قرباني شو . پر دې راپور به څو سازمانو د خپل فعاليت کريدت واخيست او هر يوه به ئې د دې لپاره چې خپل فعاليت و ښئي په راپور کې بوځه نورې خبرې هم د متهم په نقص و ليکلې چې بالاخره به غټه دوسيه ځيني جوړ شوه او تره‌کي به ئې د مرګ حکم صادر کړ . ډېرو خلقيانو خپل ډېر نژدې دوستان لکه پلار ، ورور - - - او نور د چوکې او موقف لپاره د حکومت په لاس کې ورکړل . ډېر خلقيان د خپل ډېر نژدې دوستانو د مرګ سبب شوه . داځکه چه څومره نژدې دوست چا حکومت ته په ګوتو ورکړی وای هغومره ئې موقف ښه تثبيت او لوړ کيدی خصوصاً د مسلمان والی تور لوی ترين جرم وو .

په دې ډول بندیخانې په بیګناه او شریفو خلکو ډکېدلې او ډله ډله هره شپه له منځه تلل زما سره په بندیخانه کې یو استاد وو د هغه څخه ئې پوښتنه وکړه چې ته اخواني یې (هر تعلیم یافته مسلمان ته خلقیانو اخواني وایه) هغه ورته وویل چې زه اخوانیان نه پیژنم زه یو پاک ساده مسلمان یم . مستنطق ورته وویل چې اخوانیان خوهم مسلمانان دي سوټې ئې پر سر وواهه او را چپه ئې کړ دومره ئې وواهه چه څه ووایم بله شپه‌ئې بوتلی او مړئې کړ . یو بل نفر چې محمد عثمان نومېدی په دې وجه (۹) میاشتې بندی‌شو چې د ده څخه پوښتنه و شوه چې د پلارنوم دې څه شی دی . ده ورته وویل چې نعمت الله (په عامیانه لهجه ئې نیامت الله ورته وویل) مستنطق پوښتنه ځینې وکړه چې څه شی ؟ هغه بیچاره د دې لپاره چې صحیح ئې تلفظ کړی وی ورته وویل نعمت الله (عین ئې ښه ادا کړ) مستنطق ورته وویل داسې د اخونیانو عین دی و وایه . (۹) میاشتې ئې په دغه یوه نعمت الله لفظ په بندیخانه کې تیرې کړې خودی بیاهم ډېر خوشحاله وو چې مړئې نه کړ . یوه ورځ ئې څوکسه نظامي افسران بندیخانې ته را وستل چې د دوی ګناه دا وه چې بی بی سی B.B.C. ئې اوریدلی وه . دوی مړه شول خو هغه کس یو کال په بندیخانه کې پاته شو چې د ده په دفتر کې د(B.B.C.) خبرې شوې وې که څه‌هم په هغه مجلس کې د ده نه ګډون ثابت وو .

د متهمینو د استنطاق صحنه داسې ځوروونکې وه چې یو حساس وجدان ته ئې تحمل مشکل وو مثلاً روغ غاښونه په امور کښل ؟ په خوله کې ایشولې او به ورتو یول ، د ګوتونوکان په پلاس ایستل ، په

څوړو ، پزه ، ژبه ، او آله تناسلی پوری د برق جریان تړل ، په سوټی پر سر و هل ، په پښو سر چپه ځړول . څوشپې مسلسل بې خوبه ساتل ، تر زنی لاندی یا پرتیک باندی د تفنګچی نیول ، په څلورو کسو یو څوک تر لاسو او پښونیول هواته ئې لوړ غور ځول او له هغی خوائی پر کانکریت پر مځکه باندی را ایله کول ؟ بې عزتی وراړول . دا ټول هغه تعذیبونه وه چې د تحقیق په وخت کی به متهم بیچاره دری څلور ډوله ډرامې پرځان کتلی . یوه ورځ ئې زما په مخ کی چې زه هم د متهمینو په ډله کی د تحقیق په انتظار ناست وم یوښکلی ځوان راووست او تحقیق ئې ځینی شروع کړ . ورته و ئې ویل چې اخوانی ئې ؟ هغه ورته وویل چې نه . مستنطق ورته وویل چې ته خو خود وائې چه نه ، اوس به و ګوری چې څنګه لکه بلبل هزار داستان غوندی پخپله را ته اقرار شې . ده بیچاره ته ئې د برق جریان ورایله کړ پورته به ئې کړ د مځکی به ئې را وویشت . هغه به د ډیر تکلیف څخه فریاد کاوه چې د خدای پار دی څه ووایم . د خدای لوم او ریدل به دا ظالمان نورهم په خشم کړل او و ئې ویل چې ښه ته نو اقرار نه کوی اوس به ستاسره جوړشم . جوړیدل دا وه چې پلاس (Plier) ئې را واخیست او د ده د پښو نوکان ئې یو په بل پسې وروکښل . د بیچاره ترپښو سری وینی بهیدلی. په دامی حال کی چې دډیر تکلیف څخه ئې فریاد کاوه زموږ خواته ئې و کتل چې ګوندی یو څوک وی چې ځینی خلاص ئې کړی . مستنطق پرمخ په هغه پلاس و واهه په کوم چې ئې دده نوکان کښلی وه او ورته وی ویل چې دڅه لپاره دوی ته ګوری دوی هم که اقرار و نه کړی همدا حال به ئې وی لکه ستا . بیچاره متهم فریاد کاوه چې د خدای پار دی بیګناه یم څه ووایم . که موکتل په

دروازه یو بل غټ کړیه المنظره مستنطق رانوت هغه بل مستنطق ته ئی وویل چی بیادی کوم اخوانی را چپه کړیدی هغه په ځواب کی ورته وویل چی دا دومره ټینګ دی هیڅ اقرار نکوی . میلمه مستنطق چی د متهم بیچاره مخ ته وکتل په بوغټ آواز ئی وویل اوه ! اوه ! اوه ! دا زه به پیژنم دا رذیل او ـ ـ ـ متهم ته ئی وویل چی اقرار په هر ډول چی وی در ځنځه اخلو نور ځان په موږ مه ټوکر ټوکر کوه . هغه وویل زه بیګناه یم څه وو ایم مستنطق ورته وویل چی ښه نو موږ به ستا ښځه دلته راوغواړو بیا به درته معلومه شی چی اقرار نکول یعنی څه . متهم بیچاره او موږ ټولو فکر نه کاوه چی دا خبره به رښتیا شی دا ځکه په افغانانو کی صرف د ښځی را وستل داسی ځای ته لوی عیب او بی سابقه کار دی دا خوپریږه چی د هغی پلو ته به ځوک په بدء ګوری . تقریباً یو ساعت و روسته یوه چادری واله ښځه چی وړوکی ما شوم ئی په غیږ کی وو د استنطاق ځای ته راغله او یوی بلی کوټی ته رهنما ئی شوه . ځو دقیقی و روسته د ښځی ژړا او فریاد د کوټی د کړکیوله چاکو ځنځه زموږ د غوږو پر دی راولړزولی . زه خپله په دی صحنه کی دا حال ته رسیدلی وم چی مرګ می ډیر خوښ وونه د دی حال لیدل خو انسان سخت سری موجود دی مرګ په داسی وخت کی نه ورته راځی نور متهمین هم چی دلته ناست وه ټوله په مرګ راضی وه نه په داسی بی حیثیته او بی شرفه ژوند . د ورایه یو روسی منصبدار چی په همدغه اداره کی ئی د مشاور په توګه وظیفه اجرا کوله را ښکاره شو موږ د ده په لیدو سره سخت نا آرامه شوو چی همدغو زموږ پر وطن دغه خال را وست . په دغه حال کی نوموړی روسی د ښځی خونی

ته وروننوت دی صحنی پر موږ نهایت ډیر بداثر وکړ. د ښځی میړه نور په ځان نه پوهیدی چی څه وکړی یوه لار ورته پاته وه هغه دا چی د ژوند څخه تیرشی نوئی د خولی څخه لاس واخیست او هغه ښکنځل ئی نور محمد تره کی ، بریژنیف ، روسانو او خلقیانو ته وکړه چی زموږ ئی لا زړه پدیخ کړ . یو تور، غټ خلقی چه په قوماندان اندرابی مشهور وو د څوتنو عسکرو سره دا سړی تر لغتو لاندی را چپه کړ او په خوله کی ئی په بوټو وو اهه شاو خوائی وکتل بل څه ئی پیدا نه کړل د یوم لاستی ئی وکیښی او ورته وئی نیو . دومره ئی وواهه چی سړی بی سده شو . موږئی هم ټول په کوټو ننه ایستو بیا نشوو خبر چی د ښځی سره څه و شوه خو دومره مو وا وریدل چی نو موړی متهم تر وهلو لاندی مړشو . او په دی ډول دا بیچاره او بیگناه انسان د کمونیزم په دوران کی چی د سولی ، امنیت او ترقی په شعارو ئی خلک کانه کړیدی ، دادکور ، کالی ، ډوډی او عزت د نارو سورو او داد کارگرانو او غریبو د نام نهاد مدافعینو او ټیکه دارانو په نظام کی د دی نابودی دنیا څخه زړه ډک ولاړ . خلقیانو ته چی معنوی ارزښونو د خپل متریالیزم د فلسفی پر بنیاد څه معنی نه درلودل د خپل قدرت څخه په استفاده سره د شهوت پر لیلی سپاره شول . په خلقی سازمانو کی ئی نجونی او هلکان را ټولول دوی ته ئی د کموازم د نورو درسو په لړکی داور ښوول چی عفت عصمت او ـ ـ ـ ـ دا ټول بورژوازی او دیوی و روسته پاته ټولنی خوصیات دی په یو مترقی جامعه کی دا شیان ارزش نلری . موږ د مترقی عناصرو په حیث باید دی شیانو ته اهمیت ورنه کړو . نجونی او هلکان به ئی په ورځو ورځو حتی په شپو شپو په یوه نامه او

بل نامه سره ساتل او دوی به خپل شهوت رانی پری کولی . په خلقی سازمانو کی اکثراً د بډایانو او د دولت د هغو مامورینو اولادونه شامل وه چی پر خپلو جایدادو او چوکیو ویریدل . دوی د خپلو اولادو پت او عزت د خپلو شخصی مادی منافعو مخ ته سپر کړی وو نوځکه هرڅه چی به خلقیانو د دوی په اولادو کول څه به ئی نه ویل . ډیرو بډایانو خانانو او پیرانو خپلی لونی خلقیانو ته د دی لپاره ورکړی چی ځانونه په وساتی خلقیان به اکثره د ښوو نځیو مخ ته دریدل چی په متعلیمنو کی ښکلی نجلی خوښه کړی . چی یوه به ئی خوښه شوه د هغی د صنف او کور پوښتنه به ئی وکړه . په سبا به ئی عسکر نوموړی مکتب ته و استاوه او هغه نجلی به ئی را و غوښتله چی تا د حکومت پر خلاف خبری کړی دی . هغی مظلومی نجلی به چی خپل ښایست ور پوری بلا وو هرڅومره چه وژړل چه زه د حکومت مخالفه نه یم او ما د حکومت په خلاف څه ندی ویلی خو خلقی صاحب کله منل . دانو د خلقی صاحب کار وو چی دا بیگناه مرغی ئی څومره وخت د ځان سره ساتله . ماته داسی یو څوک معلوم دی چی کوم خلقی د ده څخه لور غوښتی وه خوده ور نکړه لور ئی هم په هغه خلقی رضا نه وه . خلقی صاحب هغه سړی او دری زامن ئی دا خوانیانو په تور وربندیان کړل یو کال و روسته یو نفر ئی له بنده را خلاص شو خود پلار اود دوو زامنو د ژوند پته تر او سه بیا چا معلومه نکړه .

زما سره په بندیخانه (پلچرخی) کی یو پخوانی سپین ږیری ولسوال بندی وو چی اصلاً د مقر او د تره کی قومی وو . ده وویل چی زه دلته ځکه ناست یم چی مایو خلقی ته لور نه ور کوله . ده خپله قصه داسی

راته وکړه چه په کور کی دخپلو اولادو سره ارام پروت وم چی نیمه شپه د کلا دروازه و ټکید له . د کلا د دروازی ترڅلا صیدو د مخه د کلا بام ته وختلم چی و ګورم څوک دی . که ګورم د کلا شاوخوا ټوله عسکرو محاصره کړیده حیران شوم چی په څه غضب اخته شوم وزغلم د کلاورمی ورته خلاص کړ پوښتنه می څینی وکړه چی څوک مو په کار وو هغه خلقی چی زما څخه ئی لور غوښته را ته وویل چی ته مو په کار ئی . زما ئی فوراً لاسونه را و تړل او واسوال ، قوماندان ، څارنوال او عسکر په کور ننوتل ټول کورئی تلاشی کړ څو تختی قالینی او زر ئی ټول کړل او دځانه سره ئی واخیستل او وی ویل چی قاچاقبرا! په د قاچاق مالونه دی په کور کی جمع کړیدی لونی هم چا ته نه ورکوی . زه ئی په هغه شپه سرتورسراو لوڅی او پړی د کوره را ویستلم اولادو می ټولو را ته کتل تر ډیره ځایه می د کلا پر سر د خپلو کوچینیانو ژړا او ریدله غزنی ته ئی را وستلم او څلور میاشتی یخ ژمی می هلته په ډیر بد حال کی تیر کړ تر پایه چاپوښتنه را څخه و نه کړه چی ته څنګه راغلی ئی . بیائی یوه شپه سترګی را و تړلی او په موټر کی ئی واچولم ما فکر کاوه چه دوژلو ځای ته می بیائی تر څو ساعته سفر و روسته ئی بیا سترګی را خلاصی کړی ګورم په کابل کی په وزارت داخله کی یم یو ساعت و روسته ئی بیا سترګی را و تړلی او د ده مزنګ محبس ته ئی تحویل کړم او د هغه ځایه ئی بیاد ایم پلچرخی ته را وستلم . د یوه بل سړی څخه می چی هغه په مقر کی د همدغه واسوال صاحب د کلی وو . د ولسوال صاحب د موضوع پوښتنه وکړه هغه وویل چی ادا خبره رښتیاده چی دی په دی خاطر دا دومره تکالیف تیروی چی خپله لورئی خلقی ته نه ورکوله د ولسوال

تر نیولو څو ورځی و روسته نوموړی خلقی د هغه لور په زوره د کوره را ویستله او ماندینه ئی کړه اوس ئی یو اولاد هم شویدی» . ولسوال صاحب د حفیظ الله امین په دوره کی په دی شرط خوشی شو چی د نوموړی خلقي سره به دښمني نه کوی ده بیچاره ورته وویل چی د هغه سره زه هیڅ دښمني نلرم پخوامی هم کومه دښمني نه ورسره درلوده . خو خبر نه وو چی هغه ئی دلور میړه دی او د هغه ښځه اولاد لری او دی ئی ځکه خوشی کړ چـه کارتـر کار تـیر وو او اوس ئی خـسر شوی وو .

یوه ورځ په پل چرخی محبس کی د کندز یوه سړی د خپلو سترگو لیدلی حال او د خلقیانو ظلم او بی ناموسی داسی را ته بیان کړه : «زه د قلعه زال په ولسوالی کی قوماندان وم . یوه شپه ولسوال را ته وویل چه راځه د ـ ـ بای کره ځو . ولسوال، څارنوال ، زه او څو تنه عسکر په موټر کی سپاره سوو د . . . بای کلاته چی راغلو هغه مو محاصره کړه او دروازه مو ور وټکوله . نوموړی بای چی معمره سپین ږیری سړی وو را ووت مونږ فوراً د هغه لاسونه ور وتړل او د خانه سره مو د کور دننه بوت . د کور په پلټلو مو شروع وکړه د حاجی صاحب سپین سری ښځی او د وو اولادو ته ولسوال په قهر وویل چی تاسی د حکومت د نیولو خیال لری او داشرارو اسلحه داته ساتی ـ ـ ـ ـ ـ ؛ موږ کور تلاشی کړ اسلحه پیدا نشوه د کور خلک خوشحاله وه چی عاجزه خلک دی اسلحه نه لری حکومت به خپله تلاشی وکړی بیرته به پر خپله لارځی خو په دی نه پوهیده چی تلاشی د اسلحی په منظور نه وه او نه د حکومت د مخالفت تهمت واقعیت وو بلکه دا صرف

بهانه وه . د نومورې کور ١٨ تختی بهترینې قالینې موږ د سروزرودګانو سره را ټول کړل او په موټر کې مو واچول . حاجی ـ ـ ـ بای هلته لاس تړلی ولاړ وو او یوه ښځه یوه ځوانه پیغله لور او یو کوچنی زوی ئې دا ټوله صحنه کتله د وی حیران پاته وه چی دا څنګه دغلو حکومت دی چی د خلکو کورونه د شپې ورځې او په مالونو ئې موټران باروي خو دوی خواران له پوهیدل چه داسی وضعیت به دا خلقیان ور سره وکړی چی پر دغه حال به شکرو باسی . ولسوال ما ته مخ را واړاوه چی قوماندان صاحب د حاجی صاحب څه ښه ګلالی لوړده څنګه به ئې په ناز او د بل پراوړولویه کړی وی . زما خیال دی چی ناز ئې ور واخلم ته ئې موږونیسه هغه هم بده نده . قوماندان وویل چی ما عذرو غوښت او څارنوال ور وړاندی شو . په داسی حال کی چی حاجی صاحب ورته کتل ولسوال د هغه لور او څارنوال د هغه ښځه بیلو بیلو کوټوته کش کړل . زما فکر په انجلی کی وو چی دړانی غوندی ر پیدله او فریاد ئې کاوه . قوماندان را ته وویل چی حاجی صاحب له نیکه مرغه پس له هغه چی پر خپل اولاد ئې د بی پتی صحنه ولیدله د ولسوال له خوا په هدهغه شپه سرشو او مالو نه ئې ولسوال خپل کورته یووړل . د کمونستانو د لکونو لکونو جنایانو څخه یو څو مثاله می څکه را وړل چی لوستونکی پوه شی چی کمونیزم په اخلاقی طور یعنی څه ؟ داسی ظلمونه چی په افغانستان کی کمونستانو وکړل او کوی ئې چنګیز او بابریانو نه دی کړی باکه د مقایسی به صورت کی په هغوي بالکل بری الذمه شی . تاریخ بیله کمونستی مملکتو څخه په لوره آزاده دنیا کښې د داسی وحشت او درندګی مثال او سابقه نلری . ښه می په یا د دی چه یوه ووځ

نور محمد تره‌کی خپلو حزبی غړوته د نصیحت په ډول وویل چی زه پوهیږم چی په ځوانی کی خپل دشهوت سره مقابله نا ممکن کار دی خو تاسی بنا پر مصلحت د یوڅه وخت لپاره احتیاط وکړی . ده یو بل ځای هم خپلو ګوندی غړو او د افغانستان ولس ته وویل چی کوم حال چی نن پر افغانستان تیریږی یوه انقلابی دوره ده او د تشویش وړلده په روسیه کی داسی حال اس کاله دوام وکړ ، په ویتنام کی (۱۵) کاله او په کیوبا کی تراوسه دوام لری . ترڅو چی خلک زمونږ په فلسفه اولار آموخته کیږی دا وضع به دوام لری .

تر کودتا وروسته د افغانستان دروازی د روس پر مخ خلاصی شوی . خلاصی څه چی بیخی له بیخه وایسته شوی . هره ورځ یو دوه قرارداده د روس سره په مختلفوساحوکی امضا کیدل . په زرو زرو روسان د عسکری مشاورینو په نامه افغانستان ته راغلل او په زرو نور ئی په ملکی ساحه کی د وزارت خانو په هر دفتر کی د مشاورینو په صفت کښینتل . روسانو د افغانستان د ټولو پروژو پر پلاننګ باندی کنترول پیدا کړ. د مملکت په شمال کی ټولی هغه آبیاری پروژی چی د آمورود څخه ئی او به خوړلی یا معطله او یا تغییر پلان شوی څو او به ئی ټولی روسیی ته ولاړی شی . د غربی ممالکو پروژی په هر ځای کی د مسلسلو خنډونوسره مخامخ کیدی . خلقیان د روسانو په حمایه سخت ډاډه او غره وه . نوځکه ئی غربیانوته مخ نه ورکاوه په دی ډول افغانستان په هره ساحه کی په روس باندی متکی شو .

د کودتا څخه دری میاشتی نه وی لا تیری شوی چی د خلق په ګوند کی شدید اختلاف پیدا شو . تره کی او د ده ملګری یوی خواته

ببرک او د هغه ملگری بلی خواته شول . د دی اختلاف نتیجه دا شوه چی ببرک و چکوسلواکیا ته ، اناهیتا یوگوسلاویاته ، او نور احمد نور امریکا ته د سفیرانو په توگه و لیږل شول . نور مشهور ببرکیان چی په پرچمیانو مشهور وه هم په خارجی هیوادو کی په وظیفو و ټاکل شول . د پرچمیانو څخه یوازی سلیمان لایق ، حسن بارق شفیعی او غور بندی په کابینه کی پاته شول . سلمیان لایق خومیاشتی و روسته له کاره ایسته شو . په (اگست ، ۱۹۷۸م) (زمری ۱۳۵۷) جنرال عبدالقادر، سلطان‌علی‌کشتمند ، شاهپور احمد زی او جگړن محمد رفیع د حکومت له خوا ونیول شول او اعلان وشو چی دوی د ببرک کارمل په مشری کودتا کوله . د دوی اقرارونه ئی په اخبارو او را دیو گانو کی نشر کړل . د کابل په ښار کی اوازه شوه چی شاهپور احمدزی د حکومت له خوامړ شو او د جنرال عبدالقادر او محمد رفیع په مقعدوئی د اقرار او اعتراف په وخت کی د تهدید او تعذیب په ډول د کوکاکولا بوتلان استعمال کړل . دا آوازه هم خلقیانو خپره کړه چی حکومت د تحقیق په وخت کی سلطان علی کشتمند سر چپه ځړولی وو څو فضله مواد ئی د خولی له خوا خارج شی. په رشتیا هم جنرال شاهپوراحمد زی بیا چا ژوندی ونه لیدی خو عبدالقادر . کشتمند او رفیع هغه دی اوس د ببرک د حکومت په لومړی صف کی واقع دی .

ببرک او د ده ملگرو په خارج کی د خپلو وظیفو څخه استعفا وکړه دی عمل د خلق او پرچم د پیروانو تر منځ اختلاف نورهم ډیر او شدید کړ . رادیو او جرایدو په ببرک او د ده په ملگرو پسی بد ویل شروع کړل . ببرک کارمل به ئی کارغل ، جنرال‌زاده ، عوام

فریب او د امپریالیزم گوډاګی ، د سی آئی اے نماینده ، د غرب تالی څټی او عظیم شیطان باله او اناهیتاته به ئی د فاحشی او حتی د فاحشه بین المللی نسبت کاوه . د ببرک څو ملګری لکه بارق شفیعی او غور بندی چی په کابینه کی پاته وه ، د دی لپاره چی ځانونه د ببرک څخه لیری وښیی هر ځای به دریدل او ببرک او د ده ملګرو ته به ئی ښکنځل کړل . اولین وار ببرک ته بارق شفیعی شیاد بزرگ او غور بندی ورته شیطان ملعون ووایه . حکومت په اخبارو او را ډیو کی نشر کړه چی ببرک کارمل ، اناهیتا ، نور احمد نور ، ډاکتر نجیب ، محمود بریالی او عبدالوکیل د خپلو سفارتی وظیفو څخه د استعفا په وخت کی د هغو سفارتو قالینی او دارائی ټول لوټ کړل او د ځانو سره ئی یو وړل . خلقیانو به د اشعار ور کاوه چی مړه دی وی دا خائنان او د غرب فراریان . د ببرک او ملګرو په مذمت کی ډرا مونه و ښودل شول خپله تره کی هم په یوه بیانیه کی وویل چی «موږ دوی را سره ملګری کړل خو دوی د لستونی ماران وه . دوی د خلق د دارائی په لا ځوا نمردانه ډول لوټ کړه او خپلو غربی با دارانو ته ئی پناه یو وړه . . . »نور پرچمیان هم کررا کرار د مهمو وظیفو څخه ایسته کیدل او بندیانیدل .

نور محمد تره کی چی بریالی شو ببرک او د ده ملګری بیله کوم مقاومته د قدرت څخه وغورځوی او مطمئن شو چی حزب اوس یو لاس او یوه خوله دی هیڅوک ئی په اسانه مقابله نشی کولای نو د داخلی مقاومتو د سرکو بولو لپاره متوجه شو . د دی لپاره چی پدی برخه کی هم ښه موفق شی نو روسیی ته ولاړ او هلته ئی د روسانو سره

تاریخی شرموونکی معاهده لاسلیک کړه (٦ دسمبر ۱۹۷۸) کله چی بیرته افغانستان ته راغی په یوه بیانیه کی ئی وویل چی ما په شوروی کی داسی تاریخی کارونه وکړه چی افغانستان می د همیش له پاره د سوسیالیزم په کمپ کی و دراوه . د دی خبری معنی دا وه چی افغانستان ئی د همیش لپاره د روسیی په امن کی ور وا چاوه او هغوی ته ئی د دی مملکت قباله ور کړه . د دی سفر څخه و روسته د حکومت داری د خوار ملت په ځان نوری هم تیری او سخی شوی په کندهار ، پکتیا ، کابل او نورو ځایو کی ئی ډیر فوجی افسران په ضد حکومتی تور ونیول او ډیر ئی ځنی مړه کړل . ملکی مامورین ئی هم ډیر بندیان او مړه کړل . ملایان خو څه کوی حتی چی چیری یو سپین بګړی او ملا ډوله ږیره ور وو هغه ئی ټول ونیول او ورکه ئی فرار کړل . په بندیخانو کی ځای پاته نشو . په ضبط شوی تعمیرانو ، وزارتونو ، د روغتونو زیر زمینی ، ولسوالی او عسکری فرقی ټولی په بندیانو ډکی شولی خلک د ټولو هغو غوږو ، غوږو و عدو څخه چی سوسیالیزم او خلقیانو به ورته ورکولی اوس فقط د ژوندی پا ته کیدو په ارمان وه . ښه ژوند خو بیخی د چا نه وو په یاد . د اسلام په تور تور والی عظیم جرم وو چا به بل چاته د خدای په آمان نشوای ویلای داځکه د خدای نوم د هغه سړی مسلمان والی ثابتاوه هیچا د اسلام قوت ته دعا نشوای کولای . یوه ورځ ئی د پل چرخی بندیخانی ته زموږ د ځای د جامع جومات خطیب راووست زه ډیر خفه شوم داځکه دا څوروم ملا وو چی زموږ د جامع جومات څخه حکومت نیوی او یا فرار کیدی . ما ورته وویل چه ملا صاحب ته ئی په څه تور و نیولی .

ده را ته وویل چې زه ئې پر دعا بندی کړم ما د نورو خلکو غوندی معمولی دعا (ترقی اسلام ، شکست کفار دعای حاجات) چې د پلرو او نیکه گانو را پا ته ده کوله خودوی (حکومت) بده و منله او وئې ویل چې د ترقی اسلام څخه دی د اخوانیانو کامیابی او د شکست کفار څخه دی مطلب زموږ ناکامی او د دعای حاجات څخه دی زموږ د حکومت د سرنگونی مطلب دی . ما چې د ملا صاحب رنګ ته وکتل په پوه شوم چې سخت ئې وهلی دی نومی ورو ورته وویل چې ملا صاحب کوم تکلیف خو به دی ظالمانو نه وی در کړی . ده ومسل په داسی حال کی چې د جیبه ئې خپل دریری ډک مټ ویښتان را وایستل وئې ویل چې «داسی څوک به هم وی چې بی وهلو به دلته راځی ، په اله تناسلی پوری ئې لا هم برق را و تاره - اوس وینی کښینم خدای خبر چې بیا به می اولاد و شی» .

د تره کی په وخت کی بند او مرگ په یوه معنی وو لږ کسان د بندیخانی څخه ژوندی را و تلی دی او که څه ژوندی را وتلی دی د صحت او ژوند مزه ئې بیانده لیدلی . څوک چې به بندی شو نو که ژوندی به هم پاته وو په میاشتو میاشتو به ئې خپلوانو درک نه درلود حکومت د بندی ځای چا ته نه ښووه دا ځکه چې بیا خلکو په هر صورت چې وای تماس ورسره نیوی . د کندهار د هوائی ډگر څخه د بندیانو څوړکی طیاری ، چې اکثراً ئې د کندهار هیلمند ، زا بل او روز گان سپین ږیری او مشران وه ، د کابل خواته روانی شوی خو هیڅوک کابل ته و نه رسیده ټول چې په سوو کسان وه په لار کی پر غرو باندی و غور ځول شول . خپلوانو به ئې هر وخت په کابل کی

پوښتنه کوله مگر تر پایه ئې د خپلو بندیالو درک معلوم نکړ . ځینې خلک وائې چې د امریکا سفیر (Dubbs) هم په دې خاطر یو تعداد خلکو یرغمل ونیو چې پر حکومت باندې فشار واچوي چې خپل بندیان په خوښي کړي خو معتبر منابع وائې چې څکه چې ډېر (Dubbs) د شوروي امورو متخصص وو او روسان ځینې و یرېدل نو KGB د افغانستان د حکومت په مرسته هغه مړ او پر نوروئې تاوان کړ .

حکومت د دې لپاره چې په مملکت کې مقاومتونه یو په بل پسې مات او خپل حکومت نور هم مستقر کړي نوئې د اصلاحات اراضي پروگرام اعلان کړ . دوی د خانانو او لو یو زمینددارو څخه ځمکې اخیستلې او د هغوی بزگرانو ته ئې ورویشلې . دوی دا لوی کار صرف په شپږو میاشتو کې سر ته ورساوه . دا پروگرام او بیا په داسې عجله د دې لپاره نه وو چې په مملکت کې اجتماعي او اقتصادي عدالت تأمین شي دا ځکه په سوسیالیزم کې خو ټوله ځمکه په حکومت اړه لري . هلته د ځمکې ویش نشته او روا هم ندي . خو د تره کې هدف د ځمکې د ویش څخه دا وو چې د خانانو په مقابل کې چه ده د خپل حکومت لپاره خطر گاڼه د هغوی بزگران را پورته کړي . د ده په تحلیل سره بزگران د خپل ډېر والي او په عین حال کې د حکومت د حمایت په برکت به خانان له منځه یوسي : کله چې د خانانو مقاومت مات او ختم شوی واے . غریب بزگران بیا د حکومت سره د مقابلې توان نه در لود او توزیع شوي ځمکې په آسانه بیرته ځینې اخیستل کیدای سوای . په دې ډول حکومت ژر ژر ځمکې توزیع کړې بیله دې چې د چا قانوني اسناد و گوري او بیله دې چې و گوري دا ځمکه کافي او به لري او ټچپله ځمکه هم د خاورې په لحاظ صالح الزراعه ده او که نه . پر دښتو ئې

هم پړی وا چول او خلکو ته ئې په دی امید ور توزیع کړه چې حکومت بیا او به در ته پیدا کوی . هغه ځکن چې ظاهراً او به ورته پیدا کیدای شوای خود مالکي او لوړ واتر تیبل په وجه کرل ئې اقتصادی نه وه خلکو ته ور وویشل شوی .که به دا ډول د ښتونه او خرابی ځکی خپله د هغه وطن خلکو چې په بلدوه نه اخیستلی بیا به ئې د لورو ولایاتو څخه په خاصو مراسمو ناقلین ورته را وستل . خانانو او لو یو زمیندارانو د حکومت سره د مقابلې توان پیدا نکړ دا ځکه یو خو اکثره مقتدر او متنفذ کسان د ځکو د ویش تر پروګرام د مخه بندیان یا مړه شول . او د وهم دا چې خانانو خپلو بزګرانو ته د خپلو تیرو ظلمو او نارواګانو په وجه هیڅ مخ نه در لود . او په دی ښه پوهیدل چې همدا بزګران به د دوی سرا و مال ټول لوټ او تا راج کړی . لوئ د خاموشی او فرار لار اختیار کړه وائی چه که خان ئې په یاران ئې که یاران نه وی ته خو خاوری د بیابان ئې . زموږ خانان په یارانو خانان نه وه بلکه په مال خانان وه چې مال څنې ولاړ یاران خو دوی ځواهم له درلو دل نوهسی د بیابان خاوری او د ګوړی هندو کیان پا ته شول ټولو ښارو ته فرار وکړ او د حکومت له ویری به بازار ته هم سم نه را وتل .

حکومت په خپل دغه موفقیت او کامیابی چې د تره کی په قول چې «په ټول اصلاحات ارضی پروګرام کې هیچا زموږ مخالفت او ممانعت ندی کړی» . نور هم غره شو. حکومت ته اوس یوازی یو دښمن پا ته وو چې هغه باید له منځه یو سی چې هغه اسلام وو . کمونیستان په دی پوه وه چې برخلاف د کمونیزم ، اسلام او علم سره بیلیدای

نشي چې عالم دين له منځه ولاړ اسلام ورو ورو بځپله له منځه ځي . اسلام داسې ندی لکه کمونيزم چې فلسفه ئې په ناداره ، فقيره او له هری خوا په بيچاره ټولنه کې ښه پر مخ ځي (لکه مکروب چې په کثيف محيط کې ښه وده کوی) . نوئې د ملايانو ، ديني عالمانو او د هغو تعليم يافته کسانو نيولواو وژلو ته چې اسلام ئې د خپل اجتماعي او اقتصادی نظم لپاره اصولی لارگڼله نور هم زور ورکړ . د مثقفو او روښنفکرانو په مقابل کې نور محمد تره کی جهاد اعلان کړ او خپلو پيروانو ته ئې په يوه بيانيه کې امر وکړ چې هر ځای مو اخوانی (مثقف او روښنفکر مسلمانان) پيدا کړ پوست ئې کړی پوست . په بل ځای کې ئې هدايت صادر کړ چې سرو نه ئې لکه د مار تر ډبری لاندی وکوټئ .

د تره کی د جهاد په اعلان سره په ټول افغانستان کې دکمونيزم او اسلام تر منځ مقابله عملاً شروع شوه . تره کی فکر کاوه چې دی به فاتح او مسلمانان به مغلوب او مقهور وی نو ئې په ډيره بی رحمی د مسلمانانو په دسته جمعی مرگ لاس پوری کړ . په سل گونو مسلمانان به ئې هره شپه بيله کوم د ليل او تحقيق څخه بنديان او له منځه وړل . په کنړ کی ئې (۱۲۰۰) کسان د هغو د اولاد و په مخ کی په يوه ساعت د ماشيندار پواسطه له منځه يو وړل . په پل چرخی کی هره شپه د (۱۵۰) څخه تر (۲۰۰) کسانو پوری وژل کيدل . همدا قصه په ولاياتو کی هم وه . بالآخره خبره دی حد ته ورسيدله چې بيا ئې بنديان ژوندی تر خاورو لاندی کول . يوه خلقی وويل چې په زرو زرو بنديان دی دو مره گولی د دوی په وژلو ولی مصرف شي .

افغانان د خپل صريح والی ، سپيځلتوب او تر يوی اندازی د کم

علمي په وجه د نورو سلطه پرځان باندې ژر نه احساسوي یائې جدي نه نیسي خو کله چې پوه شي چې نومو ړي طاقت د دوی پر اجتماعي او فرهنگي اصولو باندې مخالف اثر غور ځول غواړي نو جدي کیږي او عمومي قیام کوي دا هغه وخت دی چې د جهان ډیر عظیم طاقتونه هم د دغو احساساتو په سرکوبولو نه موفق کیږي . په داسې وخت کې بیا د رهبرۍ او تنظیم سوال مطرح نه وي . هر نراو ښځه د متجاوز طاقت په مقابل کې داسې جنگیږي چې ته به وائې د دوی خوا ځخه په دقت سره رهبري کیږي .

د کمونیزم او اسلام دا جنگ ورځ په ورځ پر اختیا پیدا کول او خلک هم هر ځای دغه جنگ ته آماده کیدل . د کب په میاشت کې ۱۳۵۷ (مارچ ۱۹۷۹) د هرات خلک د حکومت په مقابل کې پورته شول . دولسوالیو خلک پر ښار راغلل عسکري فوځ هم ورسره ملگري شو ښارئې د حکومت ځخه ونیو کوم خلقیان او روسان چې هلته وه ټول ئې مړه کړل . حکومت د ښار د بیرته نیولو لپاره د کندهار ځخه یوه لویه قوه ور واستوله . کله چې قوه هرات ته ورسیدل د خلکو د خطا ایستلو لپاره ئې د اسلام شین بیرغ پورته کړ . مجاهدینو فکر وکړ چې دا هم مسلمانان او زموږ ملگري دي چې زموږ د حمایت لپاره را ځي . قوه چې ښه داخل د ښار شوه پر خلکو ئې ور حمله کړه . په دغه وخت کې د کابل او روسیې له خواهم الوتکې را ورسیدې د هرات پر ښار او فرقه ئې بمباري شروع کړه . چې په نتیجه کې په زرو کسان شهیدان شول او ښار پس له ځو ورځو خو نړیو جگړو بیرته حکومت ونیو .

د ثور په میاشت کې (مئی ۱۹۷۹) د افغانستان په اکثرو ځایو کې د حکومت پر ضد پاڅون و شو که څه هم حکومت هغوی په ډیر تکلیف بیرته تر کنترول لاندې راوستل خو په عین حال کې ئې روحیات هم سخت ور ضعیف کړل او و پوهید چې د ولس سره جنګ او مقابله ډومره ګران کار دی. حکومت د خپلې کامیابۍ لپاره د جنګ په څنګ کې د عوام فریبانه تبلیغ سیاست ته زور ور کړ. نور محمد تره کی به هر وخت ویل چې د مملکت ۹۸ فیصد خلک زموږ طرفداران دي (ځینې وخت به دا فیصدی ۹۹.۸ ته لوړه شوه). ده به ویل چې دا فقط یو څو غله دي چې لارې نیسي دوی څه نه شي کولای. زموږ انقلاب د تاریخ په حکم شکست ناپذیر دی موږ داسې ټولنه غواړو جوړه کړو چې ټول خلک د ژوند په لحاظ سره یو شي[1] وي. هر څه به د خلق[2] لپاره وي. ټول خلق به کور، کالي، ډوډۍ او عزت لري او د خلق دښمنان به نیست و نابود کیږي.

حکومت چه پوه شو چې د افغانستان ولس جدي دی او په خبرونه غولیږي نو ئې (د بې اتفاق واچوه حکومت کوه) سیاست را مخ ته کړ. هغه سیاست چې تره کی په لوړي سر کې د انګریزانو او امپریالستانو سیاست باله خو چې کله د او سله د ده خپله په کار شوه

---

(۱) ربښتیا هم سوسیالیزم د مظالمو د مساوی ویش معنی لري او په یوه سوسیالستي ټولنه کې د محرومیتو باران پر ټول ولس په مساوي ډول اوري، ټول په هیڅ کې سره مساوي شریک دي.

(۲) ربښتیا هم هر څه به د خلق (نه د خلکو) لپاره وي. په یوه سوسیالستي ټولنه کې هر څه د کمونست پارټي (خلق) لپاره دي.

لو بیا دا امپریالستی سیاست نه وو بلکه یو سوسیالستی عمل وو . ده څوڅو واره اهل تشیع کافران و بلل او پښتانه ئی د هغو پر ضد جنګ ته تشویق کړل. ده په یوه تلویز یونی بیانیه کی دا متل هم تیر کړ چی «چا په کلی کی له پریښود ده ویل آس می د ملک کره تړلی دی» . خمینی او شیعګان خپله مسلمانان ندی دوی بیا موږ ته کافران وائی . همدا راز تره کی د یو قوم څخه د ملیشی د اخیستلو او د بل قوم سره د جنګولو له لاری غوښتل مختلف اقوام په خپلو منځو کی سره واچوی او دی ګټه څښتی واخلی. د تفرقه اچولو دی سیاست هم نتیجه ور نکړه . دا ځکه ټول خلک پوه شول چی زموږ اصلی دښمن څوک دی . ورځ په ورځ د افغانستان د بیلو بیلو قومو ، ژبو او مذاهبو خلک په یوه سنګر کی د حکومت پر ضد را ټولیدل . داسی ولایت خو به په افغانستان کی نه وو چی خلک ئی د حکومت سره نه جنګیدل . د دی عام طغیان لمن کرار کرار د کابل ښار ته را ورسیده . په چندولو کی خلک د حکومت پر ضد پورته شول . د پولیسو تهانه ئی چور کړه او د ارګ پر خوا ور روان شول خو په لار کی د سخت جنګ څخه وروسته خلک تیت و پرک شول . په دی واقعه کی په زرو خلک مړه او بندیان شول . څه وخت وروسته په بالا حصار کی عسکری غونډ بغاوت وکړ . ټول خلقیان او روسی مشاورین ئی مړه کړل . حکومت د هغو د بیا تسخیر لپاره د درندو وسلو او هوائی بمبار یو څخه کاروا خیست . په دی ترتیب حکومت د هری حربی څخه کار واخیست خو خلک ارام نشول. خلقیان په هر ځای کی ترور اوله منځه وړل کیدل . څینو ئی ځانونه د ولایاتو په مرکز او د کابل په ښار کی ټینګ کړل او بیا به اطرافو ته نه تلل .

حکومت په دغه وخت کی سخت لاس او پښه وو او روسان هم نپوهیدل څه وکړی .

نور محمد تره کی دوړی په میاشت (سپتمبر ۱۹۷۹) کی کیوبا ته ولاړ چی د بیطرفو ممالکو د سرانو په غونډه کی ګډون وکړی د ده سره په دی سفر کی داکتر شاه ولی او سید داؤد تړون هم ملګری وه . کله چی د کیوبا څخه بیرته افغانستان ته راتلی په لار کی په ماسکو کی څو ورځی تم شو (۱۱ سپتمبر ۱۹۷۹). روسانو ده ته د افغانستان د حالاتو په باره کی تشویش ښکاره کړ . تره کی حیران وو څه دلیل ورته ووایی دا ځکه دا خوئی نشوای ویلای چه خلک دوی نه غواړی لوئی د خان د خلاصیدو لپاره ورته وویل چی دا ټول کارونه د حفیظ الله امین له لاسه خراب دی . ده د پرچمیانو سره د خلقیانو د اختلاف مسئولیت هم پر امین و اچاوه . بیرک او د ده ملګری چی په ماسکو کی وه هم د امین سخت مخالف او هغه ئی د روسانو په ذهن کی تخریباوه . د ټولو خرابیو مسئول ئی هغه ګڼه . روسانو تره کی ته وویل چی حفیظ الله امین لیری که . د حفیظ الله امین لیری کیدل آسانه کار نه وو دا ځکه چی هغه په فوج کی لوی لاس دړ لود نو د هغه د وژلو تصمیم واخیول شو .

تره کی کابل ته ورسید او په ډیرو شاندارو مراسمو ئی استقبال و شو . هوائی میدان په قالینو فرش وو . هر ځای شعارونه لیدل کیدل چی تل دی وی ستر تره کی ، ژوندی دی وی د شرق نابغه ، تل دی وی زمونږ د نبوغه ډک لار ښود ، تره کی او حزب روح او جسم دی او اجمل خټک خوبیا هغه د کړدی ستوری و باله - - - - او دامی نور القاب . حفیظ الله امین ، چا له چی تره کی خپل وفادار

او علی الاعلی شاګرد وایه ، تره کی د هوائی میدان څخه تر جمهوری ارګ پوری بدرګه کړ .

حفیظ الله امین د سید داؤد ترون او نورو هغو کسانو له خوا چی د تره کی سره په سفر کی ملګری وه د روسانو او تره کی په تصمیم چی د ده دوژلو په باره کی ئی نیولی وو خبر شو فوراً ئی دفاعی اقدامات شروع کړل . په (۱۳ سپتمبر ۱۹۷۹) کی تره کی په ارګ کی یو خاص مجلس د دی لپاره ظاهراً را و بللی چه ملګرو ته د خپل سفر نتائج تشریح کړی خو په پټه ئی پلان دا وو چی امین له منځه یوسی . حفیظ الله امین چه په موضوع پوه وو د خپلو ملګرو سره مسلح مجلس ته ورغی . د دوی تر منځ جنګ و نښت خو دا خبره لده معلومه چی جنګ د تره کی او حفیظ الله امین د طرفدارانو تر منځ څنګه پیل شو . نتیجه دا شوه چی حفیظ الله امین ژوندی پا ته شو ، تره کی دستګیر او د ده طرفداران مړه او بندیان شول .

حفیظالله امین د خلق د حزب پلینوم راوباله او هغوی ته ئی د تره کی خیانتونه تشریح کړل . حزب هم هغه ملامت او ظاهراً ئی د ناروغی په بهانه مستعفی اعلان او حفیظ الله امین ئی په (۱۶ سپتمبر ۱۹۷۹) د افغانستان جمهور رئیس انتخاب کړ . تره کی په ارګ کی بندی وساتل شو هره شپه ئی په تلویزیون کی لیدل چی څنګه هغه کسان نن پرده بد وائی چی پرون ئی په توصیف نه مړیدل . خلقیانو د حفیظ الله امین په طرفداری مظاهری وکړی او ناری ئی وهلی چی مرګ پر تره کی ، مرګ پر کیش شخصیت (د کیش شخصیت څخه مراد تره کی وو) ، مرګ د امپریالیزم پر نماینده ، مرګ د C.I.A. پر ایجینټ ، مرګ

پر بیسواده او جاهل تره کی - - - - او نور . ژوندی دی وی د ثور انقلاب ستر قوماندان ملگری حفیظ الله امین ، ژوندی دی وی د ثور د انقلاب روښانه سور ستوری - - - - د تره کی په ملیونو عکسونه څیری شول او د کورنی غړی ئی هم ټول بندیان شول .

بریژنیف او کاسگین اولین کسان وه چی حفیظ الله امین ته ئی د نوی وظیفی د اشغال په مناسبت تبریکات و رولیږل او د دواړو حکومتو د دوستی د لاپیاوړتیا هیله ئی وکړه (۱۷ سپتمبر ۱۹۷۹) . تره کی په دغه وخت کی په ارگ کی بندی - او په تلویزیون کی ئی دا ټوله صحنه لیدله . ده لیدل چی د ده وفادار شاگرد او قابل اعتماد بریژنیف څه کوی . د حفیظ الله امین غوړه مالی او توصیفونه او ماسکو ته په خپل سفر کی ئی د بریژنیف توده غیږ چی دی ئی ټکښی نیولی وو سترگو ته دوری دوری کیدل . په ١٦-٧-١٣٥٨ (٨ اکتوبر ٧٩) دری تنه خلقیان د حزب په امر تره‌کی ته ورغلل او هغه ئی په خفه په ډیر فضیحت وواژه او په کول آب چکان که ئی په یوه غار ډوله قبر کی په داسی حال کی واچاوه چی هم هغه کالی ئی په ځان کي وه چی د ده د مرگ په وخت کی د خفی له فشاره چټل کړی وه . د ده د مرگ داستان په تفصیل سره د هغو خلقیانو له خوا په رسمی جرایدو او رادیو کی نشر شو کومو کسانو چی دی ئی وژلی وو . د دغو درو قاتلینو څخه یو زماڅه شناخته وو چی د تره‌کی د وژلو مکمل داستان ئی د خپلوانو له لاری ترما پوری را ورسید . څو ورځی وروسته د کابل په ښار کی آوازه خپره شوه چی د تره کی مړی مسلمانانو د قبره را کښلی دی په ښځو کی ئی رسي وراچولی او په کوڅو کی ئی

کشوی . چا به ویل اوس ئی مزار شریف ته وړی دی . بله ورځ آوازه شوه چی د تره‌کی مړی په کندهار کی لیدل شویدی او ځینو به ییا ویل چی هغه ئی هرات ته وړی دی چی هلته خلک پر تف کړی .

حفیظ الله امین د یو عجیب مشکل حالت سره مخامخ وو . دی مجبور وو د تره کی طرفداران له کاره لیری او بندیان کړی دغه کار په فوځ او ملکی ساحو کی غټی تصفیی ته ضرورت درلود . دی مجبور وو چی پرچمیان نور هم تر فشار لاندی راولی او پری نږدی چی هغوی د تره کی د مرګ څخه د راولاړ شوی اختلاف څخه ګټه واخلی . دی مجبور وو چی د خلکو سره جنګ ته ادامه ورکړی دا ځکه د خلکو په نظرکی تره‌کی او ده څه فرق نه در لود . خلکو ته دی د هغه وفادار او علی الاعلی شاګرد وو . دی مجبورو و د روسانو سره تر حد اضافه غوړه مالی وکړی او هغو ته هر راز امتیاز ورکړی . دا ځکه بیله د روس له مرستی څخه د ده د حکومت سقوط حتمی وو . ده خپله هم په یوه بیانیه کی اعتراف وکړ چی که د روسانو مرسته نه وی د ده حکومت پنځلس ورځی هم دوام نشی موندلای او بالآخره دی مجبور وو روسان په هر ډول او هره بیه چی وی قانع کړی چی د دوی او تره کی هغه نا کامه پلان چی د ده د وژلو لپاره ئی طرح کړی وو دی نه دی خفه کړی او د دواړو حکومتو پر دوستی به بد اثر وانه‌چوی .

دا ټول دامی مشکلات وه چی فتح کول ئی آسانه کارنه وو . حفیظ الله امین ډیر خلتیان (د نور محمد تره‌کی طرفداران) بندیان او مړه کړل . پرچمیان ئی نور هم د کاره لیری او بندیان کړل ، د روس

صفت ئې افراط ته ورساوه . د روسانو سره مینه او محبت ئې خپل د وطن پرستۍ جز اعلان کړ او دائې ویل چې هر څوک روس بدوینی هغه خاین او وطن پلورونکی دی . د مجاهدینو سره ئې جنګ ته د پخواپشان ادامه ورکړه . ده د تره کی د بدنامولو او د ټولو خرابیو مسئولیت پر هغه د اچولو په خاطر د یو تعداد هغو مړو د نومونو لست نشر کړ چې د تره کی په وخت کی وژل شوی وه . ده اعلان وکړ چې د تره کی په وخت کی هر څه چې شوی وه هغه په تره کی اړه لری . تردی وروسته به ټول خلک د قانونیت ، عدالت ، او مصئونیت په فضا کی ژوند ولری هیڅ څوک به بی جرمه بندی نشی .

خلک پدی خوښ نشول چې حفیظ الله امین قدرت په لاس کی واخیست دا ځکه هر چا پیژانده خو په دی ډیر خوښ شول چې تره کی له منځه ولاړ . د تره کی په له منځه تلو سره نور نو فشار یوازی پر مسلمانانو نه وو بلکه خلقیانو او پرچمیانو هم خپله برخه اخیستله . د مسلمانانو دسته جمعی قتلونه چې د تره کی په وخت کی عادی کار وو کم شول . د تحقیق په وخت کی په وهلو او ټکولو سره اقرار اخیستل خلقیانو او پرچمیانو هم و لیدل او هغه بندیخانی او د عذاب ځایونه چې دوی د مسلمانانو لپاره جوړ کړی وه . پخپله په دوی هم ډک شول . هغه غیر انسانی رویه چې دوی په بندیخانه کی د مسلمانانو سره کوله اوس خپله د دوی سره هم هغسی رویه کیده په لومړی سر کی چه هر خلقی به بندی کیده نورو بندیانو به ترڅو ورځو پوری هغه ته شکنځل کول او په ډېرو به ئې ویشتی خو وروسته دوی دومره ډیر شول چې چا بیا آزار ولای نشوای .

حفیظ الله امین حیران وو چی پر کومه خوا و جنګیږی . اولس ورځ په ورځ ورته پورته کیدی . په حزب کی ورځ په ورځ اختلاف ډیر یدی او په روس باندی ئی د ځینو شواهدو په آساس ورځ په ورځ اعتماد لږیدی . دی دی نتیجه ته ورسیدی چی روس هر وخت چی وی دی له منځه وړی نو دا ئی بهتر ګڼل او حتی مجبور وو چی د اولس سره روغی جوړی ته ځان تیار کړی . ده د پاکستان د حکومت سره تماس ونیوچی د مهاجرینو او په افغانستان پوری مربوط نور مسائل او دمشکلاتو د حل پرلار خبری وشی . ده آغا شاهی (هغه وخت د پاکستان د خارجه چارو مشاور) او جنرال ضیاء الحق ته بلنه ورکړه چه کابل ته دوستانه سفر وکړی .

روسان د حفیظ الله امین څخه و یریدل او ښه پوهیدل چی هیڅ وخت به د امین له زړه څخه د تره کی - برږنیف هغه ناکامه پلان چی د ده د وژلو لپاره طرح شوی وو ونه وزی .

روسان د امین له ارتباط څخه چی د پاکستان د حکومت سره ئی نیولی وو سخت پریشانه ؤه او ویریدل چی مبادا امین د پاکستان سره پټ سازش و نه کړی چی د روس په زیان وی . روسان په افغانستان کی د مسلمانانو له اقتدار څخت سخت ویریدل . روس په دی متیقین وو چی که مجاهدین افغانستان ته داخل او په حکومت کی لږځای هم پیدا کړی په کم وخت که به د کمونستانو څخه قدرت تر لاسه او اسلامی حکومت به جوړ کړی . روسان په افغانستان کی یو اسلامی حکومت خپلو هغو شپږو مسلمانو جمهوریتو ته چی په مرکزی اسیا کی پرا ته دی مستقیم خطر بولی . دوی وویریدل چی په ایران کی د اسلامی

انقلاب بریالیتوب او په افغانستان کی د یو اسلامی نظام منځ ته راتګ او په پاکستان کی د حکومتی دستګاه اسلامی کیدل دا ټول به د روسیې مسلمانان بیدار او د خپلی آزادی او حقوقو لپاره به ئی قیام ته وهڅوی .

په دی ډول روسان وو یریدل چی د حفیظ الله امین تماس د پاکستان سره به په افغانستان کی د کمونیزم د محو کیدو او د روسیې مسلمانانو ته د اسلامی تحریک په نفوذ سره پای ته ورسیږی خو ظاهراً ئی د امین توصیف او حمایه کوله . بریژنیف او کاسګین دواړو (٦ دسمبر ۱۹۷۹ ، ۱۵ قوس ۱۳۵۸) امین ته د هغی شرم آوری معاهدی د کلیڼی مبارکی ور واېول کوم چی تره‌کی یو کال د مخه په همدغه وخت په ماسکو کی د بریژنیف سره لاس لیک کړی وه .

روسانو په (۱۱ دسمبر ۱۹۷۹) د افغانستان سرحداتوته نژدی د خپل فوځ د ځای پر ځای کیدو کارپیل کړ . امریکا روسانو ته په ۱۹ دسمبر ۱۹۷۹ کی اخطار ورکړ چی روسیه په افغانستان کی د مداخلی خیال لری او هغه ته تیاری نیسی خو روسانو هغه په کلکه رد کړ (۲۳ دسمبر ۱۹۷۹) او دا ئی د امپریالستی پروپاګندی جز وباله دوی وویل موږ هیڅ وخت د چا په کورنیو چاروکی مداخله نه کوو دا امریکا ده چی بین المللی حوله خرابوی .

په ۲٤ دسمبر ۱۹۷۹ د روسانو د فوځ راتګ افغانستان ته پیل شو څلور ورځی ئی دوام وکړ . د کابل اسمان د طیارو څخه ډک وو . د ډیسمبر په ۲۵ پراودا اخبار د حفیظ الله امین په حمایه او د مجاهدینو په ضد لو سره یو لوی مضمون خپور کړ چی ماسکو رادیو هغه

په سبا (۲۹ دسمبر ۱۹۷۹) نشر کړه. د دیسمبر په ۲۷ ۱۹۷۹ ر کابل راډیو اعلان وکړ چې حفیظ الله امین د ماپښین پر (۲) بجو خبری کوی ، دوی بجې را ورسیدی مګر حفیظ الله امین خبری و نه کړی او په عوض کې ئی راډیو تاشکند له روسیی څخه په افغانستان کې د کودتا او د امین دمنځ تللو خبر خپور کړ . تاس اژانس دببرک کارمل پیغام نشر کړ . په همدغه ماښام پر راډیو افغانستان او جمهوری قصر روسانو حمله وکړه . د دغه زد و خورد په نتیجه کی حفیظ الله امین له منځه ولاړ او نژدی ملګری ئی ټول بندیان شول . په (۲۸ دیسمبر) روسانو اعلان وکړ چې موږ د افغانستان د حکومت په درخواست هغه هیواد ته فوځ و استاوه . په همدی ورځ بریژنیف کابل ته ټلګرام مخابره کړ او ببرک کارمل ته ئی د هغه د جمهور رئیس په توګه د انتخابیدو (په حقیقت کی د روس له خوا د انتصاب) په وجه مبارکی وویله او د ده د بریالتیوب هیله ئی وکړه په داسی حال کی چې ببرک کارمل هغه وخت پخپله په ماسکو کی وو . په همدی ورځ د روسي فوځ دوی نوری فرقی د ترمزاوکشک له لاری افغنستان ته داخلی شوی . ببرک کارمل شپږ ورځې وروسته د روسیی څخه کابل ته راغی او پر هغه تخت کښیناست چې روسانو ورته جوړ کړی وو .

دا چا ته ټراوسه معلومه نده چې روسان چا افغانستان ته را وبلل یا څنګه افغانستان ته راغلل آیا حفیظ الله امین را غوښتی وه که ببرک کارمل او که پخپله راغلل خو زما په فکر روسانو په هر صورت په افغانستان کی د مداخلی خیال درلود نو به ئی امین ته

پیشنهاد کړی وی چی پر مجاهدینو بالدی باید یوه قاطع ضربه وارده شی چی له شره ئی ډول خلاص شو بیا به پر آرامه هم ته حکومت کوی او هم به زمونږ درد سر کم وی . امین به ور سره منلی وی . د روسانو هدف دا وو چی په دغه بهانه به په آرامی سره قوا وی افغانستان ته داخلی کړی . حساس ځایونه به ونیسی او په یو مساعد فرصت کی به امین چی نور د دوی په درد نخورږ لیری کړی او ببرک کارمل د دوی د درگاه وفادار سپی د هغه پر ځای کښینږی . په دی ډول به په افغانستان کی کمونیزم او د ثور کودتا ته د فنا څخه نجات ور کړی او و خپل تاریخی هدف ته چی بحر هند ته رسیدل وو یو قدم نور هم نژدی سی .

امین هم دا پیشنهاد ممکن د دی سببه منلی وی چی پر مجاهدینو د قاطع ضربی په و اردولو سره به په هره مذاکره کی چی د پاکستان یا مجاهدینو سره کیږی لوړ لاس او قوی موقف ولری مگر لوی خدای دی تر ډولو لومړی د خپل فریب او چل قربانی کړ او د هغو کسانو په لاس ئی و واژه کوم چی د هغو سره محبت د ده د وطن پرستی جز وو . (ومکروا ومکر الله والله خیر الماکرین)

## نتیجه

اهداف : روسانو په دغه مشخصه دوره کی (۱۹۸۰-۱۹٤۵) د افغانستان سره په تعلقاتو کی څلور مهم اهداف درلودل :

(الف) په دغه دوره کی د روسانو دلو یو او مهمو اهدافو څخه یو د

کمونیزم د فلسفی پراختیا وه . دوی په ټول جهان خصوصاً په خپل شاوخوا کی د کمونیزم د خپرولو لپاره هر اړخیزه هڅی کولی . افغانستان په څو لحاظ دوی ته مهم وو . یو دا چی که چیری په افغانستان کی یو کمونست حکومت منځ ته راځی د روس یوه برخه سرحد به د غربی دنیا د نفوذ څخه محفوظ وی . دوهم دا چی د افغانستان په کمونست کیدو به د مرکزی آسیا د مسلمانانو اسلامی او ملی آرمان نورهم خفه شی . دریم دا چی که افغانستان د روس لاس ته ولویږی نو یو قدم به د هند بحر او خلیج فارس ته نژدی شوی وی او څلورم دا چی د افغانستان په کمونیست کیدو سره به د کمونیزم فلسفه یو قدم نوره هم پر مخ تللی وی او ټوله نړی خصوصاً په آسیا ئی ملتو کی به د کمونیزم د لا پر مختګ لپاره نوره زمینه هم مساعده شوی وی .

(ب) روس او د ده ملګری تیلو ته سخت ضرورت لری چی اوس ئی بار یوازی د روس پر غاړه دی . داسی اټکل شوی دی چی څو کاله و روسته به روسیه د تیلو په کمبوداخته شی نو مجبور دی د تیلو د لاسته را وړلو یوه بله منبع لاس ته راولی . د افغانستان په کمونست کولو او یا نیولو سره به لومړی دوی د افغانستان هغه د تیلو ، یورانیوم او انرجی نوری منابع په خپله ګټه استعمال کړی چی په افغانستان کی موجود دی . دوهم به روس یو قدم نورهم و خلیج ته نژدی شوی وی چی په بل قدم کی په آسانی سره و کولای شی په خلیج کی د تیلو د

ترافک جریان تر کنترول لاندی ونیسی او ځانته د تیلو مستقل منابع پیدا کړی .

(ج) روسیه د پخواپشان اوس هم په تودو اوبو کی لاری او بندرته ضرورت لری چی د هغه په ذریعه ئی تجارت سریع او ارزان شی . افغانستان ئی په لارکی واقع دی باید دا د لاری خنډ په هر ترتیب چی وی له منځه یو وړل شی څو بحر هند ته رسیدل آسانه شی .

(د) روسیه د یوغټ طاقت په حیث ، خپلی نظامی پیا وړتیا ته ډیر ضرورت لری باید د نړی په هره برخه خصوصاً بحر هند کی چی ډیره حساسه منطقه ده نظامی حضور ولری . د دغه مأمول لپاره دوی ته د اډو او پایګاه وو ضرورت دی . د افغانستان په له منځه تللو سره به دوی دغه هدف ته د رسیدو په لار کی یو قدم نورهم مخ ته ولاړ شی .

د دی لپاره چی روسان خپلو اهدافو ته ورسیږی ډیره توجه ئی افغانستان ته ځکه درلوده چی :

(الف) روسانو ته په اروپا کی په سیاسی او نظامی لحاظ وړاندی تګ ممکن نه وو هلته د ده په شان قوی ممالک پراته دی چی دی ورته د چپ کتلو جرئت هم نه لری . یوازی د ترکیی ، ایران او افغانستان له لاری ئی مطلب سرته رسولای شوای . د ترکیی او ایران لار هغه وخت پرده و تړل شوه چی هغوی د انګلیس او امریکا سره د بغداد په نظامی پکت کی چی و روسته پیا په سنټو یاد شو یوځای شول . یوازی افغانستان دامی مملکت

وو چې د یو بل لوی طاقت ملاتړ ئې نه درلود او روس کولای
شوای چې په هغه کې په آسانی سره نفوذ وکړی .

(ب) تر دوهم نړیوالی جګړی د مخه انګلیس د افغانستان د سرحد
پوری خواته په هندوستان کې د یو متقدر جهانی طاقت په حیث
موجود وو د انګلیس له ویری روس دا جرئت نشوای کولای چې
پر افغانستان حمله وکړی . په نولسمه پیړی کې د دی د وو
لو یو طاقتو رقابتو وښوول چې د افغانستان موجودیت د یوی
عایقی منطقی په توګه د دواړو لپاره ضروری وو . کله چې
انګریزان له هندوستانه ووتل روس ډیر خوښ او بې رقیبه پا ته
شو خو انګلیس د امریکا په ملګرتیا له بلی دروازی څخه منطقی
ته را داخل شو او په پا کستان کې ئې ځای ونیو . دی عمل
روسان سخت نا آرامه کړل د پر مختګ مخ ئې ونیول سو. روس
مجبور شو په افغانستان کې د سولی او دوستی له لاری را مخ
ته شی او د خپل هدف لپاره په ډیر احتیاط او صبر سره زیر
زمینی فعالیت وکړی . کله چې په پا کستان کې جنرال
محمد ایوب خان د بیطرفی خواته میلان وکړ نو په منطقه کې
کرار کرار سیاسی خلا پیدا کیده چې د روس په ګټه وه . تر
ایوب خان و روسته هم پا کستان د سنتو غیر فعال غړی پاته
شو څو بالاخره له هغه څخه ووت که څه هم روس چې په
منطقه کې بې رقیب طاقت وو خو بیائې هم نشوای کولای پر
افغانستان حمله وکړی دا ځکه د افغانستان څنګ ته د شاه
تر حکومت لاندی یو مقتدر ایران پروت وو کله چې د ایران له

خوا خطر هم د شاه په ایسته کیدو سره لیری شو نو موقع مناسب وگڼل شوه او پر افغانستان ئې پرته د کوم خطر له احساسه په ډاده زړه حمله وکړه .

(ج) د افغانستان مجبوریت چې باید د روس سره نژدې تعلقات ولری هم د روس په گټه او د افغانستان په تاوان تمام شو ، په داسې حال کې چې ایران او پاکستان د روس سره په دا ډول دوستی مجبور نه وه . روسانو هم د افغانستان د دغه مجبوریت څخه بده استفاده وکړه . دا مجبوریتونه په لاندې ډول خلاصه کیږی :

۱- غربی دنیا د افغانستان سره دلچسپی نه درلوده . افغانستان یو آباد ، زراعتی یا صنعتی مملکت نه وو او نه ئې تیل درلودل چې دوی په اقتصادی لحاظ دلچسپی ور سر پیدا کړی وای . په ستراتیژیکی لحاظ هم افغانستان د بحر هند څخه لیری په وچه کې پروت هیواد وو چې غربیانوته ئې کومه فائده نه رسیده . حتی یوه مسئول امریکائی ویلی وه چې «که روس افغانستان هم ونیسی بیاهم بحر هند او تیلو ته لارنشی پیدا کولای موږته کوم خطر ندی ، ایران او پاکستان خو زموږ په لاس کې دی». د غرب دغه بې میلی او عدم دلچسپی افغانستان مجبور کړ چې روس ته نژدې شی .

۲- ایران او پاکستان دواړه د (سنتو) په نظامی تړون کې د امریکا او انگلیس سره وه . افغانستان د خپلی عنعنوی بیطرفی د ساتلو په شرط سره لومړی د امریکا څخه نظامی مرسته وغوښته خو امریکا دا شرط و نه مانه حتی په تړون کې ئې د افغانستان د

شاملیدو سره هم علاقه نه درلوده په دی صورت کی افغانستان مجبور وو چی روسانو ته مخ واړوی .

۳ـ د افغانستان او پاکستان د مشرانو تر منځ سیاسی عدم تفاهم او حسن نیت هم افغانستان مجبور کړ روس ته نژدی سی .

٤ـ د پاکستان نظامی پیاوړتیا افغانستان د ځان لپاره تهدید او خطرګاڼه او استدلال ئی کاوه چی پاکستان د افغانستان لپاره ځان تیاروی نه د روس په مقابل کی دا ځکه پاکستان د روس سره کوم سرحد نه لری چی پر هغه تجاوز وشی. د خطر دغه احساس هم افغانستان روس ته نژدی کړ .

٥ـ افغانستان یو محاط په وچه هیواد وو . د پاکستان سره به ئی د مناسباتو دخړ پړتیا په وجه اکثراً خارجی راکړه ورکړه متضرر وه نو روسیه د افغانستان لپاره یوازینی محفوظ ترانزیتی لار وه . ددغی لاری په خاطر هم مجبور وو خپل روابط د روسیی سره ښه وساتی .

٦ـ روسیه د افغانستان شمالی ګاونډی وو . افغانستان هم په سیاسی او هم په اقتصادی لحاظ مجبور وو چی د دامی یو قوی ګاونډی سره نژدی روابط وساتی .

(د) د افغانستان داخلی وضع او مشکلات هم د روس د مداخلی لپاره لار هواره کړه . دغه مشکلات په لاندی ډول ښه ولای شو .

(الف) د افغانستان تاریخ که ښه وکتل شی دری مهمو عناصرو په هغه کی غټ رول لوبولی دی چی هغه عبارت دی له آزادی ، ب

طرفی او انکشاف څخه . کوم وخت چی یو د دغو عناصرو څخه له منځه وتلی دی نورو دوو بیا کارندی ور کړی او افغانی ټولنه بحرانی شویده . ظاهر شاه په خپل افراطی محافظه کار سیاست سره چی پریښوده هر څه په خپل طبیعی گام حرکت وکړی افغانستان دنړی له کاروانه دومره و روسته پاته وساتی چی هر ځای ئی د غربت خبری کیدی او د نړی فقیرترین مملکت وو . افغانانو د یوی گولی و چی ډوډی په طمع که یوی خوا او که بلی خواته د فقر لاس اوږداوه . د یو محروم انسان به څه آزادی وی . که آزاد وی نو به تش په نامه وی . د هغه چا به څه بیطرفی وی چی هر طرف ته ئی د فقر او امید لاس لیولی وی داؤد خان په اقتدار پسی دومره لیونی وو چی و هغه ته د رسیدلو او بیا د ساتلو لپاره ئی د هر چا ، هر ناقابل او وطنفروش سره ملگری کوله . ده صرف د خپل قدرت د ساتلـو لـپـاره کمونیستانو او روس ته ترحد اضافه امتیازات ور کړل او د افغانستان عنعنوی بیطرفی ئی خرابه کړه . که ظاهر شاه د افغانستان دوروسته پاته ساتلو په وجه د ملک آزادی د روس په خوله کی ور کړه نو داؤد خان د افغانستان د بیطرفی په زیانمنولو سره هغه د روس په خیټه کی ورو ا چاوه . د یو فاحش طبقاتی ژوند په وجه چی یو څو کسانو هر څه درلوده او ډیرو هیڅ نه درلوده ، یو څو کسه د دنیا په نشه داسی مست وه چه هیڅوک ئی په سترگونه لیدل او ډیر بیا دلوږی ورته بی وا که پراته وه دی وضع داسی حال پر افغانستان را ووستی وو چی هر څه د غلـه ، فحاش ، قاچاقبر ، رشوت خواره او ظالم سره وه

په خلکو کی عزت او قدرت د همدغو داړه مارانو او د حکومت منصبونه هم پر دغه ناقابلو ویشلی شوی وه . دوی د خپل عیش و عشرت د بقا لپاره هر څه ته تیار وه . هغه د پښتو متل چی وائی «مال دی ولاړشی ، سردی ولاړشی ، پت دی نه ځی» دوی سر چپه لار اختیار کړی وه . د هر څه بایللوته تیاره وه خود مال او عیش بایللوته نه . د افغانستان فوځ هم د داسی یوی فاسدی ماشنری جز وو . دوی ته چی هر چا معاش او امتیازات ډیر ور کول د هغه ملګری وه دوی په پیسو او استراحت پسی تلل ، دا فرق باندی نه وو چی د افغانستان حکومت د چا په لاس کی دی . روسانو د دوی دغه بی تفاوتی او ماده پرستی درک کړه . د دوی معاشات ئی ورلوړ کړل خو په عوض کی ئی هر څه چی په افغانستان کی غوښتل هغه ئی وکړه .

## نوی شرایط :

روس سر بیره پر هغه پلان چی د تاریخ په او ږدو کی ئی د افغانستان د نیولو لپاره درلود ځینی نوی شرایط او ضرورتونه چی د دغی دوری مشخص ممیزات دی ، هم منځ ته راغلل چی باید روس پر افغانستان حمله وکړی او هغه ونیسی .

(الف) د چین محاط کول . پس له هغه چی د کمونست چین او روس مناسبات خراب شول روس کوښښ کاوه چی د چین د نفوذ د پراختیا مخ ونیسی او هغه د خپل نفوذ په ساحه سره محاط کړی . د بریژنیف دآسیا د جمعی امنیت پلان په همدی منظور

وو . افغانستان د چین د گاونډي په حیث روسانو ته د خپل پلان (د چین محاطول) د تطبیق لپاره اهمیت درلود . همدا راز د چین او امریکا دوستي د روس د تشویش سبب شوه او کوښښ ئې پیل کړ چې د دغه دوستي اثرات محدود کړي . روس غوښتل چې افغانستان د دغه اثر څخه لیرې وساتي .

(ب) په افغانستان کې د اسلامي نهضت او تحریک ورځ په ورځ پیاوړتیا هم روس اندیښمن کړ . په ایران کې اسلامي انقلاب ، په پاکستان کې د حکومت د اسلامي کیدو پروسه او په افغانستان کې د اسلامي حکومت لپاره جدوجهد دا ټول روسانو خپل ځان ته د خطر زنګونه وګڼل چې مبادا دغه اسلامي تحریک د روسي مسلمانانوته چې د هغه هیواد په سلوکې شل تشکیلوي ورسیږي . دغه ذهني خطر روس د افغانستان نیولوته و هڅاوه . د روسانو له خوا د دغه خطر احساس واقعیت هم لري .کله چې روسانو پر افغانستان حمله وکړه (دسمبر ١٩٧٩) د دوی فوج اکثراً د مرکزي آسیاله مسلمانانو څخه جوړ وو . روسانو دمرکزي اسیا دمسلمانانو څخه فوجونه‌په دی خاطر راوستل چې افغانان مسلمانان دی او د مرکزي اسیا خلک هم . افغانان به د دوی سره (روسي فوځ) د اسلام په خاطر جنګ و نه کړي مګر موضوع سر چپه شوه هغوی چه راغلل ټولو قرآن شریفونه هدیه‌کول او په پټه ئې کوروته (په روسیه کې) استول . د افغانانو سره ئې سم جنګ نه کاوه بلکه افغانانو ته به ئې ویل چې د روس په مقابل کې مقاومت وکړی که نه ستاسې به هم

داسی حال شی لکه زموږ چی دین او دنیا دواړه خطا شول .
روسانو څو وخته و روسته دا موضوع درک کړه او و ویریدل
چی د دی پر ځای چی دا عسکر وجنګیږی مبادا د اسلام په
انقلابی تعلیماتو مجهزشی او هلته د روسیی په داخل کی دا فکر
او تعلیمات خپلو خلکو ته ور سوی . دغه سببونه وه چی روسانو
بیرته نو موړی فوځ روسیی ته ولیږه او پرځای ئی سره روسان
را وستل .

(ج) که د روسانو مرسته نه وای په افغانستان کی د کمونستانو حکومت
ډیر پخوا له حتمی ماتی سره مخامخ وو . د دی خبری اعتراف
پخپله حفیظ الله امین کړی وو . روسان پوه وه چی که مسلمانان
په افغانستان کی کامیاب کیږی د کمونیزم ریښی به له یوازی
په افغانستان کی له بیخه ووزی بلکه روحیاتی اثر به ئی د
منطقی او ټولی نړی پرکمونیستی فعالیتو ولوبیږی . په ټوله نړی
کی به کمونیستان زړه ماتی شی او د روسیی په ملاتړ به نور
باور نلری . روسان په دی ښه پوهیدل چی په افغانستان کی د
کمونیست حکومت له منځه تلل به په پاکستان او ایران کی
د کمونیستی فعالیتو پر سر قاطعه ضربه وی او هغه پلانونه به ټول
د خاورو سره سم شی چی دوی ئی بحر هند ته د رسیدو لپاره
پیړی پیړی او نسلونه نسلونه په سرکی لری .

(د) د غرب کمزوری او د شرق برتری : د غربی نړی ځینی کمزوریانی
ددی موجب شوی چی روس دی دومره دلاوره شی چی پر
افغانستان دی حمله وکړی او هغه دی ونیسی . دا کمزوریانی په
لاندی ډول خلاصه کولای شو :

١- غربی نړی خصوصاً امریکایان د ایزنهاور له وختو څخه را پدی خوا د روس د محیط او مهارولو لپاره د هغه پرشا و خوا دفاعی سنګر نه لکه ناتو ، سنتو ، سیټو جوړوی . د دغو دفاعی د یوالونو جوړول پخپله دامعنی لری چی روس یو قوی متعرض قوت دی او نوره نړی خصوصاً غرب دومره کمزوره دی چی د دفاع په حال کی دی . دفاع د کمزوری علامه ده چی د مسلسلو ضرباتو په نتیجه کی اکثراً مقاومت له لاسه ورکوی .

ایران او پاکستان تقریباً «۲۳» کاله مسلسل په دغه سنګر کی پاته شول که چه روس په ډیر مهارت او حوصله سره د خپل تعرضی سیاست بڼه بدله کړه غربی نړی دا قدرت نه درلود چی خپل دفاعی سنګر ور سره بدل کړی په نتیجه کی سیاسی خلا ، او بی علاقه گی منځ ته راغله . ایران او پاکستان دواړو نوموړی سنګرونه چی نور ورته ضرورت نه وو پریښوول . د وضعی په تغیر سره روس بیرته اولی سیاست غوره کړ . غرب و نه شوای کړای چی دی هم بیرته اولی سنګرته ورشی . د دغه تغیر او تبدیل په نتیجه کی روس موفق شو چی افغانستان وایسی بیله دی چی د غربی دنیا څخه جزئی خطر احساس کړی.

٢- شرقی بلاک مملکتونه ټول سره متحد ، یوه خوله او یو لاس دی پداسی حال کی چی په غرب کی هر مملکت د یوی موضوع په متعلق ځانته بیل سیاست تعقیبوی ، روسانو هر وخت د غرب د دغه تشتت او عدم اتحاد څخه استفاده کړیده او خپل هدف ئی مخ ته بیولی دی. په انګولا ، حبشه او افغانستان کی دکمونست رژیمونو قدرت ته رسول د همدغه عات معلول دی .

٣- په ویتنام کی د امریکا ماتی پر غربیانو خصوصاً پر امریکایانو دومره بد روحی اثر وغورځاوه چی بیائی د یوی وړی کمونست پارټی سره حتی د غیر مستقیمی مقابلی جرئت هم په ځان کی پیدا نشوای کړای . په انګولا او حبشه کی د کمونستانو او وطن پرستانو ترمنځ د قدرت پر سرتر ډیره وخته جګړه روانه وه خو غربیانو د دی ویری چی مبادا بل ویتنام ورته جوړ شی د وطن پرستانو سره مرسته و نه کړه بالمقابل روسانو خپلو کمونستانو ته هر راز وسله رسوله او کیوبا خپل عسکر د مرستی لپاره ور واستول. په نتیجه کی کمونیستان کامیاب شول . په افغانستان کی افغانی مجاهدین تقریباً څلور کاله کیږی چی د روس سره جنګیږی مګر هیڅوک دا جرئت نه لری چی د هغو مرستی ته ور ودانګی . روس د غربی دنیا د دغه کمزوری او ضعیفو روحیاتو څخه استفاده وکړه او پر افغانستان ورغی .

٤- روس په دی پوهیدی چی افغانستان یو بی طرف هیواد دی چی غربی نړی د هغه د دفاع سره دلچسپی نه لری او په بیطرفو هیوادو کی هم داتوان نشته چی د هغه دفاع وکړی نوځکه ئی په پوره زړه پر افغانستان حمله وکړه .

٥- کله چی په افغانستان کی داؤد خان قـدرت تـه ورسـیـد (١٣٥٢ش-١٩٧٣م) لازمه وه غربی دنیا ، عربو او ګاونډیانو (پاکستان و ایران) افغانستان ته خپلی اقتصادی مرستی ډیری کړی وای او هغه ئی د روس له خولی څخه ایستلی وای حتی د ظاهر شاه په وختو کی ئی باید مرستی کړی وای او افغانستان ئی د انحطاط څخه ژغورلی وای . دا غربی دنیا ، مسلمانان او

گوندیان وه چی هغه ئی یوازی روسیی ته پرینبود چی تیرئی کړی. هغه وخت چی روسانو داؤد خان تیر کړ گوندیانو او عربو د هغه د بیرته زا ایستلو کوښښ وکړ مگر پړی پری شو او هغه د روس په خیټه کی پاته شو.

(ه) دروس د پلاننگ دقت او پر شرایطو ژر هغه عیارول. روسیه په خپل پلاننگ او طرح کی نسبت و غربی نړی ته دقیق او ثابت قدم ده مثلاً :

۱ـ یو مطروحه پلان په روسیه کی نسلونه نسلونه تعقیب کیږی او د هغه لپاره کارکوی چی علت ئی په روسیه کی د قیا.ت تسلسل دی. همدا یوه کمونست پارتی ده چی د «۱۹۱۷» څخه تراوسه ئی د روسیی قیادت په لاس کی دی په داسی حال کی چی په غربی نړی کی د انتخاباتو په وجه قیادت بدلیږی او په سیاست کی ئی جذری تغیر راځی. په غربی دنیا کی د قیادتونو تغیر د روس په گټه دی یو دا چی پر یوه موضوع د ټولو غربی مشرانو کامل اتفاق نه راځی ځکه چی مختلفی مفکوری لری او بل دا چی د یو مملکت عوام د یو حکومت طویل المدت پلان نشی درک کولای نو په لږ فشار سره عوام د حکومت د نوموړی پروگرام په خلاف رایه ورکوی د کوم چی اوس ئی عامو خلکوته فایده نه ښکاری که څههم لس کاله و روسته د دغه پروگرام نتائج هغه مملکت ته حیاتی گټه راوړی. د غربی حکومتو مشران هم د بیا انتخابیدو لپاره د عوامو آنی خوښه په نظر کی نیسی نه د مملکت طویل المده ښیگڼه. خو روس داسی ندی هلته عام خلک د حکومت پر تصامیمو چندان اثر نلری.

٢- د نړی اکثره مملکتونه چی اوس د نقشی پرمخ لیدل کیږی نوی د استعمار څخه آزاد شویدی. دوی د غربی ممالکو په مقابل کی چی پخوائی دوی مستعمره وه کلونه جنګیدلی او دښمنی ئی سره پاللی ده . داسی نوی آزاد شوی مملکتونه د خپل اقتصادی انکشاف لپاره مجبور دی د نورو څخه مرسته ترلاسه کړی . چون زړه ئی د غربیانو څخه شین وی نو روس ته د مرستی لاس اوږد وی داځکه چی د روسانو دښمنی لا تر اوسه دوی ته ثابته شوی نده او بده خاطره نه ځینی لری . افغانستان هم د انګلیس سره داوږدی دښمنی په وجه نور د هغه سره د ملګرتیا زړه نه غوښت . که څه‌هم د افغانانو د روس څخه له ډیره پخوا بد راتلل خو بیائی هم ویل چی تر بد تر بد ښه دی .

٣- روسیی کوښښ کاوه چی افغانستان ، د تاریخ په دغه مرحله کی ، د نورو ګاونډیانو سره ښه روابط و نه لری . دا ځکه د افغانستان ښه روابط د هر بل ګاونډی سره د دی مملکت تکیه پر روسیی باندی کمول او هغه ئی د روس د سیاسی ، اقتصادی او فکری انحصارڅخه آزاداوه. روسان پدی پلان کی موفق شول . د دغه انحصار نتیجه وه چی افغانستان ورځ په ورځ د نوری دنیا څخه تجرید کیدی او روس ته نژدی کیدی څو بالاخره ئی تیر کړ .

٤- پاته مملکتونه د استعمار په وجه په هره ساحه کی پاته دی او نیمګړتیاوی ئی بی‌شمار دی روسان کوښښ کوی چی د دی نیمګړیتاوو څخه په خپله ګټه کار واخلی . له یوی خوا

حکومت ته ئې د دوستۍ او همکارۍ لاس ور کوی او له بلې خوا په ولس کې ئې اجتماعی تشنج خلقوی په دغه نا قراره حالاتو کې کمونستان تربیه او تقویه کوی . د هغه هیواد حکومت د روس د اقتصادی مرستې په خاطر د دغو کمونیستانو مخ نه نیسی . کمونیستان ورځ په ورځ تقویه کیږی او روسان ئې هم کرار کرار علنی حمایت شروع کوی . حکومت نه یوازې د روس له ویرې هغو ته بیا څه نشی ویلای بلکه پخپله د کمونیستانو څخه هم دومره طاقت جوړ شوی وی چې حکومت د خطر سره مواجه کولای شی . حکومت د روس د خوشحالی او د کمونیستانو د حمایت د جلبلو لپاره هغوی ته په دولت کې (ملکی او عسکری) مهم او حساس پستونه ورکوی . کمونستان د دی مناصبو او پستو څخه په استفاده سره خپل ټول هغه سیاسی او فکری مخالفین چې په هغه ټولنه کې موجود دی یو په بل پسی له منځه وړی . چې میدان ئې ځانته ښه پاک کړ بیانو پخپله د حکومت د نیولو بندوبست تړی . حکومت دلته په ځان پوه شی چې څومره غلطی ئې کړیده چې د امار ئې پخپل لستوڼی کې تربیه کړ خودا پښیمانی ګټه نلری او کار تر کار تیروی . کمونیستان نظامی کودتا وکړی او حکومت په لاس کې ونیسی دلته د ملت او نوری دنیا سترګی خلاصی شی چې څه پیښه شوه . دوی لا ښور نه وی خوړلی چې نوی منځ ته راغلی کمونیست حکومت د روسیې سره د دوستی او مشترکې دفاع تړون امضاء کړی . د دی تړون په برکت بیاهیڅ بهرنی طاقت دا جرئت نلری چې نوی حکومت ته

مزاحمت پیښ کړی که ولس قیام وکړی تر هغو خپله حکومت مخ ته او روسان ئی شاته ورسره جنگیږی . که د ملت اراده ډیره قاطع او په متو کی ئی زور وو نوبیا روسان خپله د لکو لکو فوځ سره پر هغه ملک حمله کوی خلک ئی وروژنی ، ښارونه او کای ئی ور بمباردوی . نوره دنیاریږدږ ورته گوری هر څه وینی خو هیڅ جرئت نه لری چی دا اور مړکړی . په افغانستان باندی همداسی واقعات روسانو را وستل او کرار کرار ئی تر ستونی کښته کړ .

٥- روسانو پر افغانستان باندی د حملی لپاره یو مناسب وخت لټاوه هغه ئی بالاخره وموند . پاکستان په خپلو کورنیو مشکلاتو اخته وو . په ایران کی سیاسی استقرار او واحد قیادت نه وو . او امریکا هم په ایران کی د امریکائی د پلوماتانو د یرغملو پر موضوع دومره ډیره نا آرامه وه چی هغو مره نه ښائیده . د امریکا دغه ترحد اضافه نا آرامی او د تعادل مزاج له لاسه ور کول روس دی نتیجی ته ورساوه چی پر افغانستان حمله وکړی او هغه ونیسی . روس دی نتیجی ته رسیدلی وو چی امریکا او د افغانستان دوه نور گاونډیان (ایران او پاکستان) به کوم جدی عکس العمل و نه ښیی او هغه به سطحی وگڼی . همداسی و شوه .

# راتلونکی

## یو درس او از موینبت تولو ته

په تیر فصل کی مو پر افغانستان باندی د روس د حملی اسباب په تفصیل سره بیان کړل . اوس به و گورو چی که فغانستان د روس په تسلط کی پاته سی د دی منطقی نورو هیوادونو ، عربو ، اسلامی دولتونو ، غیر متعهدو ممالکو او غربی نړی او بالاخره ټولی آزادی دنیا ته به څه تاوانونه ورسیږی . او که چیری افغانستان د روس له تسلط څخه ووزی نوموړی هیوادو او آزاد جهان ته به څه گټی ورسیږی .

**هغه تاوانونه چی په افغانستان کی د روس له کامیابیدو څخه نورو ته رسیږی .**

اول- هغه تاوانونه چی پر افغانستان باندی د روس د تسلط د دوام په صورت کی د سیمی شاو خوا هیواد و ته رسیږی :

الف- د روس له خوا د پاکستان او هندوستان نیول :

د افغانستان نیول د روس له نهائی اهدافو څخه نه ښوا وو او نه اوس دی . بلکه افغانستان صرف د روس د وسیع پلان د تطبیق په لار کی یو قدم او په عین حال کی یو خنډ وو چی باید لیری سوی وای . د پاکستان او هند په نیولو کی د روس لاندنی مفادات شامل دی :

۱- په تودو او بو کی تجارتی بندرونه پیدا کول چی دا د روس

تاریخی آرزو ده . روس اوس هم په تودو او بو کی لاری ته حیاتی ضرورت لری . اوس جنوبی ایشیا ، خلیج او یا شرق افریقا ته د رسید و لپاره مجبور دی چی یا د شرق سائبیریا او جاپان له لاری پر ټول ایشیا را و گرځی یا د توری بحیری ، ترکیې او کانال سویس له لاری او یاد بالتیک بحیری له لاری پر ټوله اروپا او افریقا را تاوسی . په داسی حال کی چی د افغانستان په نیولو سره اوس ئې فاصله د تودو اوبو څخه تقریباً ۳۰۰ میله ده په هرصورت او قیمت چی وی روس کوښښ کوی دغه لنډه فاصله نور هم پرمخ ولاړ سی څو دغه لویه تجارتی او ستراتیژیکی ستونزه لیری کړی .

۲- د پاکستان او هندوستان د پراخو ځمکو څخه استفاده کول .

د روس ډیره ځمکه په سړو منطقو کی پرته ده چی د متکاثف کرهنی قابلیت نلری . د دوی هر پلان د زراعت په برخه کی ناکام دی چی د نورو وجوهاتو په څنګ کی ئې اقلیمی نامساعدت هم یو عامل دی . روس علاوه پر دی چی خپلو خلکو ته باید ډوډی تهیه کړی باید هغو ممالکو ته هم ډوډی او اولیه ضروریات مهیا کړی کوم چی د ده په حلقه کی دی او یا غواړی چی په آینده کی ئې په خپله حلقه کی راگیر کړی . دا دومره لویه پیمانه ضرورت د غومره پراخو زراعتی ور شوگانو ته چی ټول کال د کښت وړ وی اړتیا لری . د پاکستان او هند پراخی ځمکی چی ټول کال د کښت قابلیت لری د روس دغه ضرورت ته جواب ویلای

سی د دی منطقی تر مخکی لاندی ذخیرو ته هم روس له ډیر پخوا څخه سترگی نیولی دی .

۳- د پاکستان او هند د زیات نفوس څخه په نظامی منظور کار اخیستل . روس په فلسفی لحاظ د داسی یو مفکوری پیروی کوی چی اصول ، بقا او پراختیائی ټول د بر چی او ټوپک په زور پوری تړلی دی . پر روسیه باندی پس له ۶۳ کاله د کمونستی نظام موفقانه تیریدو سره سره اوس هم بر چه حکومت کوی پر شرق اروپا اوس هم پساله ۳۰ کال سوسیالزم څخه توپ او ټانک حکومتونه کوی . په نظامی تهدید سره خلک د خپلو طبیعی حقوقو څخه محروم ساتی . هغه سوسیالزم ته چی د کارگر چیغی وهی او د هغه په نامه ځان قدرت ته رسوی نن پخپله د کارگرانو له خوا قیام کیږی . خو روسی توپونه او ټانکونه دغه آزاد بیخش جنبشونه پخپلو نظامی مداخلو سره له منځه وړی . په ۱۹۵۶ کی پر هنگری او د هغی خاوری پر وطن پرستانو او روشنفکرانو باندی د روس د سره لښکر بیرحمانه حمله ، په ۱۹۶۸ کی پر چکوسلوا کیا باندی وحشی برید او د هغه قانونی حکومت له منځه وړل او ټول سم خلک بندیان کول او یا وژل او اوس بیا د پولینډ کارگرانو ته گواښیدل او ورته ویل چی که تاسی خپل مشروع کارگری حقوق غواړی او یا د کمونست پارتی پر کوم نا معقول تصمیم انتقاد کوی دا د سوسیالیزم خلاف ورزی ده نو موږ مداخله کوو او یا نظامی حکومت اعلانوو چی دا ټول د دی خبری

ښکاره ثبوت دی چې د روس منطق زور دی او زور حق بولی .

سوسیالزم هر ځای او په هر مملکت کی د بر چې په زور قدرت ته رسیدلی دی او د بر چې په زور ساتل کیږی دغه علت دی چه سوسیالستی نظامونه باید په عسکری لحاظ قوی پا ته سی که نه ورکیږی او له منځه ځی . دا ځکه د هغه فلسفه پر ځینی غیر طبیعی اصولو بنا ده چې بشری فطرت ئی په عادی شرائطو کی نسی قبلولای . په دی ډول د سوسیالزم د بقا او پر مختګ لپاره روسیه و ډیر غټ نظامی طاقت ته ضرورت لری . دوی دومره فوج باید ولری چې د مخکی پر مخ چې کوم چیری ئی لازم وګڼی کار ځینی واخلی . څومره چې سوسیالستی حلقه پراخیږی هغو مره ډیر نظامی قوت او فوج ته ضرورت دی . روس دی خبری ته متوجه دی چې د هند او پاکستان په ډیر نفوس سره خپل فوجی طاقت نور هم پیاوړی کړی او چیری چې ئی زړه و غواړی په لکو حتی په ملیونو عسکر واستوی .

٤- تاریخ ګواه دی کوم بهرنی طاقتونو چې افغانستان نیولی دی بیائی دهلی هم حتمی تر پښو لاندی کړیدی . اوس چې روس د یو خارجی توسعه طلب او جهان کشای طاقت په حیث پر افغانستان قبضه کړیده تر دهلی او بنګال پوری به حتمی ځان رسوی .

٥- د هند په بحر کی خپل نظامی طاقت او حضور پیاوړی کول چې د بین المللی قواو د انډول او د روس د توسعه طلبی لپاره حیاتی اهمیت لری دغه ضرورت روس هڅوی چې هند

ته باید حتمی ځان ورسوی او هغه و نیسی . د هند بحر ته ځان رسول روسانه ته لاندی اهمیتونه لری :

(الف) د هند او پاکستان زرخیزه پر نفوسه او پراخه خاوره قبضه کول .

(ب) د خلیج د تیلو پر ترافک مستقیم کنترول او ورو ورو پر تیلو او نورو معدنی منابعو مستقیم تسلط پیدا کول .

(ج) په منځنی ختیځ کی خپل سیاسی ، نظامی او عقیدوی نفوذ خپرول او له هغه ځایه اروپا او افریقا ته پر مخ تلل .

(د) دهند بحرته په رسید و سره د ایشیا جنوب شرق ترخپل کنترول لاندی راوستل او تر هغه وروسته استرالیا او جاپان ته متوجه کیدل .

(هـ) د هند بحر ته د روسیی په رسید و سره به لوېړی مشرق افریقا او بیا کرار کرار د دغه بر اعظم نوری برخی د روس تر اثر لاندی راسی .

٦- د کمونزم د فلسفی خپرول . روس په نظریاتی لحاظ کوښښ کوی چی تر افغانستان وروسته په پاکستان کی خپل کمونستان تقویه او بیائی قدرت ته ورسوی . په دی ډول به پاکستان په نظریاتی لحاظ ختم سی بیا به هندوستان ته په ډیره آرامی سره ځی دا ځکه په هندوستان کی اندرا گاندی او د دی ملگری داسی موقف لری لکه په افغانستان کی چی داؤد خان درلود . داؤد خان د روس ډیر نژدی دوست وو خو کله چی روس وغوښتل چی یو قدم وړاندی ولاړ سی

نوئ د داؤد خان پر دوستي او ککري دوارو پښې کښېښودلې.
همدا راز که اندرا گاندي خپل او سنی سیاست ته دوام
ورکړي، همدا چل به په کیږي او هندوستان به هم په
همدا سی عذاب اخته کیږي په کوم چی نن افغانستان
اخته دی . د افغانستان د حاکمی کمونست پارتی (پرچم)
یو مهم غړی چی زما سره په بندیخانه کی د تره کی او
حفیظ الله امین په وختو کی بندی وو ما ته په جنوری ۱۹۸۰
کی په کابل کی وویل «د افغانستان نیول لومړی قدم دی .
بل قدم مو د پاکستان نیول دی تر څو پاکستان ختم
سوی نه وی موږ به په افغانستان کی آرام نه یو ، هندوستان
د اندرا گاندی تر حکومت لاندی همدا اوس موږ ته داسی
دی لکه افغانستان چی د داؤد خان په وختو کی وو .
د پاکستان په نیولو سره به هندوستان ته بی تکلیفه څو او
په لږ فشار سره به هلته مقاومتونه ختم کړو . هندوان
د جنګ او مقاومت خلک نه دی . د هندوستان په نیولو
سره به چین محاصره سی او تر ویتنام پوری به دا ټوله
منطقه زموږ په لاس کی کښېوزی . ایران همدا اوس د سیاسی
استقرار او واحد قیادت څخه برخورداره ندی او له بلی خوا
زموږ ملګری هلته سخت فعال دی . ایران همدا اوس زموږ
له خوا سیاسی محاصره او په بین المللی سطحه کی تجرید
سویدی . د پاکستان په نیولو سره به دا محاصره نوره هم
تنګه سی او ټوله خوا وو ته به ئې موږ یو (شمال ته روس
غرب ته روس نواز عراق شرق او جنوب شرق ته افغانستان

او پاکستان) . غربی دنیا او عرب هم د ایران مرسته نکوی نو په دی ډول به د ایران نیول کوم کلی اشکال ونلری . عربستان ، کویت او د خلیج نور واړه هیوادونه به د سوسیالزم د بین المللی ځنځیر په کړیو کی رامی نور به دا هیوادونه د انګولا ، موزنبیق ، حبشې ، جنوبی یمن ، ایران ، افغانستان او روس په ځنځیر او مسیر کی خپلی بقا ته ادامه ورنکړای سی» .

روسانو خصوصاً (بریژنیف) څو څو واره دا ویلی دی چی «روس په خپل جنوب کی خپل مخالف حکومت نسی تحمل کولای . په افغانستان کی ځکه چی د شوروی مفاداتو د یو مخالف حکومت د راتلو ویره وه نو ځکه مور مداخله وکړه» . که د بریژنیف دا خبره ښه وځړل سی باید یو هوښیار سړی پر دغه منطق و خاندی دا ځکه په افغانستان کی چی هر حکومت راځی هغه به د افغانستان د خلکو د تاریخی روایاتو او اجتماعی موازینو په حکم بیطرف وی . که چیری روس د داوُد خان د وقتو د روس نواز بیطرف هیواد د موجودیت تحمل په خپل جنوبی سرحداتو کی ونکړای سوای نو د ایران اسلامی جمهوریت چی د روس په خلاف دی ځنګه تحمل کوی . د ترکیی موجودیت چی د NATO فعال غړی او د روس په مقابل کی علنا ولاړ دی ځنګه برداشت کوی . پس ښکاره ده چی د دی دواړو هیوادو (ترکیه او ایران) د نیولو پلان د روس سره جدی پروت دی خو موقع ته ګوری .

د بریژنیف د دی خبری چی په خپل جنوب کی مخالف حکومت نسی تحمل کولای واقعی تفسیر دا کیدای سی چی افغانستان خو د یوآزاد هیواد په حیث له منځه ولاړ اوس د روس واقعی جنوبی حدود د پاکستان سره دی . د پاکستان سیاسی نظام د روس له سیاسی نظام سره اختلاف لری . د بریژنیف د فارمول پر اساس پاکستان باید د روس له خوا ونیول سی دا ځکه دی په خپل جنوبی حدودو کی مخالف حکومت نسی تحمل کولای . کله چی پاکستان ونیول سوبیا به د روس جنوبی حدود د هندوستان سره وی چی په هغه کی به نه یوازی یو مخالف حکومت تحمل نه کړی بلکه د اندرا ګاندهی غوندی یو روس خوښه حکومت به هم تحمل نکړی لکه داؤد خان چی ئی په افغانستان کی تحمل نه کړ او له منځه ئی یووړ . روس به په همدی پالیسی چی په خپلو جنوبی حدود کی مخالف حکومت نسی تحمل کولای کرار کرار مخ په وړاندی ځی .

ب- د چین محاط کیدل .

روس مذبوحانه کوښښ کوی چی چین د خپل نفوذ په ساحه کی محدود او محصور وساتی . د دی مطلب لپاره ئی ډیر کوښښونه کړیدی او کوی ئی . بریژنیف د ایشیا د جمعی امنیت پلان په همدی منظور وړاندی کړ . اوس روس په دی فکر کی دی چی د افغانستان تر نیولو وروسته باید پاکستان او هندوستان خپل کړی . د افغانستان د پامیر ، د پاکستان د قره قرم او د هندوستان د همالیه

د غرو سلسله د چین په مقابل کی خپل سنگر وگرځوی .

د هندوستان په نیولو سره هغه واړه هیوادونه چی د هند او ویتنام و کمپوچیا تر منځ پراته دی ژر د روس د نفوذ تر ساحی لاندی راځی او ورو ورو پخپله له منځه ځی . په دی ډول به چین د ټولو خوا وو څخه د روس او د ده د گوداگی رژیمو پواسطه محاصره سی . دا محاصره به ډیر دوام ونکړی بلکه ژر به د چین او سنی رژیم هم له پښو وغور ځوی بیا به جاپان فلپین او استرالیا ته متوجه سی .

ج ـ د ایران نیول .

روس په ایران کی د شاه په سقوط بی اندازه خوښ سو دا ځکه د شاه تر حکومت لاندی یو قوی ایران چی د غربی نړی بی دریغه مرسته او ملا تړ ورسره وو د روس لپاره نه یوازی یو درد سر وو چی پر مختگ ته ئی نه پریښود بلکه یو خطر هم وو . که څه روس په ایران کی اسلامی جمهوریت هم په طویل المده کی خپل دښمن گڼی خو بیا هم په لاندی دلایلو عجالتا د هغه طرفدار دی .

۱ـ د ایران اسلامی حکومت د امریکا دښمن دی . دا هغه څه دی چی روس ئی غواړی .

۲ـ په ایران کی غربیانو ته نور د فعالیت او قدرت پیدا کولو موقع نسته چی دا هم د روس آرزو او په گټه ده او د راتلونکی خطراتو څخه ئی مطمئن کوی .

۳- روس غیر مستقیم کولای سی چې د ایران روابط د هغه د ګاونډیانو سره خړ پړ کړی او په دی ډول ایران همیش د ګاونډیانو سره په جنګ او تجرید کی وساتی. په داسی حال کی چې د شاه په وخت کی روسانو دا کار نسوای کولای.

٤- روس اوس کولای سی چې په ایران کی منطقوی نژادی لسانی او مذهبی اختلاف او خصوصاً د قیادت پر سر د اختلاف اورته پکی ووهی څو ایران متفرق، ضعیف او د ده د نیولو وړ سی. دا ټول حالات اوس د روس په ګټه دی چې د شاه په وختو کی دومره موقع ورته نه وه.

٥- په ایران کی اوس د کمونستی فعالیتو جدی مخ نیوی نه کول بلکه د هغو ورڅ په ورڅ زیاتیدل د روس پخوانی آرزو ده. په داسی حال کی چې د شاه په وختو کی و داسی فعالیتو ته حتی د تنفس کولو اجازه هم نه وه.

٦- روس د ایران د موجوده وضعی په ارتباط د منطقی د سیاسی اوضاع په تحلیل سره دی نتیجی ته رسیدلی دی چه که څه هم ایران یو اسلامی جمهوریت دی خود افغانستان د خلکو سره به عملاً د ده (روس) په مقابل کی مرسته ونکړی بلکه صرف په سیاسی حمایت چې دا هم ورته یو نظریاتی مجبوریت دی اکتفا وکړی چه دا هم د روس په ګټه ده. دا څکه ایران

نسی کولای چی په یو وخت کی د دوارو لویو طاقتو (شرق او غرب) سره دښمنی مخ ته بوزی په داسی حال کی چی ایران د شاه په وختو کی په دا سی موقف کی نه وو .

٧- د غربیانو سره د ایران دښمنی ، د گاوندیانو او منطقی د هیوادو سره د ایر ن د روابطو خړ پړتیا ، په بین المللی ساحه کی د ایران تجرید او د قدرت پر سر د ایرانیانو په منځ کی د اختلاف او جنګ دوام به د دی سبب سی چی ایران دی ورځ په ورځ په اقتصادی لحاظ ضعیف سی . د یوی ټولنی اقتصادی ضعف او فقر د کمونزم دروازه ده . په داسی حالت او وخت کی به ایران نه خپله بیطرفی نور وساتی او نه به په واقعی معنی سره خپل استقلال حفظ کړی . ورو ورو به اسلام د نظریی په حیث د خلکو په ذهنونو کی ناکام سی . هر طرف ته به نارضایتی وی . په دی ډول به د شاه د وختو د سرمایه داری نظام د بی عدالتیو او ظلمونو خاطره او د اسلامی رژیم بی کفایتی به په ایرانیانو کی د یوی بلی لاری د موندلو فکر پیدا کړی . دوی به هغه وخت یکی یوه لار ولری چی هغه سوسیالزم دی او بس . تر اسلامی رژیم وروسته په ایران کی د یو چپی حکومت راتلل حتمی دی . ایران به د کمونستانو د کودتا او یا د افغانستان له لاری د روس د مستقیمی حملی په نتیجه کی د روس په پنجو کی ولویږی.

د ـ د خلیج نیول . د پاکستان او یا ایران په نیولو سره به روس خلیج ته لار پیدا کړی . په لومړی سر کی د تیلو پر ترافک کنترول پیدا کول ، بیا د تیلو د ذخائرو پر سیمو تسلط او د ضرورت په وخت کی پر غربی نړی د تیلو جریان چی د هغوی د اقتصادی فعالیت ښارګ دی قطع کول او په دی ډول هغوی پر ګونډو کول د روس له عمده اهدافو څخه دی . د یو دقیق اټکل له مخی به د ۱۹۹۰ په لسیزه کی د روس د تیلو او سنی ذخایر د ده د ورځ په ورځ زیاتیدونکی ضرورت تکافو ونکړی نو مجبور دی ځانته په خلیج کی د تیلو د مستقل جریان او ذخایر لپاره یوه پراخه سیمه تر لاسه کړی . او له بلی خوا پوهیږی چی د تیلو د جریان قطع او یا خنډ کولای سی غربی نړی تسلیم او یا مصالحی ته مجبور کړی . په دی ډول روس کوښښ کوی چی ځان خلیج ته ورسوی . د ایران پاکستان په تسخیر سره به خلیج د بین المللی روسی ځنځیر په مسیر کی راسی (انګولا ، موزمبیق ، حبشه ، جنوبی یمن ، ایرانستان ، پاکستان ، افغانستان اوخپله روسیه) . بیله شکه د خلیج هیوادونه به د روس د مداوم فشار په مقابل کی د مقاومت توان ونلری دا ځکه همدا اوس په دغو مملکتو کی کمونست عناصر فعال دی . روس به په دغو هیوادو کی یو په بل پسی خپل ګودا ګیان د کودتا له لاری قدرت ته ور سوی . او بیا به د همکاری او

دوستی د قرارداد په امضاء سره پخپله هلته ورځی لکه افغانستان ته چی ورغلی . غربی دنیا به د داسی یومنظم او قدم په قدم حرکت د مخ نیولو توان ونلری . دا ځکه موږ ولیدل چی غربی نړی د انګولا ، حبشه ، جنوبی یمن . . . . او بالآخره د افغانستان په اشغال باندی د روس په مقابل کی هیڅ یو جدی او عملی عکس العمل و نه ښود بلکه دا دولتونه ئی یو په بل پسی تسلیم او په رسمیت هم وپیژندل او دغه تغیرات ئی د دغو هیوادو و داخلی چاری و ګڼلی . په دی ډول به د خلیج هیوادونه هم یو په بل پسی د روس په لمن کی سقوط وکړی .

دوهم - د غربی ایشیا سقوط . د مخه مو وویل چی د افغانستان په له منځه تللو سره به ایران هم که ژر وی یا وروسته د روس په لمن کی سقوط وکړی دا ځکه ایران همدا اوس د کمونست افغانستان کمونست عراق او پخپله د روس په منځ کی راګیر دی او داخلی کمونستان ئی هم سخت فعال دی چی اسلامی رژیم هلته نسکور کړی . په دی صورت کی به له یوی خوا ترکیه محاصره سی او له بلی خوا به اردن ، لبنان ، اسرائیل او مصر د روس د بین المللی ځنځیر په مسیر کی واقع سی . روس به د ترکیی او مرمره له لاری ټول مدیترانه او شمالی افریقا او جنوبی اروپا تر خپل کنترول لاندی راولی . په شمالی افریقا کی لیبیا او الجزایر همدا اوس

روس پسند حکومتونه لری او په جنوبی او غربی اروپا کی همدا اوس کمونست پارتی فعالی دی چی په ځینو هیوادو کی ډیر قدرت لری لکه ایتالیا ، هسپانیه او فرانسه . نوموړی احزاب به روس ته دا موقع ورکړی چی پر غرب قاطعانه ضربه وارده کړی . نور به د ناټو NATO تړون کوم عملی مفهوم ونلری او امریکا به په تجرید کی پاته سی .

دریم - روسان (کمونستان) د اسلام او نورو ټولو ادیانو لومړی درجه دښمنان دی . د روس حکومت د ماتریالزم (Materialism) او الحاد د فلسفی پیرو دی چی د ټولو ادیانو دښمن او د ټولو سره ئی د جنگ اعلان کړیدی . دوی دین د ټولنی تاریاک گڼی . د روسانو دښمنی د ټولو ادیانو خصوصاً د اسلام سره په لاندی ډول ذکر کیږی :

١- دا روس دی چی د مرکزی ایشیا شپږ اسلامی جمهوریتونه ئی چی (٦٥) ملیونه نفوس لری خپل غلامان ساتلی دی . د بخارا او د اسلامی نړی نور لوی او مهم ځایونه ئی له منځه یوړل . د ٢٥٠٠٠ مساجد و څخه اوس یوازی ٣٠٠ پاته دی نور ئی ټول خراب او یا موزیم کړل په پاته مساجدو کی هم حکومتی ملایان ناست دی چی گوری څوک لمونځ کوی چی حکومت ته ئی معرفی کړی . اوس د دی جمهوریتو اسلامی هویت له منځه تلونکی دی .

۲- روس پر افغانستان باندی د دوستی په جامه او نامه نا جوانمردانه حمله وکړه . په ملیونو افغانان ئی د خپلی خاوری څخه وشړل او اضافه تر یو ملیون بی گناه انسانان ئی شهیدان کړل چی د کونډو او یتمانو لیدل ئی هر انسانی وجدان لرزوی . کمونستانو ته چی اصلاً انسانی وجدان نلری داسی واقعات څه اهمیت نلری . افغانان نن په دی خاطر د روس په بمباریو تانکونو او زندانونو کی له منځه ځی چی روس غواړی د خپلی خوښی حکومت پر دوی باندی تحمیل کړی او نه پریږدی چی د افغانستان خلک په خپله خوښه خپل حکومت وټاکی .

۳- روسانو د غربی نړی سره مشترکاً د اسرائیل هیواد په وجود راوړ او د هغه امنیت ئی په بین المللی سطح تضمین کړ . غربی دنیا ځینی مجبوریتونه در لودل چی اسرائیل دی په وجود راسی خو روس د اسرائیلو په منځ ته راتلوکی خپله مادی گټه پاتل نو ځکه ئی د غربی نړی سره په دغه برخه‌کی همکاری وکړه او دا ضمانت ئی ورکړ چی که چیری د اسرائیل امنیت په خطر کی لویږی باید روس د امریکا سره یو ځای د هغه د موجودیت دفاع وکړی . د روس مطلب دا وو چی د عربو په منځ کی د اسرائیلو موجودیت به د دی سبب سی چی عرب دی د اسرائیلو په خلاف تل په جنگ کی وی . او په منځنی ختیځ کی دی

د همیش لپاره د جنگ اور بل وساتل سی . روس پوهیږی چه عرب به غربی نړی خصوصاً امریکا ته چی اقتصادی او سیاسی شریانونه ئی د یهودو په لاس کی دی هیڅکله خوش بین نه وی بلکه د امریکا او عربو مناسبات به څومره چی امریکا د یهودو حمایه کوی هغو مره به نور هم خرابیږی . څومره چی د عربو مناسبات د امریکا سره خرابیږی هغو مره به دده (روس) و خواته مراجعه کوی . په دی ډول به لوسړی د ده د اسلحی بازار همیش گرم وی او دوهم به د اسلحی او سیاسی روابطو سره یو ځای د کمونیزم مفکوره هم خپره کړی . په دی ډول د منځنی ختیځ په مسئله کی تر امریکا د روس گټی ډیری دی چی هیڅکله نه غواړی دا موضوع د عربو په گټه فیصله سی .

٤- د سعودی عربستان په جنوب کی د کمونست یمن منځ ته را وستل او په ظفار او عمان کی کمونستی تحریکات کول ټول د دی لپاره دی چی سعودی عربستان او د هغه د تیلو منابع تر خپل تسلط لاندی راولی .

٥- په سوریه او لیبیا کی روس پسند حکومتونه او خصوصاً د سوریی او روس د ١٩٨٠ کال شرم آوره او خاینه موافقتنامه د اسلامی دنیا لپاره یو لوی خطر دی .

٦- عراق او الجزایر روس نواز حکومتونه لری چی که ژر تر ژره د روس له پنجو څخه خانونه و نه باسی نو نه یوازی به د ټول اسلام لپاره اندیښنه وی بلکه خپل

ملی هویتونه به هم د لاسه ورکړی . امید دی د افغانستان
له حالاتو څخه تجربه او عبرت واخلی .

۷- د اریتریا او سومال پر مسلمانانو د حبشی او کیوبا د
عسکرو حمله د اسلام پر حریم د روس د ښکاره تجاوز
نمونه ده .

څلورم - هغه تاوانونه چی د روس له خوا د افغانستان په نیولو کی به
غربی نړی ته ورسیږی :

افغانستان په ستراتیژیکی لحاظ یو غرنی هیواد او خلک ئی په تاریخی لحاظ آزادی دوست دی . د جهان ډیرغټ طاقتونه په دی واړه هیواد کی پرګوناهو سوی او مادی محاسبه ئی غلطه ثابته سویده . د روسانو په مقابل کی د افغانانو اوسنی مقاومت د دی خبری ثبوت دی . چا دا فکر کاوه (په مادی حساب) چی د روس د بین المللی عظیم طاقت په مقابل کی دی افغانستان غوندی یو ووړ هیواد دومره مقاومت وکړی . چا دا فکر کاوه چی یو لک روسی فوج دی د خپلو عصری وسلو سره د بی دفاع افغانانو له خوا په خپلو بنرکو کی محصور وی . چا دا تصور کاوه چی هغه سور فوج چی شرقی اروپائی بی مقاومته یو په بل پسی ونیول او چکوسلواکیائی په ۱۹ دقیقو کی تسلیم کړه نن دی د بی سروسامانه افغانانو په مقابل کی د جنګ څخه تښتی او نورو سفارتونه دی پنا وړی .

پرون د ویتنامیانو سره د امریکا په مقابل کی روس او چین بی دریغه مالی او ځانی مرسته کول چه په حقیقت کی د امریکا سره

روس او چین جنگیدل . مگر افغانان بیله کوم خارجی مدد څخه یوازی د ایمان په جذبه د یو جهانی طاقت سره جنگیږی . د یو داسی طاقت سره چی د فلسفی په لحاظ تر هر چا درنده تر خونخوار تر او د ټول انسانیت دښمن دی . هغه د وینو تویولو څخه خونداخلی . سور بیرغ ئی د همدی ضد انسانی فلسفی نمایندگی کوی .

که چیری خدای دی نکوی د افغانانو مقاومت ماتیږی او افغانستان د روس په لمن کی سقوط کوی ، په ټوله منطقه کی به بیا داسی څوک پیدا نسی چی د دی ښامارمخ دی ونیسی ، د ټولو به روحیات ورته ضعیف وی او ټول به دا عقیده پیدا کړی چی د روس مقابله نسی کیدلای . د منطقی په ټولو هیوادو کی به کمونست پارټی پیدا او په سرعت سره به و ده وکړی او د خپلو خپلو مملکتو واک به د روس په مرسته بیله کوم تکلیف څخه تر لاسه کړی . د اسلام او مسیحیت پر مقدسو ځایو به د روس سور بیرغ ورپیږی .

غربی نړی لکه نوره دنیا همداسی انسانان دی . د دوی اوسنی ښه ژوند د دوی د صنعتی انکشاف او پر مخ تګ محصول دی . انرجی د دغه انکشاف تدویری ماده ده که چیری دا ماده هر څومره د غربی نړی څخه قطع او یا د خنډ سره مخامخ سی د غربی دنیا ژوند هغو مره د تباهی سره مخامخ کیږی . نور به شل منزله تعمیرونه نه وی ، یخچال تلویزیون ترانسپورت . . . او نورمهم حیاتی وسایل درلودل به بیا خوب و خیال وی . د غربیانو ژوند به بیاد هغه راند ه په شان ژوند وی

چا چې سترګې په لوی والی باپللې وی . هر څه ئې لیدلی او هر څیری تللی وی خو اوس هیڅ نه وینی او کوم څیری پخپله نسی تلای فقط ژوند او زړه ئې ټول د ارمان او حسرت څخه ډک وی خو څه ئې په لاس نسی ورتلای . مرګ به د خدایه غواړی خود ځان وژل به هم ورته اسانه نه وی .

که څیری روس خلیج او بحر هند ته ورسیږی (که څیری افغانستان د روس په لاس کی پاتی سی خلیج ته ئې بیا رسیدل حتمی دی) پر غربی دنیا د داسی ورځی را تلل د کوم ذکر چې موپورته وکړ حتمی خبره ده . روس تر غربی نړی په پلانګذاری کی دقیق او عملی دی . داسی کار به و نه کړی چې د غربی نړی سره د مستقیم جنګ سبب سی بلکه ورو ورو به پر غربی دنیا ساحه تنګوی . نن ئې افغانستان د دوستّی په نامه ونیو سبا به ایران یا پاکستان په یوه بل نامه نیسی . بیا به د خلیج هیوادونه یو په بل پسی په یوه نامه او بله بهانه تر خپل نفوذ لاندی راولی چه غربی نړی به د هغه د مخ نیولو توان نلری او مجبور به وی چې په لومړی سر کی د سازش او بیا د تسلیمی لار اختیار کړی .

روس به د افغانستان په نیولو سره پاکستان بیا جنوبی ، جنوب شرقی ، شرقی ایشیا ، چین او بحر هند د خپل نفوذ په ساحه کی راولی او د ایران په نیولو سره به د خلیج پر تیلو او معدنی ذخائیرو تسلط پیدا کړی . دا هیوادونه به یو په بل پسی ونیسی . د ترکیې په نیولو سره به روس په مدیترانه کی لوی طاقت پیدا کړی او د شمالی افریقه له خوا به چې هغه

وخت به د روس د نفوذ په ساحه کی وی و غربی اروپا ته لوی خطر متوجه سی . اروپا به په دی صورت کی له د وو خوا وو څخه (شرق او جنوب) د روسانو له خوا محاصره وی او نوری آزادی تجارتی لاری، انرجی او اومه مواد به ټول د روس له خوا تر کنترول لاندی وی .

په داسی شرایطو کی به روس خپل نفوذ په لاتینه امریکا کی نورهم ډیر کړی. په لاتینه امریکا کی اوس هم کمونست احزاب او روسی کیوباسته خو هغه وخت به دا احزاب قدرت ته ورسیږی او کیوبا به نوره هم خروړی سی . د کمونزم اور به کرار کرار د امریکا د متحده ایالاتو جنوب ته ورسیږی . کیوبا همدا اوس د روسانو په لاس کی ده مکسیکو به هم دوی ونیسی . بحری لاری به ټولی د روسانو تر کنترول لاندی وی روسان به لومړی د کانا ډا او امریکا د خلکو تر منځ انتشار او بی اتفاقی پیدا کړی او بیا به په یوه قاطعه ضربه دا دواړه له منځه یوسی . په دی ډول به کمونزم پر ټول جهان لکه څنګه چی کمونستان ادعا کوی حاکم سی .

پنځم د عدم انسلاک نهضت ته عظیم خطر .

نړی په سیاسی لحاظ پر دروبر خو ویشل سویده .

۱- غربی دنیا
۲- شرقی ممالک
۳- غیر متعهد هیوادونه

غربی دنیا ځانته او شرقی بلاک ځانته په بیلو بیلو

نظامی پکتو او تعهداتو کی سره را تړل سویدی چی یو د بل په مقابل کی د دفاع په حال کی ناست دی. روس په اوسنیو شرائطو کی دا جرئت نلری چی د نیټو د تړون پر یوه هیواد حمله وکړی. او د ناتو د تړون یو مملکت هم دا فکر حتی په سر کی نسی گرځولای چی د شرقی بلاک پر یو هیواد دی هجوم وروړی. خصوصاً د شرقی ممالک هیوادونه دومره د روس تر اثر لاندی دی چه ددوی حکومتونه باید دهغو هیوادو د خلکو دخوښی په خلاف دروسیی په خوښه منځ ته راسی او ولاړشی. حتی که پخپله د دغو هیوادو کمونست مشران و غواړی چی خپلو هیوادو ته کوم خدمت وکړی نو روسان فوراً حمله پر کوی او تارو مار کوی ئی (چکوسلواکیا همداسی سوه) په دی ډول د غربی او شرقی بلاکو هیوادونه په خپلو مینځو کی د جمعی امنیت په برکت نسبتاً په امان او اطمینان کی ژوند کوی.

غیر متعهد هیوادونه هغه هیوادونه دی چی اکثراً ئی پخوا د غربی استعمار تر تسلط لاندی وه او بیا آزاد سویدی یو تعداد دا ډول نوی آزاد سوی هیوادونه د غربی نړی سره د دوی تر منځ د تاریخی عداوت او استعماری ترخو خاطرو له امله ښه مناسبات نلری. د خپل غربت په وجه دوی دومره توان هم نلری چی د خارجی مرستی پرته خپل پر مختگ ته دوام ورکړی نو مجبور دی

چی د نورو څخه مرسته و غواړی . روس پوازنی طاقت دی چی د دوی سره تاریخی عداوت نلری او لازمه مرسته ورسره کولای سی . دوی اجباراً هغه ته مراجعه کوی . روس هم دا موقع غنیمت گڼی او هغو ته مرسته ورکوی . د مرستی سره یو ځای خپل فکر هم هغوی ته صادر وی . ځوانان ئی روسیې ته بیائی هلته ئی برین واش او د کمونزم په سفکوره سجهز کوی بیرته ئی خپلو وطنو ته استوی . هغوی په خپلو وطنو کی کمونست احزاب د روس د هدایت سره سم جوړوی . د هغو هیوادو حکومتونه هم د دی اړاره چی روس خفه نسی د خپلو کمونستانو مخ نه نیسی . کمونستان ورځ په ورځ د دولت په دستگاه کی مهم عسکری او ملکی پستونه او منصبونه تر لاسه کوی او په ولس کی هم د عدالت او مساوات د چیغو له لاری طرفداران پیدا کوی . څومره چی وخت پر دی احزابو تیریږی هغو مره حکومتونه پوازی د روس د خوښ ساتلو په خاطر دوی ته څه نه وائی (اقتصادی او سیاسی شریانونه ئی د روس په لاس کی وی) بلکه د احزابو څخه هم ویریږی دا ځکه احزاب دومره اوس قوی سوی وی چی حکومتونه مزاحمت پیښولای سی . چی څومره حکومتونه د صبر او حوصلی څخه کاراخلی هغو مره کمونستان ورته قوی کیږی . وضع داسی حال ته ورسیږی چی د دی هیوادو حکومتونه په خارج کی د

روس او په داخل کی د کمونستانو تر تاثیر لاندی راسی . یا به هغه څه کوی چی روس په خوشبیری یا به صحنه پریږدی . په دی ډول ورو ورو د دی هیوادو حکومتونه روس نواز کیږی څو بالاخره پخپله کمونست پارټی د مسلحانه کودتا په واسطه قدرت تر لاسه کوی دا ځکه هر څه ورته اماده وی . عسکری قوه ټول د روسی مشاورنیو او روسی تعلیمیافتګانو په لاس کی وی او په ملکی ساحه کی هم نفوذ لری . په دی ډول روسی حکومتونه قدم په قدم په دی هیوادو کی منځ ته راځی . که چیری د هغو هیوادو خلک د نوی کمونست حکومت مخالفت وکړ بیانو روسان د لکو فوج سره د خپلو ګودا ګیانو په مرسته ورځی او اولس سرکوبوی . ګاونډی هیوادونه هم د روس د ویری د هغه هیواد د خلکو سره مرسته نکوی او پریږدی چی خلک له منځه ولاړ شی . روس په لومړی سر کی کوښښ کوی چی بین المللی عکس العملونه خنثی او آرام وساتی او د نوموړی هیواد همسایګان په تهدید او تطمیع سره د نوی په جال کی لویدلی هیواد د مرستی څخه منع کړی . که چی په دی ډول ئی وضع آرامه ، داخلی مقاومتونه ئی شنډ او ځان ئی ټینګ کړ بیابل غیر متعهد هیواد ګوری چی عین معامله ورسره وکړی . پر افغانستان همداسی حالات راغلل . اوس هندوستان ، عراق سوریه لیبیا او الجزایر پر همدی لار روان دی .

افغانستان یو عنعنوی غیر متعهد هیواد او د عدم انسلاک د نهضت د موسسینو څخه دی . کله چی روسانو پر افغانستان مسلحانه حمله وکړه . بیطرفو ممالکو د تشتت او نه توان په وجه د افغانستان د خلکو سره هیڅ مرسته ونه کړای سوای . حتی د روس له ویرې ئې پر روس چی د دوی پر اقتصادی او سیاسی اوضاع مسلط دی ښکاره یو ساده انتقاد هم ونکړ . د ملګرو ملتو دموسسی د ۸۱ و ۱۹۸۰ عموسی اجلاس په غونډو کی چی کله د افغانستان پر مسئله بحث کیدی پخپله د همدی بیطرفو هیوادو له خوا دامی پیشنهاد وړاندی سو چی په هغه کی ئې مستقیما د افغانستان څخه د روس د وتلو درخواست نه کاوه بلکه ویل ئې چی د افغانستان څخه دی خارجی قواوی ووزی . که څه هم د دی جملی مطلب روس وو خو دومره ئې روس هم نسوای خفه کولای چی د ملګرو ملتو په ریکارد کی دی روس د یو متجاوز قوت په ډول ثبت سی .

د غیر متعهدو هیوادو داتشتت ، بزدلی ، د مسئولیت نه احساس او ارتجاعی موقف له یوی خوا او د غربی ممالکو له خوا د روس هجوم ته قاطعانه جواب نه ورکول به د دی سبب سی چی روس دی پر نورو غیر متعهدو هیوادو نور هم جرئت پیدا کړی او یو په بل پسی دی ونیسی . نور بیطرف هیوادونه به د افغانستان له حالاتو څخه عبرت واخلی . پسله دی به د عدم

انسلاک پر نهضت او غربی نړی اعتماد له منځه ولاړ شی . په دی صورت کی به د عدم انسلاک نهضت ورځ په ورځ کمزوره او بالاخره عملاً ختم شی او کوښښ به کیږی چی هر هیواد یو نظامی بلاک ته ځان منسوب کړی . تر دی به د عدم انسلاک نهضت ته نور د شرم او خجالت ځای چیری وی چی کیوبا غوندی د روس یو گوداگی رژیم ئی قیادت په غاړه لری . دا نهضت به څنگه بقا پیدا کړی چی ویتنام ، کیوبا سوریه ، لیبیا ، انگولا ، موزمبیق او جنوبی یمن غوندی د روس څنځیری گوداگی رژیمونه ئی مهم او فعال غړی وی. که چیری دا نهضت غواړی فعال او تقویه سی باید را ویښ سی خپل واقعی دښمن وپیژنی او د خپل یو غړی هیواد د استقلال ، ارضی تمامیت او حق خود ارادیت حمایت په قول او عمل دواړو کی په مضبوط ډول وکړی . غیر منسلک نهضت باید خپل تشخص او هویت وساتی تر څو غړی ئی په هغه افتخار وکړی او ورځ په ورځ تقویه سی .

## هغه گټی چی په افغانستان کی د روس له ماتیدو څخه نورو ته رسیږی

د روس د ستر هجوم په مقابل کی د افغانانو مردانه وار قیام او مقاومت حد اقل یو واقعیت نړیوالو ته ور وښود چی کیدای سی حتی یو وړوکی قوم په یوازی د ایمان په قوت د نړی لوی

ترین ، وحشی ترین او خونخوار ترین طاقت ته نه منونکی ضربات ورکړی . ای کاش د افغانانو او روسانو تر منځ د وسلی او جنګی ساز و سامان یو حد اقل نسبت موجود وای . ای کاش روسانو ته تازه دم فوج او وسایل و نه رسیدی او یا ای کاش افغانانو په ټول جهان کی یو هیواد هم (ولو کمزوره وی) په واقعی معنی په خپل طرف درلودای . هغه وخت به ټولی نړی لیدلی وای چه جنګ یعنی څه ؟ روس د لاوره او جنګیالی نه دی . روسان د مرګه سخت ویریږی . افغانان تر مرګ وروسته پر بیا ژوندی کید و ایمان لری ، د راتلونکی ژوند د سمیدو لپاره او سنی ژوند قربانوی نو ځکه د مرګ څخه نه ویریږی . خو د روس همدا دنیا ده چی چا دا دنیا ور ختمه کړه هر څه ئی ورختم کړل . روس په کمیت ډیر خو په کیفیت ډیر کم دی . د ده همدا ډیر نفر ډیر ټانکونه او سازو برګ دی چی خلک ویروی مګر کیفیت او موثریت ئی په نسبی صورت کم دی . افغانانو د روس سره په تاو ده جنګ کی په خپل مقاومت او ضرباتو سره د روس د سره لښکر هغه خیالی طلسم مات کړ چی ځانونه به ئی شکست ناپذیر بلل . افغانانو دنیا ته وښوول چی روس قابل چیلنج دی او د ایمان په زور یو وړوکی قوم هم د هغه مقابله په شاندار ډول کولای سی . بل افغانانو د شرق او غرب د هغو انترا پالوجستانو او جامعه

پيژند ونکو پر نظرياتو د بطلان غټه ليکه کش کړه کوم چي به ويل چي افغانستان د يو څو قومو مجموعه ده چي مرکزي حکومت سره را يو ځای او را ټينګ کړيدي . نن په داسي حال کي چي مرکزي حکومت هم نسته او مرکزي قيادت هم نسته دوی نه يوازي جلا او متشتت نسول بلکه ټول په يوه چيغه د خپل دين او وطن د دفاع لپاره د دښمن په مقابل کي جنګيږي . دا د غربي او شرق نړي فتنه انګيز ، بی دينه او ماده پرست ليکوالان وه چي يا ئی کوښښ کا وه چي د افغانستان ارتجاعی حکومتونه چي د دوی په ګټه وه پر افغانستان حاکم وساتي او خلکو ته ور وښئی چي دا همدا مشران دی چي د هيواد وحدت ئی قايم کړيدی که دوی نه وی مملکت به نه وی . يا ئی د خپلو لا ديني او ماده پرستی په وجه د افغانانو د ايمان او وطن دوستی جذبه نسوای اندازه کولای او يا ئی په عادی حالاتو کي د داسي معنوی معيارو اندازه‌ګيری نسوای کولای . خو ځينو واقع بين غربيانو خصوصاً انګليسانو چي په سرکي ئی د برتانيا خارجه وزير Lord Corrington وو چي د روسانو حمله ئی پر افغانستان وغندل او وی ويل چي روسانو افغانان سم ندی پيژندلی او د دوی د مقاومت توان ئی کم اندازه کړيدی . په هر صورت افغانان نن د روس سره په لوړو روحياتو جنګيږي که لږ مرسته ور سره وسي د روس ماته حتمی ده . په

افغانستان کی د روس د ماتیدو په صورت کی به ئړیوالو ته دا لاندی گټی ورسیږی :

۱- په پاکستان او هندوستان کی سیاسی استقرار او د دی دواړو هیوادو تر منځ د دوستی ټینګیدل . که چیری روس د افغانستان څخه ووزی په پاکستان او هندوداړو کی به د کمونستانو کمبله ټوله سی . نور به د داخلی اغتشاشاتو او قومی انتشار سوال مطرح نه وی نور به د دی دواړو هیوادو تر منځ داسی څرک نه وی چی د دوی د اختلاف اور ته پکی ووهی . دا دواړه هیوادونه به آزاد پریښودل سی چی یو د بله سره په سوله او صفاکی ژوند وکړی . نور به د پښتونستان په نامه مسئله د روسانو لپاره د شیدو غوا نه وی چی و ئی لوشی .

۲- په ایران او خلیج کی سیاسی ثبات . که چیری روس د افغانستان څخه ووزی ایران به د اوسنی کمونستی محاصری څخه خلاص سی . ایران اوس د روس او په عراق او افغانستان کی د روس د گوداگی رژیمونو ترمنځ واقع دی چی هیڅکله به ایران سیاسی ثبات ته پری نږدی . همیش به عراق او افغانستان ته د روس له خوا هدایت ورکول کیږی چی ایران ته مزاحمت پیښی کړی ایران به په داخل کی د کمونستانو له لاسه په تکلیف وی او په خارج کی به د شرق او غربی همسایگانو تر مسلسلو حملو او مزاحمتو لاندی وی تر څو خپل ثبات له لاسه ورکړی او د روس په لمن کی سقوط وکړی .

د ایران په سقوط سره به نه یوازی د ایران تیل او معدنی منابع د روس په لاس کی ولویږی بلکه د خلیج ټول عربی هیوادونه به د حتمی سقوط سره مخامخ سی دا ځکه شاو خوا به ئی ټول د روس په لاس کی وی (خلیج به د جنوبی یمن ، سوریې ، عراق ، ایران اوافغانستان په منځ کی راسی) اوس چی روس په افغانستان کی دی د خلیج څخه فقط ۳۰۰ میله فاصله لری چی کولای سی د تیلو ترافک چک کړی او غربی دنیا او د خلیج هیوادو ته هر وخت چی لازم وګڼی مزاحمت خلق کړي خو د ایران په سقوط سره به چی د افغانستان په تسلیمیدو سره ئی سقوط حتمی دی نه یوازی د ایران معدنی منابع د روس په لاس کی ولویږی او اقتصاد په ئی قوی سی بلکه د خلیج د تیلو ټول جریان به د ده تر مستقیم کنترول لاندی راسی . ډیر ژر به د خلیج عربی هیوادونه یو په بل پسی د روس د نفوذ په ساحه کی راسی . د کمونست یمن ، سوریه ، عراق ، ایران او افغانستان په منځ کی به د خلیج کمزوره هیوادونه نور خپل بقا ته ادامه ور نکړای سی او بالآخره به له منځه ځی . د غربی نړی او جاپان انکشاف به چی پر تیلو ولاړ دی هم سقوط وکړی .

که چیری روس د افغانستان څخه ووزی د ایران او خلیج ثبات تامین کیدای سی او هیڅ وخت به روس دا جرئت ونلری چی دی منطقی ته زړه ښه کړی . عراق ، سوریه او یمن به نور پر روسیه خپل اعتماد ورځ په ورځ

د لاسه ورکړی او ناچار به د خپلو ګاوندیانو سره د دوستی په لټه کی کیږی . په دی ډول به په ټول غربی ایشیا کی سوله او امنیت تامین سی . د منطقی خلک به ټول په خپلو هیوادو کی بسیا وی او د خپلو طبعی منابعو څخه به د خپلو خلکو په ګټه کارا خلی .

۳- چین د محاصری څخه خلاصیدل . د روس یو لوی هدف دا دی چی چین محاصره کړی او له پښوئی وغور څوی . که افغانستان د روس له منګلو څخه ووزی د چین د محاصری پلان بالکل له منځه ځی او چین په ډاډه زړه خپل حیات او پر مختګ ته ادامه ورکولای سی .

٤- ترکیه او غربی ایشیا مستقل پا ته کیدل . د روس د تاریخی اهدافو څخه یو د ترکیی نیول دی . روس به په هره وسیله کوښښ وکړی چی دا مملکت خپل کړی . تزاریانو همیش د ترکيي د نیولو فکر په سرکی ګرځاوه خو هغه وخت عثمانی ترک هم لوی طاقت وو . تر دوهم نړی وال جنګ وروسته ترکیه د غربی هیوادو سره په سینټو او نیټو کی شامله سوه او په دی ډول ئی خان د روس له حملی څخه وساتی . که افغانستان د روس په لاس کی ولویږی د ایران سقوط حتمی دی . د ایران په سقوط سره ترکیه د سوریی ، عراق ، ایران او روسیی په محاصره کی لویږی . دا به هغه وخت وی چی روس په بین المللی سطح کی ډیر قوی او د ترکیی په داخل کی به هم خپل

طرفداران واری چی حکومتونه کار ته پری نږدی او قدم پهقدم ئی ونږوی . د افغانستان په آزادیدو سره دا نقشه خنثی کیږی . نه یوازی د روس له سره د ترکیی د نیولو خیال ځی بلکه د روس هغه گوډ اگیان چی په ترکیه کی اوسی هم په رو حیاتی لحاظ محوه کیږی .

د غربی ایشیا په کمونست کیدو سره به بیایوازی لبنان ـ اردن او اسرائیل پاته وی چی روس ئی باید ونیسی . دا هیوادونه اوس هم د جنگ په اور کی سو ځی . روس به په لږ مصرف و کولای شی هغوی له منځه یو سی . دا ځکه په دغو هیوادو کی همدا اوس داسی ډلی موجودی او فعالی دی چی د روس لپاره کار کوی . د فلسطین د آزادی تنظیم د همدی گوډ اگیو ډلو په لاس کی دی . دوی د روس حمله پر افغانستان باندی په ښکاره ډول تائید کړه . دوی د افغانستان د مجاهد ولس هر ځای مخالفت کړیدی . په ټولو بین المللی مؤسسو کی ئی د افغان ولس پر خلاف او د روس په طرفداری را یه ورکړیده د افغانستان په آزادیدو سره به پردی شیطانی قوتو داسی روحی ضربی واردی شی چی بیا به فنج شړی وی او تاثیر به نلری .

٥ـ د نړیوال کمونزم نزول . لکه چی مارکس وائی چی سرمایداری نظام کـرار کرار د امپریالیزم خواته ځی همداسی کمونیزم کرار کرار د استحمار (اسیسم) خواته

ځی . لکه څنګه چی دوهم نړیوال جنګ د دی سبب شو چی د غربی نړی له منګلو څخه نور ډیر قومونه خلاص او مستعمرات دی هر ځای یو په بل پسی آزاد شی همداسی په افغانستان کی به د روس په ماته سره داسی قاطعه ضربه پر کمونیزم وارده شی چی ټول هغه قومونه چی اوس تر روسی استعمار او استحمار لاندی ژوند کوی یو په بل پسی آزاد او په انسانی ژوند به بریالی شی . دا شیطانی طاقت به نور په رحمانی جامه کی جلوه گر نشی . لکه څنګه چی په ویتنام کی د امریکا ماتی پر امریکایانو داسی منفی روحی اثر واچاوه چی تر او سه چیری د کمونستانو د مقابلی جرئت نشی پیدا کولای تر دی به په ځو ځو چنده په افغانستان کی د روس ماته پر روسانو بد اثر وغور ځوی . دا ځکه په ویتنام کی د امریکا په مقابل کی په حقیقت کی روس او چین جنګیدلی ګویا امریکا د روس او چین څخه هلته ماته وخوړه نه د ویتنام د قوم څخه په داسی حال کی چی په افغانستان کی به روس د افغان قوم څخه ماته خوری . دا ماته به د نړی په ټولو محکومو او استحمار شوی هیوادو کی دا جرئت پیدا کړی چی د روس په مقابل کی قیام وکړی . د روس له جنګ څخه د محکومو هیوادو آزادی دومره ګرانه نده . په غربی نړی کی قدرت تقسیم شویدی . امریکا ، کانادا ، برتانیا ، فرانسه ، جرمنی ټول قوی ممالک دی چی د یوه ماته او

شاته تګ د نورو د ماتی معنی نلری په داسی حال کی چی په شرقی بلاک کي ټول قدرت د روس په لاس کی دی که روس شکست خوری یا قاطعه ضربه پر واردیږی نور ټول ګوډ اګیان ئی د مرګ پر بستر لویږی او بیا د خو ځیدو نه دی .

د غربی نړی یو نقص دا دی چی د یوی موضوع په مورد کی واحد موقف نلری هر یو ځانته تصمیم نیسی او خپل ځانګړی منافع تعقیبوی. بل دا چی دوی هغه وخت یوی موضوع ته متوجه کیږی چی روس خپل کار کړی وی . که چیری غربی دنیا د روس په مقابل کی د افغانستان په مسئله کی سره متحد شی د روس وتل د افغانستان څخه حتمی دی . په دی صورت کی به نه یوازی ایشیا او ټوله آزاده نړی د ده له شره خلاصه شی بلکه خپله شرقی اروپا به هم کرار کرار د ده د کنترولە ووزی د روس د سره لښکر په مقابل کی د افغانستان د خلکو مردانه وار مقاومت دی چی د پولینډ کار ګران ئی د خپلو حقوقو احقاق ته وهڅول . افغانانو دومره وکړل چی د روسیی سره پوځ او لوی طاقت ته ئی چیلنج ورکړ . نور دا پوځ الا سطوره لا تقهر ندی پولینډ یان وینی چی افغانان څنګه د روس د دومره لوی طاقت او وسایلو په مقابل کی موفقانه جنګیږی نو څکه دوی هم روس ته اخطار ورکړ چی که پر پولینډ حمله وکړی دوی به هم مقابله وکړی. ممکن مقابله وکړی او یائی ونکړی خو حد اقل د دوی دا جرئت

مهم دی چی د افغانانو څخه ئې الهام اخیستی دی . روس هم د دی لپاره چی نور بی آبه نشی او په افغانستان کی ئې خپله بی آبی پټه کړی وی د صبر او حوصلی څخه کار اخلی . په افغانستان کی به د روس په شکست سره په ټوله شرق اروپا کی د آزادیخواهی فکر قیام وکړی . هر ځای به اور روس ته بل شی . د استعمار دا جال به داسی هر ځای سوری سوری شی چی بندی مرغیانی به له هری خوا ځینی والوزی او روس به لاس و پښه وی د کنټرول توان به ئې نلری او حیران به وی چی کومه مرغی ونیسی .

د شرق اروپا په آزادیدو سره به روس نور دفاعی قلعه نلری او پخپلو حدودو کی به محصور وی . د شرق اروپا پر خلکو د روس او سنی ظلمونه او د دوی د دارائی لوټول به د دی موجب شی چی همدا خلک به روس د هغه په خپلو حدود کی هم آرام پری نږدی بلکه د انتقام په احساس سره به هغه ته مزاحمت پیښوی . د روسیی په داخل کی به مسلمانان . گرجیان ارمینان او نور اقوام چی همدا اوس د خپلی آزادی په ارمان دی د روس د داخلی او بین المللی ضعف څخه استفاده وکړی او یو په بل پسی به خپله خپلواکی تر لاسه کړی . د روس قوم به موجود وی خو کمونستان به ئې پر سر باداری نه کوی بلکه خپل د خوښی حکومت به ئې وی .

په دی ډول به په افغانستان کی د روس په ماته سره د کمونیزم نړیوال نزول شروع شی څو بالآخره ټول بشریت

لدی مهلکی ناروغی (استحمار) څخه خلاص شي . نور به نظامي پکتونه په او سنې معنی نه وي او مصارف به ئې د هر مملکت او بشریت په گټه او عمران لگیږي .

نتیجه :

افغانستان د بین المللی از سویښت د مرکز په توگه :

هر څه فکر کوم چې افغانستان د یو داسې هیواد سره مقایسه او تشبیه کړم چې د تاریخ په اوږدو کې همداسې حالات پر راغلي وي خونه بریالی کیږم . دا ځکه د افغانستان مسئله ځانته یوه داسې مسئله ده چې مستقله باید وځیړل شي . نن د دو وداسې قوتو (روس او افغانستان) تر منځ جنگ دی چې لاندی خصوصیات لري .

— یو خوا ته ډیر عظیم نړیوال طاقت ـ بل خوا ته ډیر ووړ او هیر سوی قوم ؛

— یو په عصری ترینه نظامي وسله مجهز بل د ساده ټوپک څښتن ؛

— یو ډیر منظم او مضبوط حکومت ـ بل بی سره او بی حکومته پرگنه ؛

— یو خوا ته غاصب او وحشي اقتدار ـ بل خوا ته په خپل وطن بسیا خلک ؛

— یو خوا ته یو سکمل پلاک هیوادونه ـ بل خوا ته یوازې پری ایښی یو ملت؛

— یو خوا ته تقریباً ټول کمونستی نړی ـ بل خوا ته یوازې بې ملاتړه مسلمان وطن ؛

- یو خوا ته داسی هیواد چی له ویری ئی ښکاره تجاوز څوک نسی غندلای . بل خوا داسی اولس چی د حق آواز ئی د دښمن له ویری څوک نه اوری ؛

- یو خوا ته داسی طاقت چی لوټمار او قتل عام ئی ممیزه ده - بل خوا ته داسی مظلوم خلک چی د تسلی څوک نلری .

- یو خوا ته داسی ایدیالوجی چی اصول ئی پر دایمی جنګ بنأدی بل خواته داسی دین چی نوم ئی سوله او تسلیم دی ؛

- یو خوا ته سور بیرغ لیدل کیږی چی د وینوتوبولو او بربریت سمبول دی بل خوا ته شین بیرغ رپیږی چی د سولی او سلم شعار دی .

اما د دی ټولو سره سره :

- یو خوا ته کوچنی ولی با ایمانه قوم - بل خوا ته لوی ولی ملحد حکومت ؛

- یو خوا ته پر بیا ژوندی کیدو مومن اولس - بل خوا ته فقط پر او سنی ژوند معتقد طاقت

- یو خوا ته د مرګ او شهادت په آرزو خلک - بل خوا ته د مرګ څخه تښتیدونکی فوج ؛

- یو خوا ته پر خپله فتح متیقین ملت - بل خوا ته پر خپل بری مشکوک قوت .

د دی ټولو پورتینو خصوصیاتو د په نظر کی نیولو سره بیا هم موږ کولای شو د روس او افغانانو جنګ د ویتنام له جنګ سره په لاندي ډول مقایسه کړو .

(الف) موافق ار خونه :

۱- په ویتنام کی د دوونړ یوالو نظریاتو (ایدیاجیالو) جنګ و چی یو خواته سرمایداری بل خواته کمونیزم وو . په افغانستان کی هم د دوونړ یوالونظریو جنګ دی چی یوئی کمونیزم او بل اسلام دی .

۲- په ویتنام کی د جنګ په وخت کی یو ګوداګی حکومت وو . په افغانستان کی هم اوس یو ګوداګی رژیم حکومت کوی .

۳- د ویتنام په جنګ کی د امریکایانو ماته پر امریکانو دومره منفی روحی اثر و غور خاوه چی بیائی تراوسه د روس د هیڅ جارحانه تجاوز په مقابل کی د یو کوچنی عکس العمل جرئت هم پیدا نکړ. که څه هم د افغانستان جنګ تراوسه دوام لری خود روس پر روحیانو ئی همدا اوس دومره منفی اثر غور څولی دی چی په سترګووینی چی په پولینډ کی کمونیزم ته سخته خطره ده خود ویری حمله نسی پر ګولای. که دافغانستان جنګ نه وای روس به د پولینډ سره همداسی معامله کړی وای لکه د چکوسلواکیا سره چی ئی په ۱۹٦۸ کی وکړه. په افغانستان کی د روس په شکست سره به د روسانو روحیات تر امریکایانو ډیر ضعیف شی او بیا به هیچری خپل عسکر ونه لیږی او جنګ ته به زړه ښه نکړی .

(ب) مخالف ارخونه :

۱- په جنوبی ویتنام کی یوازی کمونستان د امریکا سره نه جنګیدل بلکه د شمالی ویتنام فوج هلته جنګ کاوه او په هره مذاکره کی

هم شمالی ویتنام د امریکا سوه خبری کولی . یعنی د جنوبی ویتنام خلکو حتی کمونستانو مستقل هویت نه درلود بلکه دا شمالی ویتنام وو چی جنوبی ویتنام ئی د ځان لپاره گاڼه . په افغانستان کی افغان ولس د روسیی په مقابل کی جنگیږی نه گواښیان ئی . کواگی هلته جنگ د جنوبی ویتنام د گاونډی (شمالی ویتنام) او امریکا تر منځ وو په داسی حال کی چی په افغانستان کی جنگ فقط دافغانانو او روس ترمنځ دی نه د چین و روس یا پاکستان و روس او یا ایران و روس .

۲- په جنوبی ویتنام کی جنگ ویتنامی ولس نه کاوه بلکه یو محدود گروپ کمونستان د شمالی ویتنام تر قوماندی لاندی د هغه د لوی او منظم پوځ سره یوځای جنگیدل . هغوی ویتنامی ولس په داسی شرایطو کی رابنکیل کړی وو چی د دوی مخالفت ئی نسوای کولای . په داسی حال کی چی په افغانستان کی د ولس قاطع اکثریت د روس په مقابل کی جنگیږی فقط یو څو زر خریده کمونستان دی چی د خپلو بادارانو د یو لک پوځ په زور پر کرسیوناست دی دوی تر ښارو بهر له ویری نسی وتلای. د کوره څخه تر دفتر پوری او حتی پخپلو دفترو کی د اولس له ویری پر ارامه ندی ناست اودکار د میز پر سر ئی تمانچی او ماشیندار ورته ایښی دی ؛ لویان خوپریږده چی کوچنی مامورین ئی هم د ځانو سره باډی گارډ او اسلحه گرځوی دا پخپله د دوی او د اولس د قاطع اکثریت ترمنځ دښمنی ښئیی .

۳- د ویتنام په جنگ کی د امریکا سره نورو غربی الهیوالا نو مرسته نه کول بلکه مخالفت ئی ورسره کاوه پداسی حال کی چی په

افغانستان کی د روس سره د هغه ټول ملګری مرسته کوی د کیوبا ـ شرقی المان او جنوبی یمن عسکر همدا اوس د افغانانو په مقابل کی د روس سره اوږه په اوږه جنګیږی .

٤ـ په ویتنام کی امریکا په حقیقت کی د شمالی ویتنام ـ چین روس او ټول کمونستی نړی سره جنګیده په داسی حال کی چی په افغانستان کی روس یوازی د یو اولس سره جنګیږی . اسلامی نړی چی باید د افغانانو مره ئی پدی سخته تاریخی سرحله کی مرسته کړی وای د مرګ په در نه خوب ویده ده ، غربی دنیا د خپل اخلاقی ضعف او وېری په وجه مسئولیت نه احساسوی .

٥ـ هلته منظم حکومتونه جنګیدل مګر په افغانستان کی د ډیرومنظمو حکومتو او یو بلاک هیواد و جنګ د یو عام ولس سره دی .

٦ـ هلته دواړو خوا وو عصری او ثقیله اسلحه درلوده او په جنګ کی ئی استعمالول په داسی حال کی چی په افغانستان کی روس هر څه لری خو افغانان تقریباً هیڅ نلری او په هغه اسلحه د دښمن سره جنګیږی چی د هغو څخه ئی په جنګ کی نیسی .

٧ـ په ویتنام کی د جنګ فتح او کریدت د جنوبی ویتنام ولس ته ته ونه رسید داځکه هغه نه وو جنګیدلی بلکه شمالی ویتنام ته ورسید دا ځکه هغه جنګ کاوه . په داسی حال کی چی د روس سره د جهاد افتخار یوازی د افغانستان په اولس پوری اړه لری او بس . هلته فاتح شمالی ویتنام او الهی یو الان ئی سول نه د جنوبی ویتنام اولس په داسی حال کی چی په افغانستان کی د هر څه افتخارات یوازی او یوازی په افغان ولس پوری اړه لری .

٨ـ د ویتنام په جنګ کی ټولی نړی (غربی دنیا ـ مسلمانان او غیر

متعهدو هیوادونو) د شمالی ویتنام مرسته کول ، په جرایدو اخبارو او سیاسی مخافلو کی هر ځای د امریکا په خلاف د شمالی ویتنام حمایت کیدی په داسی حال کی چی د روس او افغانانو د جنګ په باره کی نړی هیڅ مسئولیت نه احساسوی .

۹- جنوبی ویتنام ځان ته جلا مملکت او حکومت درلود او شمالی ویتنام ځانته جلا مملکت او بیل حکومت ئی وؤ . شمالی ویتنام په هیڅ ډول د جنوبی ویتنام د خلکو قانونی نماینده نه وو چی د هغو لپاره جنګیدی په داسی حال کی چی افغان اولس د خپلی خاوری واقعی ممثل دی .

۱۰- شمالی ویتنام په جنوبی ویتنام کی ددی لپاره جنګیدی چی جنوبی ویتنام ونیسی او د خپلی خاوری سره ئی وتړی (همداسی و شوه) په داسی حال کی چه افغانان د ځان لپاره جنګیږی او د ځان سره د چاد خاوری دتړلو لپاره جهاد نه کوی .

۱۱- شمالی ویتنام پر جنوبی ویتنام باندی د خپلی ارادی د تحمیل لپاره جنګیدلی په داسی حال کی چی افغانان صرف د خپلی ارادی د تمثیل او تحقق لپاره جنګیږی او پخپله پلرنی خاوره کی د خپل ځان لپاره د خپلی خوښی حکومت او ژوند کول غواړی .

پدی ډول افغانان هغه قهر مانان دی چی ویتنامیان برابری نشی ور سره کولای او که څوک دارنګه کوښښ کوی هغه د افغانانو په حق کی د ظلم مرتکب شوی او ویتنامیانو ته به ئی بی ځایه او بی مورده کریدت او کاذب افتخار ور بخښلی وی .

د روس په ماته سره به دټول کمونستی نړی روحیات ضعیف شی نور به ئی تهاجمی موقف په دفاعی موقف بدل شی . دغه

دفاعي موقف به د خارجي فشار او داخلي نا رضايتو په وجه ورځ په ورځ نورهم کمزوره شي . لکه غربي نړی چي تر دوهم جهاني جنګ و روسته د خپلو مستعمراتو په آزادولو مجبوره شوه همداسي مرحله به پر روس باندی په افغانستان کی د هغه د ماتي څخه و روسته راشي . او که دوی په افغانستان کی کامیاب شي بيا به د روسيي تهاجمي روحيه نوره هم قوی شي او خپل بين المللی پلان به چي د ټول جهان نيول دي قدم په قدم په ډاډه زړه تعقيب کړی . لمړی به ګاونډی او د دريمی نړی هيوادونه يو په بل پسي ونيسي . بيا به غير متعهد نهضت نور وجود و نلري او که وي هم ټول به کرار کرار د روس ګوډاګيان وی لکه کيوبا انګولا - موزمبيق - حبشه - جنوبي يمن . . . او نور .

د ويتنام د جنګ څخه و روسته پر امريکايانو باندی د نړيوالو اعتماد او باور ډير کم شو علت ئی هم د امريکا پسيف سياست او د امريکايانو پر روحياتو د نوموړی جنګ منفي روحي اثر دی . مګر امريکا خصوصاً رونالد ريګن چي يو تجربه کار سياست دان دی بايد کوښښ وکړی چي په نړيوالوکی د امريکا په نسبت اعتماد بيرته را پيدا کړی . د ده لومړی قدم د افغانستان د مسئلی څخه په ښه ډول ګټه اخيستل کيدای شي چي بايد په هره ممکنه وسيله کوښښ وکړی چي روس ژر تر ژره له افغانستان څخه ووزی که نه داماته به د دريمی نړی دهيوادوپر روحياتو همداسي منفي اثر وغور ځوی لکه د ويتنام جنګ چي پر امريکايانو وغورځاوه . بيا به دريمه نړی د روس په جال کی داسي را ګيروی چي هم به پخپله پښي ولاس وهی اوهم به غربي دنيا هر راز قربانئ ته حاضروی خو ګټه به نکوی .

اسلامی نړی باید خپل صفوف منظم او متحد کړی که نه ورکیږی . د افغانستان په آزادولوکی د اسلامی نړی بقا او دهغه په محکومیت کی د ټولو زوال دی . دا موضوع باید د جهان مسلمانان خصوصاً عربی دنیا سطحی او سرسری ونه گڼی که نه د خپل دغه سهل انگاری په مقابل کی به جبران نه منونکی تاوان تحویل کړی . د افغانستان اولس د عربو څخه اوس څه گیله من دی او وائی چی عرب قومیت کوی داځکه دوی د فلسطین د آزادی د موسسی سره هر راز مرسته کوی د کوم چا قیادت چی د روس د گوډا گیانو په لاس کی دی او عانی دیو غیر اسلامی نظام لپاره کارکوی او د افغانستان دخلکو سره لازمه مرسته نکوی کوم چی د اسلام د بقا لپاره د کمونیزم په مقابل کی جنگیږی . تر دی به د اسلامی هیوادو د ایمان ضعف چیری وی چی روسان او د دوی سفیران ټول یوځای د کابل په اسلامی خاوره کی او سیږی حد اقل دوی دومره هم ونکړل چی خپل سفارتونه په کابل کی وتړی او د کابل د روسی رژیم سفیران د خپلو هیوادو څخه وباسی . تردی به د شرم ځای چیری وی چی اوس هم اسلامی هیوادونه د کابل د حکومت نماینده ته د یو اسلامی حکومت د نماینده په حیثیت په ځینو مجالسو کی بلنه ورکوی .

غربی دنیا ته هم په داسی یو وخت کی چی شوروی هر طرف ته خپل توسعوی او تهاجمی پلانونه مخ ته بیائی د یو واحد موقف د اختیار ولو سخت ضرورت دی . دوی همیش په منځو کی د یوی موضوع پر سر اختلاف لری (امریکا ـ فرانسه ـ انگلیس او چرمنی اکثراء هر یو ځانته بیل سیاستونه تعقیبوی) روسیه

د غربي دنیا د دغه ضعف څخه همیش بده استفاده کوی او یو مملکت په بل پسی نیسی که د غرب دغه غیر مسئول او غیر فعال سیاست دوام وکړی د روس چاره به د غرب هله او ښارگ ته هم ورسیږی. دوی باید پری نږدی چی غیر متعهد هیوادونه د شوروی له خوا و نیول شی. پر روسیه باندی د غربي نړی اقتصادی او تخنیکی تحریمونه باید نورهم ډیر شی او ځینی ځایونه په کلکه ورته دریدل او مقابله په کار ده. غربي دنیا نباید دخوشی وهمی خطر له ویری پخپله ځان اور ته واچوی.

غیر متعهد نهضت که واقعاً خپل نهضت ته احترام لری باید د افغانستان حمایه وکړی او پری نږدی چی هر څوک هره لوبه چی زړه ئی غواړی په دوی وکړی که چیری دا نهضت د خپل موجودیت څخه دفاع ونکړی ژر به منفجر او ړنگ شی. افغانستان د غیر متعهد نهضت د موسسینو څخه دی که چیری دا نهضت د افغانستان بی طرف موقف او حیثیت اعاده نکړی نو اصلاً په دامی تنظیم کی نور د هیوادو او سیدل ضرورندی. هغوی باید د همدا اوس څخه یو بلاک ته ځان منسوب کړی چی خپل موجودیت وساتی.

د افغانستان د آزاد ولو او د آزادی د ساتلو لپاره څلور عناصر باید په کلکه په نظر کی و نیول شی چی که یوئی نه وی نور ئی کار نسی ورکولای.

۱- اتحاد
۲- خپلواکی
۳- عدم انسلاک
٤- انکشاف او پرمختگ

د افغان مجاهدینو صفوف باید له هری لاری چی وی ژر تر ژره توحیدشی . ذیعلاقه اړخونه باید په دی مورد کی د خپل نفوذ څخه کار واخلی . د مجاهدینو د رهبری په صف کی د روس د (کے جی بی) غیر مرئی لاس سخت فعال دی چی دوی نه پریږدی چی یو د بله په ژبه سره پوه او مشترک دښمن ته سره متحد سی . دوی ئی په مختلفو نومونو سره بیل کړیدی او د هر یوه په سرکی ئی رنګا رنګ بڼکی ورایښی دی .

ایران او پاکستان باید د افغانستان په مورد کی خپل موقفونه واضح کړی . دوی باید پری نږدی چی د افغانستان د مهاجرینو او مجاهدینو پر سر تجارت وشی . اوس داسی فکر په خلکو کی پیدادی چی د پاکستان او ایران ځینی حکومتی مقامات د افغانانو په مینځ کی بی اتفاقی نوره هم ډیره وی چی او به خړی شي او خپل ماهیان پکښی ونیسی . د پاکستان د حکومت خصوصاً د صدر ضیاء الحق صاحب رول د یو مسلمان مجاهد ورور په صفت دلته قاطع دی چی باید کوښښ وکړی چی مجاهدین متحد او مرسته ورسره وشی .

د پاکستان او ایران حکومتونه د مجاهدینو سره د دی ویری لازمه مرسته نکوی چی روس خفه نسی او پر دوی ور حمله نکړی . دوی په دی نه پوهیږی چی روس تر خپل مطلب پوری آشنای نه پیژنی . هغه ظاهر شاه داؤد ـ تره‌کی او حفیظ الله امین غوندی ملګری چی په مراتبو تر خمینی او ضیاء الحق ور لږدی وه له منځه یو وړل . هر وخت چی وی روس به پاکستان

او ایران نیسی نو لازمه ده چې دا دوه هیوادو نه همدا اوس خپل موقف تثبیت کړی د نفاق په سیاست څه نه کیږی .

هندوستان باید د روس له حمایت څخه ژر تر ژره لاس واخلی او نور د افغانانو سره بی مورده دښمنی و نه پالی . نور د افغانانو پر زخمو مالګی و نه دوړوی او هغه دښمنی چې د هندوستان داوسنی غلط سیاست نتیجه ده خپل او د افغانانو اینده نسلوته په میراث پری نږدی . هندوستان باید پوه شی چې روس به د افغانستان او پاکستان په نیولو اکتفا ونکړی د روس اصلی او تاریخی ارزو د هندوستان نیول دی . روسانو اند یرا ګاندی د خپل ځان او هندوستان په منځ کی پل کړیده چې پر هغی باندی هند ته تیرسی (لکه په افغانستان کی چې داوُد خان وو) .

هم غرب اوهم روس دواړه دا فکر کوی چې په افغانستان کی د روسانو او افغانانو د جنګ دوام د دوی په ګټه دی . د غربیانو استدلال دادی چې روس په افغانستان کی د اوږده جنګ توان نلری او په اقتصادی لحاظ به شکست خوری . دغه ماته به له یوی خوا روس په عقب نشینی مجبور کړی او له بلی خوا به ورځ به ورځ په بین المللی سطح کی رسوا او بدنام سی . غربیان غواړی چې افغانستان د روس لپاره داسی کړی لکه ویتنام چې دامریکا لپاره وو او په اوږده موده کی داسی ماته روس ته ورکړی چې بیاد توسعه طلبی فکر ئی مغز ته لار پیدا نکړی او یا حداقل تر یو څه وخته دلته مصروف وی چې دوی په سیمه کی خپل نظامی حضور پیاوړی کړی . خو روسان بیا ددی جنګ په اوږدیدو څکه خوښ دی چې :

۱- افغانان غریب خلک دی که کلونه کلونه دا سخت مالی او جانی جنګ په اوسنی شکل چی د نوری دنیا لازمه مرسته ور سره نسته تحمیل سی کرار کرار به مقاومت دلاسه ورکړی .

۲- غربی نړی د افغانستان په مورد کی جدی نده او د وخت په تیریدو سره به دوی د افغانستان موضوع قبول سوی تلقی کړی .

۳- اسلامی نړی دومره بی تفاوته ده چی هیڅکله به د افغانستان د خلکوسره اوږه په اوږه ونه دریږی .

٤- په منطقه کی داسی سیاسی بدلون روس پیش بینی کوی چی د هغه په ګټه دی نوځکه غواړی په افغانستان کی پښی ټینګی کړی .

(الف) د ایران اوسنی وضع روس امید واره کړیدی چی هلته د ده په ګټه سیاسی تغیر راسی . دا ځکه کمونستان هلته سخت فعال دی . او که کوم کلی تغیر هم رانسی د اوسنی وضع دوام هم د روس د رضائیت موجب دی .

(ب) د روس ډیر فشار اوس پر پاکستان دی چی باید سیاسی تغیر پکښې راولی . هر څومره چی په افغانستان کی جنګ اوږ دیږی هغو مره په پاکستان کی د نظامی حکومت دوام حتمی او حیاتی کار دی ترڅو د روس د خطر په مقابل کی دایماً بیدار وی . دغه بیدار پا ته کیدل ځان قوی کول ایجابوی چی باید د مملکت یوه زیاته برخه بودجه پر دفاعی چارو ولګیږی او عمرانی چاری په دوهمه درجه کی واقع سی . که کلونه کلونه دغه وضع دوام وکړی د پاکستان عوام د افغانستان

د جنگ سره عادی او د حمایت څخه ئې ستومانه کیږی او پر حکومت فشارا چوی چی باید دفاعی لګښتونه کم کړی ، خو نظامی حکومت چی د خطر احساس کوی د خلکو دغه غوښتنې ته مثبت جواب نسی ور کولای . دغه وخت دی چی د افغانستان او هندوستان د حکومتونو په تحریک د پاکستان د حکومت پر ضد دوه قسمه بغاوت منځ ته راځی . یو نظامی بغاوت او بل د هندوستان پر طرز د یو سکیولر نظام لپاره دا حیای دیموکراسی په نامه د نا خود ا ګاه اولس پورته کیدل . چی دا دواړه حالاته د افغانستان د مسئلی او د پاکستان د بقا لپاره مضر ولی بالعکس د روس لپاره مفید دی . همدا اوس روس د داسی یوی ورځی لپاره په صوبه سرحد او خصوصاً بلوچستان کی خپلوګوډا ګیانوکمونستانوته مرسته رسوی او د الذوالفقار په نامه تروریستی بانډ په کابل کی تربیه کوی چی یوه ورځ عملی ګټه ځینی واخلی .

زما په تحلیل د افغانستان د جهاد اوږدیدل یوازی د روس په ګټه دی او بس . نړی باید له یوی خوا د افغان مجاهدینو سره ژر لازمه مرسته وکړی او له بلی خوا په بین المللی سطح اعظمی فشار واچوی چی روس ژر تر ژره له افغانستان څخه ووزی څو د منطقی هیوادونه آزادانه فرصت پیدا کړی چی د خپلو خلکو د هوسائی او پرمختګ لپاره کار وکړی . والسلام علی من التبع الحق .

غ ـ ف اعظم

یونیورسټی ټاون ـ پشاور

۱-۱ - ۱۳۶۰ هـ ش . مارچ ۲۱ - ۱۹۸۱

# فهرست


| فصل | موضوع | مخ |
| --- | --- | --- |
| لومړی | سوابق | ۱-۸ |
| | افغانستان د نورو تر تسلط لاندی | ۱ |
| | د افغانانو تسلط پر نورو باندی | ۵ |
| دوهم | د افغانستان او روس مناسبات دمخه تر ۱۹۱۷ | ۸-۲۲ |
| دریم | د افغانستان او روس مناسبات ۱۹۱۷-۱۹۴۵ | ۲۳-۵۷ |
| څلرم | د افغانستان او روس مناسبات ۱۹۴۵-۱۹۸۰ | ۵۸-۱۴۹ |
| پنځم | راتلونکی: یو درس او از مویښت تولو ته | ۱۵۰-۱۹۶ |
| | ۱- هغه تاوانونه چی په افغانستان کی د روس له کامیابیدو څخه نورو ته رسیږی | ۱۵۰-۱۷۴ |
| | اول - شاوخوا سیموته | |
| | (الف) د روس له خوا د پاکستان او هندوستان نیول | ۱۵۰ |
| | (ب) د چین محاط کیدل | ۱۵۷ |
| | (ج) د ایران نیول | ۱۵۸ |
| | (د) د خلیج نیول | ۱۶۱ |

دوهم ـ د غربي ایشیا سقوط ۱۶۲

دریم ـ د روس دښمني د اسلام او نورو ادیانو سره ۱۶۳

څلورم ـ و لویدیځې نړۍ ته تاوانونه ۱۶۶

پنځم ـ د عدم انسلاک نهضت ته عظیم خطر ۱۶۹

۲ـ هغه گټې چې په افغانستان کې د روس
له ما تیدو څخه نورو ته رسیږي ۱۷۴-۱۸٤

اول ـ په پاکستان او هندوستان کې سیاسي استوار ۱۷۷

دوهم ـ په ایران او خلیج کې سیاسي ثبات ۱۷۷

دریم ـ چین له روسي محاصرې څخه خلاصیدل ۱۷۹

څلرم ـ ترکیه او غربي ایشیا مستقل پاته کیدل ۱۷۹

پنځم ـ د نړیوال کمونزم نزول ۱۸۱

نتیجه ۱۸٤

## که غوړای پوه شی چی :

- افغانستان څنګه او ولی د روس په لاس کی ولوید ؟
- د پاکستان آینده به څه وی ؟
- د هندوستان سره به روس څه وکړی ؟
- د روس له خوا د چین محاصره او سقوط .
- د روس په لمن کی د ایشیا جنوب شرق او لیری ختیځ لویدل
- د ایران سقوط .
- د روس د بین المللی څنځیر په لړکی،د خلیج د عربی هیوادو را ګیریدل .
- د خلیج د تیلو پر ذخایرو د روس تسلط
- د ترکیی محاصره
- د اسرائیل ، لبنان او اردن ختمیدل
- د روس له خوا د ناتو (NATO) ترون ته عظیم خطر
- ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ تو دا کتاب ولولی